# کډه په سر

سیّد خالقداد امیدؔ ایم۔اے

Scanned with CamScanner

221

# کډه په سر

مصنف

سید خالق داد امید

TALEEMI IDARA

یونیورسٹی بک ایجنسی
خیبر بازار پشاور

# تړون

د خپل کران مشر

محمود احمد لودهي

اکاونټنټ جنرل صوبه سرحد

په نوم

چه د پښتو ژبې سره بې کچه مینه

# فهرست


۱- پیژندګلو ———— ۵

۲- د اُمید فن ———— ۱۳

۳- د یو فنکار په نظر کښې ———— ۱۷

۴- زۀ او حُماد راغے ———— ۲۰

پکه پیژدن ———— ۲۳

۶- انټرویو ———— ۴۸

۷- لاعلاج ———— ۶۷

۸- کدو لا په سر ———— ۱۰۰

۹- فالی بابا ———— ۱۳۶

۱۰- حادثه ———— ۱۵۹


Scanned with CamScanner

(جملہ حقوق محفوظ دی)

رومبے ځل ______ سنہ ۱۹ ء

تعداد ______ یوزر

______

پرنٹر ______ حمیدیہ الیکٹرک پریس

کتابت ______ شمس العارفین عارف

قیمت

آنہ روپے

د انستو درکے

یونیورسٹی بک ایجنسی خیبر بازار۔ پیښور

Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

# پیژندګلو

د ملاکنډ کښې دې بوګلې داسې کلې هر چرې خوندور
دے آباد د غره لمن کښې د غرغرېې لمه مودې خوندور
آدم خان خوندے ئے ځار څپه ځوانی کړه
څه نیپوس د چانه وکړې دا امید د باز درخو ور دے

د مودے د غر او د باز درے کلی نومونه د پښتو ادب
ښکلنو د پاره یقیناً څه نوی نومونه نه وی. د آدم خان او
... ښکلې د پیښلې ښکلې قیصه به چانه وی لوستې. او دا خبره
به چانه نه وی معلومه، چه آدم درخو دواړه د مودے د
غره په لمن کښې د آبادو کلو باز درو استوګن وو.
قدرت غرونو ته هسې هم یو ښکلا ورکړې وی
کله ورته پاس په سر د درنا دې ښکې کیږی دی او د ښنو
ښنو ونو رنګینه جامې ور وا غوندې وی، او کله د اوبو د
آبشارونو او د نورو زړه راښکونکو ننداره په ښکلا ئې ونغاړی
او کله کله د غرونو په لمنو کښې داسې بنیادم پیدا کړی
چه زمانه د هغوی کارنامې تل یاد ساتی. د ښسې یو غر، چه
فطرت په ډیرو ننداره نماځلې دے، د مودے غر هم

دے. د دغه ورورے غر په لمن کښے دوه کلی دی، کوزه بازدره
او بره بازدره. د مورے د غر او د بازدرو په صفت کښے
د ممدوح خوشحال دا سنائیته به د لته بے ځایه نه وی. چه:

پکښے ونے، ښه جویونه | په هرخوا ښکلی کلونه
که بهار دی که خزان وی | په دوئ تل بهارستان وی
که یخنی دی که ګرمی وی | په هوا کښے ئے نرمی وی
نه سردی پکښے شدت کا | نه ئے اوړے حرارت کا

او د مورے د غر د سنائینے نه پس دے بازدرو ته جنت دائی.

پکښے بنے جونه طنازے | پیدا کیږی لکه بازے
چه چشمانے ئے ګردش کا | زړونه ښکار په یو پرش کا
بازدرے ځکه نومیږی | چه ترے بازے پیدا کیږی
بلکه خورے په کښے جونه | بازدرے دی جنتونه

هم په دغه بازدرو کښے بازدره پایان یا کوزه بازدرے ته په
دے بره شعرونو کښے اشاره شوی ده.

څه نیوس د چا نه وکړئ
دا امید د بازدرے خونه دو

دا د خالق لا یزالی ډیر لوئے داد دے چه د پښتو ادب
یو ذلے ادیب او شاعر، افسانه نګار او ډرامه نګار خالقداد
امید ئے د مورے د غر په لمن کښے د کوزه بازدرے په
یوه درنه سیده کورنئ کښے پیدا کړو. خالقداد د دے
کتاب مصنف دے. امید تخلص ئے ځان ته خوښ کړے



دے. او پښتو ادب ترے نه په ځائے دا امید لری چه اُمید
صاحب به د خپلو خداے ورکړی صلاحیتونو نه کار واخلی
او د پښتو ادب خولئ ته به ورکړه کوی.

د خالق داد امید نوم هم، لکه د خپل کلی د نوم، د پښتو
ادب د مینونکو د پاره څه نوے نه دے. او نه امید د څه
چپورے پیژندګلو محتاج دے. پښتو ادب کښے د یو ښه
ادیب او شاعر په حیثیت ئے هرڅوک پیژنی. د نثری ادب
په میدان کښے د ده فطری رجحان انسانے او ډرامے
طرف ته دے. د ادب دا دواړه صنفونه په موجوده
دور کښے داسے صنفونه ګڼړلے شی چه د دنیا د یوے
ژبے ادب هم د دے اصنافو د وجود نه بغیر د ترقی
دعوی نشی کولے.

سید خالق داد امید صاحب په کال نولس سوه پنځه دیرشم
کښے زیږیدلے وو. د تعلیم نه چه فارغ شو نو د معاش په
تلاش کښے پیښور ته راغے او په هغه دفتر کښے نوکر شو
چه تعلق ئے د ټولو سرکاری ملازمانو د حساب کتاب سره
دے. یعنی اے جی آفس.

خو دا یوه ډیره عجیبه خبره ده چه د حساب کتاب ساتلو
دغه دفتر نه چه کوم خلق تعمت بوځی او هغوی د خپلے
مورنئ ژبے پښتو سره څه لږه ډیره مینه هم لری.
نو یو نه یو ورځ هغه په ادبی دنیا کښے ځانته یو اوچت

مقام پیدا کړی. داسې مثالونه خو بې شمېره دي چه د حساب
کتاب د دغه دفترونه چه کوم خلق ادبي یا تعلیمي دنیا
ته راوتي دي. لو تن ئې خلق یاد دي. ولې زه به د لته
صرف یو نوم واخلم. او هغه زما ګران او قدرمن ورور او دوست
ښاغلی حبیب الرحمٰن قلندر مومند دے. دا نوم ما ځکه واخستو
چه هغه نن د پښتو ادب د دنیا یو داسې ځلنده ستورے دے
چه پښتو افسانه به پرے تل فخر کوی.

داسې معلومیږی چه خالق داد اُمید د ابتدا نه د ډرامے
د فن سره څه ذهنی مناسبت لرلو. دغه وجه ده چه په
شروع شروع کښې د ده نوم د پېښور ریډیو د ډرامو
د یو صداکار په حیثیت ډیر مشهور وو. مونږ ته دے
نه دی ښو خبر چه د دغه صداکار د ننه څنګه د ډرامو یو
ښه لیکونکے فنکار هم پټ دے.

هر یو بنیادم ته الله تعالیٰ څه نا څه صلاحیت ښښلے وی
او په ځنګه بنیادمو کښې خو قدرت ډیر او مختلف صلاحیتونه
پټ کیښی وی. چه هغه په خپل خپل وخت د رو د ښکاره کیږی
په دغه صلاحیتونو کښې د بل د نقل کولو یعنی د ایکټینګ
صلاحیت هم ځان ته یو صلاحیت دو ښه ګران کار دے
ولے قدرت زمونږ دغه ذلے ادیب او ذلے اداکار په
دے دواړو صلاحیتونو نمانځلے دے.

د ریډیو د صداکارئ نه علاوه چه کله ټیلی ویژن



سټوډیو پېښور ته راغلو نو مونږ امید صاحب د ټي وي د یو ښه
اداکار په حیثیت هم په ډیرو ډرامو کښې ولیدو. او خفه خبره
دا ده چه ده په ځنګه ډرامو کښې داسې اداکاری کړی ده.
چه د پېښور ټي وي سټیشن پرے تل فخر کولے شی.

د آواز یا د حرکاتو سکناتو په ذریعه د بل نقل کول
ځان ته یو فن دے. او ډرامه لیکل ګرانه. خو زمونږ
دا ذلے ادیب بو داسې فطری آرټسټ دے چه د قلم
او د نقل په دواړو ذریعو د خپل کمال داد وصولے شی.

خالقداد امید په عام ژوند کښې یو ساده خنده رویه
بنیادم دے. که سنجیده وی نو هم د ده ستر ګے خاندی
او که کله څنګه خاندی نو نور هم ځان سره خندوی. د ده
په ایکټینګ کښې هم دا کمال دے او په لیک کښې ئې هم
دغه کمال دے.

هسې خو خندا او ژړا دواړه فطری عمل دے. هر بنیادم
کله په ژړولو مجبور شی. او کله په خندا. د خندولو مواقع
زمونږ په ژوند کښې ډیرے پېښیږی. او د ژړا کم. سړے
ژاړی هله چه څه تکلیف ورته ورسی. لکه د خپل ورور
عزیز د جدایئ صدمه یا څه بله داسې حادثه چه د ده
جذبات پرے پریشان شی. خو د ادب کمال دا دے
چه یو انسان پر دے غم خپل غم وګڼړی. د اوښکو
څڅولو په ځائے اوښکے وڅڅوی او د خوند یا لطف

Scanned with CamScanner

اختنو په ځای د بل په خبرو سمرې د خندېږي. په
دې دواړو کښې ګران کار د چا خندول دی. خو دا
خندا په ټکو ټوکو ټکلو یا په لطیفو خندا نه وي —
د دې د پاره د ادب فنکار داسې ماحول پیدا کوي.
چې زمونږ د ژوند عکاسي هم کوي او د مزاح او د
ظرافت چاشني هم پکښې وي.

ډرامه چې د کوم ځای نه را شروع شوې ده یعنې
د یونان د قدیم تهیټر د دختو نه، نو دا په دوو برخو
کښې ویش را دوانه ده. د ژوند د یو داسې واقعې نقل
چې انجام یې دردناک وي. دې ته ټریجډي وئیلې
شي. او بله کامیډي. یعنې په خندا خندا کښې د مطلب
خبرې کول.

د دنیا د هرې ژبې په لیکلي ادب کښې د ډرامې دا
دواړه قسمه ډیر مقبول دي. خو په دا خبره د ټولې
دنیا خلق متفق دي چې داسې کامیډي ډرامه لیکل
چې څه مقصد لري، د ټریجډي نه ګران کار دے.
په کامیابې ډرامو کښې که ټش مزاح وي نو د
ډرامې افادیت ختم شي. ولې که ورسره د طنز یو
پوټې مالګه ورګډه شي نو نه صرف دا چې د خلقو
خوند بنه شي بلکه د معاشرې د اصلاح د پاره
پکښې مقصدیت هم را شي.



خالق داد امید که د صداکار او اداکار په حیثیت واخلو
نو هم دے یو ښه کامیاب کامیډین دے. او که د ډرامې
د لیکونکي فنکار په حیثیت یې جاج واخلو نو هم ښه طنز
او مزاح نګار او ډرامه نویس دے. زما د دې
دعوې په ثبوت کښې دا دے دا مجموعه — ستاسو
په وړاندې ده. په دې مجموعه کښې د امید صاحب
کټورې سټیج شوې، نشر شوې یا ټیلي کاسټ شوې
ډرامې راغونډې دي. او زما په فکر امید صاحب
د یو ښه کامیډي ډرامه نګار حق ادا کړے دے. کم
نه کم "حادثه" داسې ډرامه ده چې که یو طرف ته
په کښې د کلي د دوو ساده زلمو د اسپتالونو د دارو
درملو په لړ کښې یوه رښتونې خاکه ده. نو بل خوا
زمونږ د معاشرې د ډاکټرئ غونډه د اهمې او
معروف پیشې هغه دواړه اړخونه هم په کښې ښودلې
شوي دي کوم چې مونږ د "قصاب" او "د انسانیت د
خدمتګار" په نوم پیژنو. خو افسوس په دې دے
چې امید صاحب د وعظ و نصیحت په ضرور د څه خبرې
لیکلي دي کوم نه چې صرف اشاره کافي وه. خو خیر
دا څه داسې خبره نه ده چې د دې تاثر ورباندې
مجروح شي.

زه د لوستونکو ډیر وخت اخستل نه غواړم. د

Scanned with CamScanner

# د امید فن

روانه صدۍ د پښتو ادب د پاره عموماً او د پښتو نثر د پاره
خصوصاً یو ارتقائي دور په ګوته کوي. په حقیقي معنو کښې د پښتو
د موجوده نثر او په تیره تیره د FICTION ابتدا او روزنه پالنه
هم د شلمې صدۍ ډالۍ ده.

د افسانې ډرامې او ناول تعارف او پېژندګلو هم په
نیږدې پنځوس شپیتو کلونو کښې کیږي.

په دے دریو واړو نثري اصنافو کښې بیا پښتو افسانې
یو مقام نیولے دے. ناول تر اوسه لا د نشت برابر دے
او ډرامه که د ریډیو او ټي وي له مخه هر څو په مقدار
کښې زیاتیدلې ده خو په معیار کښې لا د یو اوچت مقام
جوګه شوې نه ده.

د ډرامې د فن د اکثرو نقادانو او پوهانو خیال دا
دے چه دا د سټیج شے دے او د سټیج په نا موجودګۍ
کښې ډرامه په خپل ساهو فني او تکنیکي شکل کښې کله هم
ځاے نیولے نه شي. د دے حقیقت نه څوک انکار
نه شي کولے. خو د ریډیو فلم او ټیلیویژن په واسطه
باندے ډرامې په موجوده دور کښې یو نوے شکل
خپل کړے او کله کله د بنده ذهن په دے سوچ مجبوره

سید خالقداد امید پېژندګلو وه هغه وشوه. د دې
ډرامو به په پښتو ادب کښې کوم مقام وي دا بر
وخت خپله فیصله کوي. د ډرامو د افادیت خبره
کول دو نو هغه هم وشوه البته د رخصتیدو نه اګاهو
زۀ تا دے مجموعې د لیک دود په حقله څو خبرے
لیکل غواړم او هغه هم په دے وجه چه زۀ د
خالق داد امید استاذ یم. او زما په فکر استاذ ته
هر وخت دا حق حاصل دے چه هغه د خپل شاګرد
په غلطو هغۀ غوږ ونه راکاږي.

دا غلطۍ د لیک دود او کتابت غلطۍ دي. په دے
مجموعه کښې به تاسو هم ولولئ چه د رسم الخط څو داسې
غلطۍ دي چه د خالق داد امید غوندے د پښتو ایم
اے او د یو ښۀ ادیب د قلم نه نۀ ښائي چه شوے
دے. خو زما په فکر دا د کتابت غلطۍ دي خو سره
د دے غلطیو او خامو دا کتاب به امید دے چه د
لوستونکو خوښ شي.

په آخر کښې به زۀ د خپل دے سعادت مند شاګرد دپاره
دا دعا وغواړم چه الله پاک دے وکړي چه دے هم دغه
شان د خپل لیک په ذریعه د خپلې مورنۍ ژبې د
خدمت دا جذبه ژوندۍ وساتلې شي.

پریشان خټک
ډائرکټر پښتو اکیډمي

Scanned with CamScanner

کړې چه آیا د دې مختلفو ځایونو او واسطو د ډرامو دپاره
بیل بیل فني اُصول ټاکل او غوره کول په کار دي؟ خو
د دې هر څه سره سره د یو فن څه بنیادي
قاعدې وي چه د هغې د ننه د ننه د هغې فن ازده کړه
او تربیّت کیدې شي.

که مونږ دا اووایو چه پښتو ډرامې په حقیقي معنو
کښې لاتر اوسه د ستیج مخ نه دې لیدلې نو بیځایه به
نه وي.

خو په ریډیو او ټیلي ویژن چه تر اوسه کومې ډرامې
راغلې دي د هغې نه دا اندازه لږي چه د پښتو لیکوالو
ذهنونه او قلمونه د پیرو راسې د ادب د دې
مخصوص او خوندور صنف په نکل کښې ورک کړ ځیدل
او ننداره ته ئې تږي ناست وو. په مشرانو لیکوالو
کښې حمزه شنواري. سمندر خان سمندر. ایف اے رحمن
کاکاخیل او سید رسول رسا د ریډیائي ډرامو ځنې نادرې
نمونې اولس ته وړاندې کړې. او د موجوده دور ځنو
ځلو لیکوالو د ټیلي ویژن د پاره ښکلې او معیاري ډرامې
اولیکلې.

او که یو ځوا مونږ دا منو چه د پښتو ډرامه په
حقیقت کښې د ریډیو او ټي وي ډرامه ده نو بل ځوا دا
خبره داسې هم کولے شو چه د پښتو موجوده ډرامه



نګاران د ریډیو او ټي وي ډرامه لیکي.
د خالق داد د امیّد نامه هم د موجوده کوُل د شمیر
په هغه ځو نوموړو کښې راځي چه د ریډیو او
ټي وي ډرامې په لړ کښې د قدر وړ اضافې اوکړې
خالقداد امیّد په سنجیده او مزاحیه دواړو غاړو
باندې ډرامائي دیارو نه کار لی دی خو په تیرو څو
کالو کښې دا خبره ثابته شوه چه د امیّد قلم د مزاح
په میدان کښې ډیر تیز ګ او میړنې دې. او ځنې
کامیابې او دلچسپې ډرامې او ډرامګئي دا حقیقت
په ګوته کوي چه خالق داد امیّد نه د کامیډي camedy
په اړخ ډیرې ښځنې کولې شي. "کویږدن". "انټرویو" او
"کډه په سر" د هغه د مزاحیه ډرامو ښکلې نمونې دي.
امیّد دیانته توجه په خپلو کردارونو باندې ساتي
او داسې نګاري چه هغه په دې نظریه پوخ یقین ساتي
چه کردارونه ځان له په خپله موضع او ذوقې SITUATIONS
پیدا کوي.
او اګرکه کله کله د هغه نه PLOTTIN یو پوړنې جوله
هم اوځوري ولې بیا هم د هغه کردارونه په خپلو مضبوطو
او ټوي جړښتو کښې د پلاټ د دغه کمزورۍ را اونغاړي.
د امیّد د دغه ښکلې کردار نګارۍ د بیلونه ژوندې
مثال د پېښور ټي وي سټیشن. مشهوره مزاحیه سلسله ده

کومه چه په اولس کښې هم ډېره مقبوله شوېده. دغه سلسله د "دروغ رښتيا" په نامه ياندے روغ يو کال چليدلے ده دغه مزاحيه سلسله تر ښېږ و مياشتو خالقداد امّيد ليکلے ده او دوستو بيا څنو نورو ليکوالو هم د امّيد مشهور او معروف کردارونه "فيض طلب" او "سنګ پارس" د ځان سره په مخه روان کړل. او که څه رښتياوُ نه شي نو په "دروغ رښتيا" کښې نور هر څه دروغ ښکاري يو "فيض طلب" او بل "سنګِ پارس" په کښې رښتيا ښکاري.

د دے مجموعے مختلفو ډرامے کښل او دهغې په حقله خپله خپله رائے جوړول د کتونکو او لوستونکو کار دے ما چه په خپله د امّيد د فن په حقله کومه يوه عمومي رائے قائمه کړيده هغه هم زمايو انفرادي رائے ده. خالقداد زما دوست او مُلګرے دے. خو د امّيد د فن ما ديو ليکوال په حيث جاج اخستے دے او زما خپله دا انداز ده چه د موجوده دور د پښتو ډرامے په ميدان کښې که خالقداد امّيد شوک يو ډير عظيم ډرامه نګار نه ګڼړی نو بيا هم په دے "قحط الرّجال" کښې دهغه فن دم غنيمت دے او د امّيد سانو چه امّيد به مونږ په راتلونکي وخت کښې د خپلو اميدونو نه هم زيات ندے بوځي.

محمد اعظم اعظم اسلاميه کالج پېښور

۲۱ نومبر ۱۹۷۸ء



# د يو فنکار په نظر کښې!....

خالقداد اميد صيب زه يوازے د يو ليکوال او شاعر په حيثيت نه پيژنم. بلکه ځما ډير خوب دوست هم دے کله نه چه د وئ د ټي وي د پاره ليکل شروع کړي دي نو د امّيد صيب په اولنئ ډرامه "انټرويو" کښې ما مرکزی کردار کړے وو. د دے نه مخکښې هم ما د ټي وي ډيرو ډرامو کښې مرکزي کردار ونه کړي دي. خو د دے ډرامے ما نه ډير زيات شهرت راکړو. د دے نه پس چه اُمّيد صيب څو مره ډرامے د سټيج او ټي وي د پاره ليکلي دي تقريبًا په هغه ټولو کښې ما مرکزي کردارونه کړي دي. مثلاً "کوېژدن" "فالي بابا" "کنډه په سر" د دے نه علاوه د اُمّيد صيب ليکلے ډيرو مزاحيه خاکو کښې هم ما کار کړے دے. چه خلق په کښې ما په مختلفو نومونو پيژني. لکه شريفے يارے. حلاتے وغيره. د دا سے ساده کردارونه دي چه د هر طبقے خلقو خوښ کړي دي. زه چه

Scanned with CamScanner

اکثر په لاره ځم نو ماشومان او لوئے ټول وائی شریف راغی
وائی حلاتے راغے . خوک وائی یارے راغے . دا ټول د اُمیر
صیب د قلم . ورد دے چه داسے کردارونه پیش کوی. چه لو
واړهٔ ئے خوښه وی. زهٔ یه د امید صیب د لیکلو په منقل
صرف د . مرهٔ او دایم. چه د اُمید صیب د لیکلو دا یو خاص ان
دے چه په چر کردار لیکلے شوے وی. د معاشرے هغه کرو
ورته په خپله هم د خندا په ډکه خوله ناست وی. اُمیر
صیب نه مکالمو لیکلو کښے یو خاص کمال حاصل دے. مکالمے
ساده او ښکلے وی. ود هغے غښه وجه دا کیدے شی چه اُمید
صیب په خپله یو آرټسټ هم دے. اُمید صیب د مزاحیه ډرا
لیکلو بادشاه دے او زهٔ دا توقع لرم که چرے وخت د دو
قدر او کړو نو هغه ورځ لرے نه ده چه دوی به د پښتو ژ
په لیکوالو کښے یو داسے مقام حاصل کړی. چه پښتون خواه
پرے فخر کوی.

اُمید صیب یو مخلص دوست او عظیم انسان دے. په کو
محفل کښے چه کینی هغه محفل گلزار شی. او یو خاموش محف
د خندا ابهرقانه ډک شی. ټول دوستان د دوئ د زړه
د اخلاصه قدر عزت کوی.

اُمید صیب ډیر حساس دے. اُمید صیب د یو ښه لیکوا



مرهٔ سره یو ډیر ښه فنکار هم دے. دوی په فلمونو کښے هم د خپل
فن مظاهره کړے ده. او څو فلمونو له ئے قیمتی او مکالمے هم
لیکلی دی. د دے نه علاوه د ریډیو او ټی وی په ډیرو ډرامو
کښے ئے هم کار کړے دے. د ځان له ئے یو خاص مقام پیدا
کړے دے. په کومه ډرامه کښے چه زهٔ او امید صیب یو ځائے
دا شو نو ما ته د اُمید صیب سره مخ په مخ مکالمو ویلو کښے یوه
داسے خوشحالی حاصلیږی. کومه چه د یو ښه فنکار سره په
مکالمو ویلو کښے کیدے شی.

اُمید صیب د فن په دنیا کښے څما مشعل راه دے او زهٔ د
خپل پروردګار نه دا دعا کوم چه د اُمید صیب قلم او فن ته د
نوره ځلا او بخښی —— فقط.

(سید سردار بادشاه)

Scanned with CamScanner

علاوه په بهر ملکونو کښې هم تبیح کړې شوې. او زما
ز دې ډرامو نقلونه په بیا بیا او غوښتنې شو. د دې خبرې
ۀ ډیر زړۀ ور کړم. او ما دا اراده او کړه چه زۀ خپلو څو
مزاحیه ډرامو له کتابي شکل ورکړم. زۀ نه شم وئیلې چه
ۀ په خپل تیک کښې ترکومه حده کامیاب یم. خو په دې
ډرامو کښې اکثرې ډرامې د سټیج نه علاوه په ریډیو او
ټیلیویژن هم پیش کړې شوي دي او خلقو بې کچه
تعریفونه کړي دي.

په دې لړ کښې زۀ د پاکستان براډ کاسټنګ کارپوریشن
پېښور اود پاکستان ټیلي ویژن کارپوریشن پېښور نه علاوه
د خپل محترم مشر ښاغلي نعمت الهی حبیب (کمپټرولر صوبه
سرحد) نورو افسرانو او دوستانو بالخصوص سید سردار بادشاه
شکریه ادا کوم چاچه زما ډیره ډاډګیرنه کړېده.

دا به بې ځایه نۀ وي که چرې زۀ د خپلو هغو ګرانو دوستانو
اداوچتو فنکارانو هم شکریه ادا کړم چاچه زما د دې ډرامو
کښې په سټیج - ریډیو او ټیلیویژن د خپل فن مظاهره کړې
ده. د دې کښې د ګل افضل خان، سید ممتاز علي شاه، سید
سردار بادشاه - سید شهنشاه - عبدالجلیل - شاه زمان، محمد خامس
قاضي ملا - عبدالحمید خلیل - فهیم داد خټک - اشفاق شباب

# زۀ او

# ځما ډرامې

د ډرامې لیکلو آغاز ما ډرامې اوریدل شر[وع]
کړي وو. د ریډیو پاکستان پېښور نه چه به کومې ډرا[مې]
نشرکېدې ما به ډیر په مینه او شوق سره آوریدې
دغه وخت زۀ صرف یو شاعر ووم. او ما په نثر کښې لیک[ل]
لا نۀ وو شروع کړي. دا د ۱۹۵۳-۵۴ء زمانه وه.

د ډرامې آوریدو سره سره زما شوق ډرامې لیک[لو]
پله اوکړځیدو. او ما اولنۍ ډرامه "د کونډې خو[ږ]"
او بیکلۀ. د دې نه پس م نورې ډرامې هم اولیکلې چه هغ[ې]
کښې "آخري ارمان" "د پلار قاتل" "چم کاونډه" "بدل" او
دا موجوده ډرامې چه ستاسو په وړاندې دي شاملې دي.
دې ډرامو کښې "انټرویو" او "فالی بابا" دومره خوښې
کړې شوې چه د پېښور د مختلفو سکولونو او کالجونو

Scanned with CamScanner

نور محمد مهمند۔ نثار عادل ۔ افتخار الدین۔ فاروق مهمند، شبیر ع
او ډاکټر نوشاد خټک نو مونږ خاص طور سره د ذکر وړ دي. حقیق
دا دے چه د دوئ بهترینے ننګارئ زما دے ډېر امو ت
نوره ځلا بخښلے ده۔

دا زما ړومبے کوشش دے ۔ دے کښې به غلطئ هم و
امید دے چه قارئین به د ړومبی کوشش په خیال زما غلط
معاف هم کړی او ماته به ئے په ګوته هم کړی ۔

زۀ په آخر کښې د خپل ګران دوست او خوشنویس شمس العارف
عارف صیب شکریه ادا کول ضروری ګنړم ولے چه د دوئ په ډېر
شوق او مینے سره د دے کتابت سرته اورسولو. که چرے
د دوئ مرسته نه وے نو شاید د دے ډېر امو ړایو ځائے
کولو کښې څه وخت نور هم لګیدلے وے ۔

زما اراده ده چه د دے نه پس د خپل منظوم کلام نه علاوه
د ډېر امو یوه بله مجموعه هم ستاسو په خدمت کښې ډېر زر پیش
کړم۔ انشاءالله ۔ فقط والسّلام

ستاسو

سیّد خالقداد امید



# کوږدن

# کردارونه

| | |
|---|---|
| شریفے | یو ساده او نیک هلک |
| پلوشه | د شریفي چنغله |
| صنوبر | د شریفي یو خوږه من ملګرې |
| جمالئ، دلبرو، ګل بي بي | د پلوشې سهیلۍ |
| تودے، لالے | د شریفي ملګري |
| نرګس | یوه ډېره اکټرزه |
| مالي | د نرګس د بنګلے مالي |



(پلوشه په کوهی باندے اوبه ډکوی نورے جینکئ نزدے ولاړے د خپل وار انتظار کوی — یوه جینئ شریفے او وینی او نورو جینکو ته د ئی —)

جمالئ:- هله شریفے راغو- شریفے.

(شریفي یو خو لرګی په اوږه ده رروان دے لرګی یو خوا نه ږدی- ځو له او چوی- جینکئ ورپورے خاندی. پلوشه هم د شونډو په سر خاندی. تو ے جینکئ په خندا خندا شریفي له راځی.... شریفے لږ د خفګان په انداز کښے وائی....)

شریفے:- مه خاندئ ځله- او به راکړئ تږے یم.

(جمالئ دلرګو کیږے اوچت کړی او په خندا خندا وائی-)

جمالئ:- آئے هئ- شریفے غریب خو دے لرګو مړ کړو او هکورئ پوره ځلور لرګی ئے راتړلی دی.

دلبرو:- غریب نیازبین دے کنه. د بوډئ مور یکی یو ځوے دے. ما ترے زار کړے.

ګل بي بي:- نه مړے تا سو څه خبر یئ- دا خو ئے نمونه ده. اصلی ګیډے خو بره غره کښے پروت دے

جمالئ:- نه. نه لرګی ورله شا خو ګئ- ګنی د وخو ګیډے

بلا. کنه شریفه.

[پلوشه په منګو کښې اوبه راوړی.-او
شریفی ته په لپه کښې اچوی]

شریفې:- ورکې شئ مړو. خواشئ.-اوبه ښخبمه.

پلوشه:- هن شریفیه واخله اوبه اوښبنه.

جمالۍ:- په یو منګي ے کار نه کیږی پلوشې.- ورشه
یو ور له بل راوړه.

[شریفې په دواړو لاسونو اوبه ښبنی —
او پلوشه دهغه مخ ته نیغ نیغ ګوری — اوبه
تموله په زمکه توئیږی.]

شریفې:- دا څه کوے مړے.- ماته بق بق څله
ګورے.- تموله اوبه خو دِ بنګته توئے کړے

[جینکۍ خاندی]

[پلوشه او شرمیږی او د خبرے
بدلولو کوشش کوی]

پلوشه:- شریفیه ډیر تږے شوے یئ هن.

شریفې:- راوبو ښبونه لپس) څه وایه مه. ډیر
تږے شوے وُم.

(پلوشے ته کتو کښے) هیله م تنده ماته شوه.



دلبرو:- شریفیه دُعا خو دِ ورته او نه کړه.

شریفې:- دوا!- توځنګه دوا ورته اوکړم.- هن.

دلبرو:- ورته وایه.

جمالۍ:- چه خدائے دِ زر داده که.

شریفې:- نه.- نه داسے خو به ورته چرے هم
او نه ویم.- بیا به راله اوبه څوک راکوی
تاسو خو تشے خندا ګانے کوئ نو.

جمالۍ:- او داسے وله نه وائے چه دَ دے دَ لاس
اوبه ډیرے خوږے دی.

شریفې:- څه مړے.- دے خیر نو لاسونو ته
ډګوره.- اخواشه چه څم کورته.- هر وختے
به ټوقے کوے.

[پلوشه کوهی اړخ ته روانه شی]

ګل بی بی:- شریفیه کیږه ے درسره یوسو.

شریفې:- کیږه ے.- دا څله.-چه خپل کور ته یے یوسے
دے نه ګوره.- لیونئ دکا.

دلبرو:- تو ته په دومره لرګو کوے څه.- یو
ته یے یو دِ موږ دکا.

جمالۍ:- نبه وائے دلبرو.- راځئ.- یو یو لرګے

به ترے مونږ ځان سره یو سو.

شریفے:- څه! څه! تاسوخو را نږ دے شئ.

خدائیګو چه دا غاښونه در له مات کړم.

جمالئ! که تورګل ماما ته ږم او نه وے کنه

نو ښه ده.

(پلوشه منګے په سر د کوهی اړخ ته راشی

او وائی.)

پلوشه:- شریفیه څه کور ته. دوئ د هسے تنګوی.

شریفے:- اوهو! تنګ به کړی. ماله د دوئ ښه

چل راځی. خو ستا د مخه ورته څه نه وئیم ښه.

ګل بی بی:- پلوشے ډیره پړ خفه کیږے نو.

پلوشه:- ښه ده کنه. د خپل ماما خوے ږم دے

تاسو وے سوزئ.

شریفے:- دوئ له هم او به درکړه. غریبانانے

هسے سوزی.

[ تهولے جینکئ خاندی. شریفے ګیډه ے

په سر کړی او روان شی]

دویمه ننداره

(نورے، لالے او شریفے یو ځائے ناست

دی. شریفے دا سے ناست دے لکه چه



چاپه زور کینېنو لے ځئ. نورے د شریفی

سره نږدے مخامخ ناست دے.)

شریفے:- هلکه توریه! داڅه پرسو ځ ډیو نیو ے

دے. لږ سم کښینه کنه مړه. خو تپه درنه وئیم

کنه.

نورے:- تپه نه سندره به وائے.

شریفے:- تپه که سندره.؟ سندره به لالے

اووائی. زه به درنه تپه اووایم ښه.

لالے:- څه مړه ماله څه سندره راځی. تپه به هم

نه وایئ او سندره هم.

تهول:- اوَ. اوَ. دے به وائی.

(تهول خاندی)

شریفے:- آهاها. دوئ ته لاګوره. پخپله به هیڅ

نه وائی او مونږ به ورته سندرے هم وایو

او تپے هم.

نورے:- ستا هغه اشنا به ئے هم وائی.

شریفے:- څوک اشنا. صنوبر یا دے. که خبر شو

نو د بوسو سخ به درنه جوړ کړی. او.

لالے:- نه مړه هسے ټوقه کوی. تا یاد دو.

شریفے:- دا سے وائی کنه (سر ګروی) ښه نو. که

سندره درته اووایم. هن.

تورے:۔ کمه چه سنا خوښه وی.

شریفے:۔ اودریږئ ښه۔ اوّل درته یو ټپه کوم.

لالے:۔ اودریږو ! هلکو پاسئ رشول خاندی)

شریفے:۔ نه نه۔ پاسئ مه۔ هلکه تودیه ته څهٔ

داړے چینګے چینګے کوے.

تورے:۔ ښه۔ ښه۔ نه به خاندو۔ څه ټپه شه.

(شریفے په غوږ لاس ږدی او ټپه شروع

کوی)

شریفے:۔ یه قربان! ښه ده چه ته نو۔ که ته د

ته نو. د خیره راغلے۔ او قربان! اما په کچکو

کچکول او کچکول پتری وخل ۔۔ درپسے هاغ

دے صنوبر اشنام راغے۔ اوس وایه کنه تودیه

صنوبر:۔ هلکه شریفیه خیر دی وی.

شریفے:۔ خیر دے صنوبره۔ خو دوی هسے اوزګار

دی.

صنوبر:۔ هلکو بیا مودهٔ ته څه ویل.

لالے:۔ مونږ ورته څه وایو۔ خو دے وائ سندره

درته ویمه نو.

صنوبر:۔ (شریفی ته غصه غصه کودی) شریفیه۔!



خو نا سو

شریفے:۔ آئ ددرغجنه مادرته کله وئیلی.

اوس ما

دیل چه سنا اشنا به سے وائ نو۔ صنوبره !

لهٔ سندره راځی هن۔ ددئ هسے اوزګار دی. ځئ کنه

اوس مولاس آزاد۔ ځما مرګ رے راغے.

صنوبر:۔ څه چه څو شریفیه.

شریفے:۔ څه چه څو۔ (دواړه ږان شی تورے ورته

دلرے نه وائ)

تورے:۔ ذ ده سرته دعا کوه بچو! کنی نن هم درباندے

شوله ورځ ټپے ویلے.

شریفے:۔ څه مره پرسو مخیه تا ته لاګوره۔

صنوبر:۔ شریفیه! دَ دے اوزګار خیلو سره بیا مه کینه.

شریفے:۔ (سادګئ سره) ښه ده چه ته ے صنوبره!

کنی دا تورے او لالے خو.....!

صنوبر:۔ (راسویلے کوی) خو اوس به زهٔ هم نه یم شریفه۔

شریفے:۔ ته به هم نه ے. ولے دانه خفه شوے څه؟

صنوبر:۔ نه شریفه! زهٔ ښهر کښے نوکر شوم صبا به که خدائ

د وخته روانیږم.

شریفے:۔ او زهٔ ؟

صنوبر:۔ ته به دلته ے کلی کښے۔

شریفے:۔ نه به ښهر کښے ے او زهٔ به کلی کښے یم۔ نه

نه زه به هم در سره ځم۔
ته به هلته څه کوے؟ زه خو به نوکری

صنوبر:۔ نو ته به هلته څه کوے؟ زه خو به نوکری
کوم کنه۔

شریفے:۔ زه به هم نوکری کوم کنه۔

صنوبر:۔ د څه نوکری؟

شریفے:۔ مړه نه به راله څه کار اوګورے کنه۔ زه
خو دلته یو ساعت هم تیر نه کړم۔

صنوبر:۔ (مسکے شی) کم عقل کیږه مه۔ بیا به دا ئې دلاس
څو ورځی درته یادیږی ګورے۔

شریفے:۔ او نا نه به نه در یادیږی څه؟

صنوبر:۔ (مسکے شی) څه نو خواه مخاځے؟

شریفے:۔ نو ولے څه دروغ ویم څه؟

صنوبر:۔ بنه نو څه ورشه د مور ابئ سره د صلاح
اوکړه۔ که د هغے خو بنه ئې نو سحر د وختنه به
روانیږو۔

شریفے:۔ (خوشحاله شی) ګنخیری۔ بنه بنه دا سے دا یه کنه۔

## دریمه ننداره

(په یوه ښکلے کمره کښے نرګس په یو ښکلی پالنګ
کټ بالښت ته ډډه وهلے څه کتاب ګوری۔



د نرګس خوا ته په میز چائے او د خوراک څه
څیزونه (پیسترۍ) وغیره پرتے دی۔ یو صوفه
سیټ هم پروت دے۔ مخامخ په ګلدان کښے
ګلونه لږیدلی دی۔ مالی راځی او د ځان سره
شریفے راولی۔ شریفے په کمره کښے پرتو مختلفو
څیزونو ته په غور غور ګوری)

مالی:۔ نرګس بی بی دا هغه نوکر دے۔

نرګس:۔ کینه۔

شریفے:۔ چرته کینم۔؟

نرګس:۔ (مسکئ شی) دغه صوفه سیټ باندے کینه که ـه۔

شریفے:۔ دلته۔ دلته کینم۔

نرګس:۔ او۔ او۔

شریفے:۔ (خپلئ اوباسی او اوچت په صوفه سپ کینی) ک ـ ـم۔

نرګس:۔ چائے به څښے؟

شریفے:۔ او به څښم نو۔

نرګس:۔ څه به ور سره خورے؟

شریفے:۔ وبه خورم نو۔

نرګس:۔ با ب۔

مالی:۔ جی بی بی جی۔

نرګس:۔ راشه دا چاۓ ورله ورکړه۔

شریفې:۔ (د چاۓ بوتله ګوټ کوی) پړو وے دا چاۓ څومره ترخې دی۔

نرګس:۔ دا پیسترۍ د سره اوخوره خوږے به شی۔

شریفې:۔ پیشترۍ۔ بنه هغه پیشترۍ دے ته وائې

(سره د کاغذه بے خوری)

نرګس:۔ (خاندی) دا کاغذ خو نرے لرے کړه کنه۔

شریفې:۔ دا کاغذ ورپورے د مالی ته غصه غصه ګوری) چا لګولے دے۔ یره خو نو۔

نرګس:۔ بنه نو ته څه کار کولے شے؟

شریفې:۔ زهٔ هر کار کولے شم بی بی جی۔

نرګس:۔ بیا هم؟

شریفې:۔ بی بی جی۔ هر څه کولے شم (په ګوتو شماری)

اینے کړے چیړے څروے شم۔ لرګی چولے شم۔ ایوه کولے شم۔ غوبل.....

نرګس:۔ نه۔ نه زما مطلب دے د کور څه کار هم کولے شے که نه؟

شریفې:۔ دلے نه بی بی جی۔ کټ بوټے بے شم۔ ماشومان قلاروله شم۔ او چه دے نو.... چه دے نو



څیمتی راځی

رشتیا را یاد شو د غل باچا دومره خوب ده

چه چه څه دایه مه۔

رشتیا ستا نوم څه دے؟

کس:۔ نوم م!....! خلق را ته شریفې وائی او مورم را ته

یفې:۔ شهزاده وائی۔ او ته چه را ته هر څه وائے نو۔

کس:۔ (مسکئ شی) زهٔ خو به درته ——— خو رشتیا ته چه د کور په کار نه پوهیږے؟

یفې:۔ دلے نه پوهیږم بی بی جی۔ ته خو را ته څه کار او ښایه کنه۔

کس:۔ بنه کوره دغه برش را واخله۔ دا قالین پرے صفا کړه۔ که صفائی دې بنه او کړه نو نوکر به دې کړم۔

یفې:۔ وا بی بی جی سودا مه کوه۔ دا سے به ئے صفا کړم چه ته هم او وا ئے شپارس۔ بابا څه وړاندے کیږه چه او به ئے راؤړو۔

مالی:۔ په اوبو څه کوے بچے؟

شریفې:۔ هغه څه وائې ورته۔ هغه۔ هغه به پرے نه صفا کوؤ څه؟

مالی:۔ (خاندی) بنه بنه قالین یاد شے۔

شریفې:۔ او۔ او هم دا۔

**مالی:-** بی بی جی دا غریب دَ قالین په صفائی څه پوهیږی.

**شریفه:-** وے نه پوهیږم بابا۔ ته دَلته هسے نوکری ماتوې

[بی بی یو قدم مالی طرف ته اخلی او مالی
ته وائی]

**نرگس:-** بابا! دا خو ډیر ساده او مجذوب غوندے ښکاری
زمونږ غوندے خلقو ته دغه شان بنده پکار دے
ویم چه او به ئے ساتو۔ څنګه ټهیک ده۔

**مالی:-** څنګه چه ستاخوښه ئی۔

(دوارړه شریفی طرفته ځی مالی ورته وائی)

**نرگس:-** بنه دَ نن نه ته زمونږ نوکر شوے.

**شریفه:-** نوکر شوم. بابا او میارکی خوراکه کنه۔

**مالی:-** (مسکے شی) او مبارک شه۔

**شریفه:-** خدا ئے دِ او بخښنه۔

**نرگس:-** (خاندی) ده نه خپله کمره اوښایه۔

**مالی:-** ډیره ښه ده بی بی جی۔

**شریفه:-** ځه چه ځو بابا ښځکښے کیږه۔

(نرگس مسکئ شی)

## څلورمه ننداره

(دَ نرگس کمره کښے په مینټل پیس یو ګلدان پروت



دے. چه مړاوی ګلونه په کښے پراته دی. مالی ګلدان
د ننه راځی. لورسئ په اوګه دے. مالی ګلدان
خان ته مخامخ په میز بر دی۔ مړاوی ګلونه
ترے لرے کوی او تازه ګلونه په کښے بردی. چه
دے کښے نرگس کمرے ته را ننوزی۔ شریفه و رپسے
دے۔ نرگس خپله بټوه په میز بر دی۔ او ځی ــ
د شریفی په ترخ کښے پیکټونه دی۔ پیکټونه په
میز بر دی او وائی ــ)

**شریفه:-** یره بابانو۔ ته خو به هرورځے دے ګلدان کښے
ګلونه لګوے۔

**مالی:-** اوَ۔ بچے۔ دا ځکه چه دے کښے مړاوی ګلونه
ښه نه ښکاری۔

**شریفه:-** وے ښه نه ښکاری۔ پخپله به هره ورځ غنچے غنچے
ګلونه را شوکوے۔ او چه نور څوک یو ګل هم او شکوی
نو بیا خفه کیږے۔

**مالی:-** شریفیه بچو! زهٔ هم نه غوارم چه یو ګل دَ څانګه نه بریکړم
خوښه اوکړم۔ دا ګلدان هم بے دَ تازه ګلونو نهٔ ښائسته
کیږی۔ او بله دا چه دے سره خو زمونږ روزی تړلے
ده کنه بچو۔

**شریفه:-** دَ څه روزی۔ یره خو بابانو. روزی رسان خو خدائے

پاک دے.

**مالی:-** اوُ بچے. تہ بنۂ واے. خو روزی گټلو لہ څہ محنت
مشقت څہ کار روزګار هم پکار دی کنہ. لاس پہ
خدائے دے لہ راکړی دی بچے.

**شریفے:-** نو بابا څہ بل څہ وے نہ کوے. کہ بس ذ دے کمو
آزار بہ اخلے.

**مالی:-** بچے! زۂ بہ دے عمر نور څہ اوکړم را اسویلے
کہ ستا غوندې یو ځلمے ځوئے م وے. نو ما بہ ذ
دا آخری ورځے لږے پہ آرام خوندیر ے کړے و

**شریفے:-** بابا نو ژاړے ځلہ. زۂ بہ دِ ځوئے شم کنہ.
پہ آرام کینہ. زۂ بہ ے ګټیم او تۂ بہ ے خورے.

**مالی:-** خیر دِ نصیب شہ بچے.... تہ پیسے جمع کوہ. ځنے ے کنہ
څہ کویږدت وادۂ ځان لہ ا دکړه ے.

**شریفے:-** چہ پیسے جمع کړم نو بابا دچاسرہ بہ وادہ کو
هن.....!

**مالی:-** ځوک چہ ستا خوښہ ئی نو.

**شریفے:-** ځوک چہ زما خوښہ دی. بیرہ بابا زما خو ډیر
خوښہ دۂ.

**مالی:-** څوک بچے؟



نو ر ځوک؟

**شریفے:-** بی بی جی یاد دم

**مالی:-** بی بی جی ر د شریفی پہ خولہ لاس پہ دی ، دا دِ څہ اوئے
بچے.

**شریفے:-** دے بابا؟

**مالی:-** څومرہ سادہ ئے بچے.

**شریفے:-** وے نو بابا.

**مالی:-** ددمرہ بودہ ئِ د لتہ او شوہ خو ستا او سہ پوھہ
نہ شوے. چہ تہ ځوک ئے او بی بی جی ځوک دۂ؟

**شریفے:-** ځوک دۂ؟..... ئې بہ نو.

**مالی:-** شریفہ! بی بی جی دیو لوئے سیټھ لُور دۂ. او دلتہ
هسپتال کښے ډ اکټرہ دۂ.

**شریفے:-** نو خیر دے کنہ بابا. ځما چہ خوښہ دۂ نو.

**مالی:-** اوَ بچے! خو ذ څپلہ ځادرہ سرہ پښے غزول پکار دی.
دنیا کښے دا سے نور هم ډیر څیزونہ شتہ. چہ ستا پہ
خوښیږی. خو تہ بہ ذ ځخہ ذ حاصلولو د پارہ همت پیدا
کوے. قوت پیدا کوے. دولت پیدا کوے. او کہ
دا نوی نو ـ!

**شریفے:-** نو بیا؟

**مالی:-** نو بیا بہ تہ پخپل قسمت صبر کوے. او پہ ځائے

Scanned with CamScanner

دَ ادچتو ادچتو بنګلو اد محلونو د کلی دَ یو ے غریبې
جینئ سره به وادهٔ کو ے۔ دَ بی بی جی خیال به چرے
هم په ذرهٔ کښے نه راو ے۔

شریفے:۔ (سوچ کښے پریوځی) دَ بی بی جی خیال دَ زړهٔ نه اوباسم۔

مالی:۔ او بچے! که بی بی خبر شوه نو دَ نوکرئ نه به دِ اوباسی
نکره شه۔ پیسے او کمته اوَ۔

شریفے:۔ او پلوشه به وادهٔ کړم۔

مالی:۔ څوک پلوشه؟

شریفے:۔ زما د تږور لور پلوشه۔

(مالی مسکے شی)

## پنځمه ننداره

(صنوبر ته مخامخ په میز لفافه پرته ده
خط کوری چه شریفے را شی)

شریفے:۔ په مرګ ئے اوو ژلو سره یه۔

صنوبر:۔ خیر دِ وی شریفیه۔ دا چا؟

شریفے:۔ بی بی جی یاد و مه۔ مره خو۔

صنوبر:۔ ولے بیا څه او شو؟

شریفے:۔ تهوله ورځ به سره بازار کښے سودا کانو



پسے ګرځی۔

صنوبر:۔ ما خو درته مخکښے د ټیلی دو کنه بچو۔ چه نوکری
آسانه نه ده۔

شریفے:۔ څه مره۔ ولے نه ده آسانه۔

صنوبر:۔ د کلی نه چهټئ راغلے ده۔

شریفے:۔ چهټئ؟ دَ چا چهټئ ده؟ دا به م تهیک
مود رالیږلی دی. څه وائ چه کلی کښے خیر دے؟

صنوبر:۔ او خیر دے۔ رودرم رالیږلے ده۔

شریفے:۔ رور دِ! دلبر خان لالا۔

صنوبر:۔ او مبارکی راکړه۔ او مبارکی!

شریفے:۔ دَ څه اد مبارکی. مره ته خو اول خبره اوکړه نو۔

صنوبر:۔ دَ کویژدن۔

شریفے:۔ بنه۔ بنه او مبارک شه۔

صنوبر:۔ خبر یئے څوک ئے را له اوغوښته۔؟

شریفے:۔ زه څهٔ خبر یم۔ ته اووایه کنه۔

صنوبر:۔ کم ځائے چه ما یاد دو لو۔ هلته۔

(شریفے د منګی نه ګلاس کښے اوبه را اوباسی)

شریفے:۔ نو چرته مره۔ یو خو به خبره نه کوے او۔

صنوبر:۔ پلوشه۔

شریفے:- پلوشه!!

(د شریفې د لاس نه گلاس اوغورزیږی)

صنوبر:- شریفیه دا وے ته څو.

شریفے:- هیڅ هم نه صنوبره. بس هسے.

صنوبر:- شریفیه وے یار ـــ ته په کویږدن خفه شوے څه؟

شریفے:- نه. نه یاره. صنوبره. ته مه خفه کیږه. زه کلی ته ځم نبه.

صنوبر:- کلی ته -؟ او نوکری؟

شریفے:- بس دے یار. زهٔ نوره نوکری نه کوم. بس زهٔ کلی ته لاړم نبه.

صنوبر:- یا هلکه شریفیه. ته خبره خو واوره کنه.

(ځان سره وائی) عجیبه سړے دے. چه دا وے دے خو چرے دا سے نه وو خفه شوے.

## شپږمه ننداره

(په کملو کښے غټ غټ کلونه دی او کلونو باندے د ادبو ښائسټکی پراته دی. مالی کیا دے بوټی او بهٔ کوی. شریفے د کلونو سره جوخت ولاړ دے



مالی ته د اوبنکو په ډکو سترګو وائی)

شریفے:- ادس به زهٔ چاله نوکری کوم بابا. هغه خو هم کویږدن شوے ده.

مالی:- څوک کویږدن شوے ده بچے؟

شریفے:- پلوشه. نور څوک؟

مالی:- بچے ته چه ژوندے یئے نو ښځے ډیرے.

شریفے:- زه به دَ یل هیچا سره هم واده او نکړم بابا. هغه نور دے چینګئے خو ما هر وخت چیړی.

مالی:- (خاندی) خیر دے بیا به دِ نه چیړی.

شریفے:- بابا. زهٔ ځم نبه.

مالی:- نه به کلی کښے څه کوے. ګوره بچے شتهٔ نوکری مه پریږده.

شریفے:- پریږده بابا. چه کلی ته لاړ شم. مور به م را پسے ډیره خفه ئے.

مالی:- بچے! دَ یو ے کونډے مور خو دا ارمان ئ چه ځوے ځلے شی. څه او کتهی. چه واده پرے ورله او کړی.

شریفے:- ځما واده نه دے پکار بابا. نه هسے زور آوریئے.

مالی:- نبه نو دومره صبر خو او کړه چه بی بی جی خو د هسپتال

Scanned with CamScanner

نه راشي کنه.

شریفې:- بابا. بي بي جي خو د سبتهٔ نور ده کنه.

مالي:- رښتيا د دے مياشتې خپله تنخواه دې خو....

شریفې:- منوبر نه به ئې در کړي. هغه به ئې د ځان
سره راوړي. زهٔ لاړم ښه.

(شریفې روان شي)

مالي:- يا هلکه نوکرئ رښتيا لاړ ے......
خومره ساده ده شریفه ـــ تا ترا وسه په مينه
او همدردئ کښې هيڅ فرق او نه کړے شو.

(مالي په کار کښې لګيا شي)

نرګس:- (نرګس راځي) دا د چا سره خبرے کوے بابا؟

مالي:- شریفې یاد ؤم بي بي جي.

نرګس:- شریفې څه شو.

مالي:- کلي ته لاړه د بي بي جي. د يلے نو دے نوکرئ ته هم
جوړه نشته.

نرګس:- نو تا منع کولو نه؟

مالي:- ډير منت مې ورته اوکړو بي بي جي خو هغه د ښځې اوُدر
داسے لمبه کړے ده چه په زور هم نه پاتے کيده.

نرګس:- (څه سوچ کښې پريوځي) ښه!



# آخري ننداره

(په کوټې جينکئ اوبهٔ ډکوي. دلبرو خپل ډک
منګے لرے کوي. جمالئ خپل منګے نژدے کوي. پلوشه
يو اړخ ته ولاړه ده)

دلبرو:- هله شریفې راځه. شریفې.

(شریفې راشي او اوبه د پاره خپل دواړه
لاسونه وړاندے کوي. خو پلوشه ترے ئې
پټ کړي)

شریفې:- آ ده مړے راغلم.

جمالئ:- شریفيه دا د دې مړهٔ مودهٔ چرته وے؟

شریفې:- چرته به وم. نه ئم څه کوے؟

جمالئ:- په حال نه وا ځې نو او بهٔ د هم را نه او نهٔ ځلے. چيکو
ځه اوبهٔ ور نکړئ.

شریفې:- څه نو زهٔ ستے هم نه ځم.

جمالئ:- اؤ کنه اوس به ئې وځې..... خو څه خبره د ے
راشه. او ځئ. پلوشه به را نه خفه شي.

شریفې:- خفه دې شي کنه.

ګل بي بي:- وا. ته به ئې خفه کړے نو مونږ به هم [illegible]

او باسو.

شریفے:- آهاهاغوږ ونه به مې او باسئې. ولے دازۀ مړه یم څه ؟ (د پلوشے نه کوری)

دلبرو:- داخه بق بق ورته کوے. په کتو کتو به دے مړه شے خیر دے.

شریفے:- خوله سمه خوزوه مړه ے. بے نضوله خبرے مکوه.

جمالئ:- بنه وائ درته کنه. صبر اوکه چه واده شی. لوبیا ورته ډیر ډیر کوره.

شریفے:- د چا واده ؟

جمالئ:- ستا. نور د چا ؟

گل بی بی:- آخ آخ. دے خو داسے خبرے کوی لکه چه د څپلے کوږدنے نه هدو خبر نه وی.

شریفے:- د څه کوږدن. د چا کوږدن.

گل بی بی:- ستا کوږدن! شریفیه ډیرے مه دربانده. ستا د پلوشے سره کوږدن شوے ده. را دباسه دلسولوټ.

شریفے:- په لس کاله کښے به ئے هم درنکړم. زۀ خبریم چه د هغے کوږدن صنوبر خان سره......!

جمالئ:- چپ شه داخه وائے. د صنوبر خان کوږدن خو د پورے کلی د برکتی کاکا د لور سره شوے ده. او ز هغے نوم هم



پلوشه دے.

شریفے:- بنه رخوشحاله شی) داخکه ئے زانه مخ پټ کړے دے او دریږه ر خپل مخ پټ کړی) چه زۀ هم ترے مخ پټ کړم؟

# کردارونه

| | |
|---|---|
| مکمل شاه | یو ټهمک مار فلم پروډیوسر |
| شاستے | د مکمل شاه صلاح کار نوکر |
| ایکټر نمبر ۱ | شمشدین بے کاریو ځلمے هلک |
| ایکټر نمبر ۲ | یو بدمعاش قسم ځلمے |
| ایکټر نمبر ۳ | ظریف گل بټ باد |
| ایکټر نمبر ۴ | یو ټو ټرے هلک |
| ایکټرس | یوه بدشکله جینۍ |
| مینیجر | د هوټل یو خاکسته ځوان ځلمے ماک - |

# انټرویو

د هوټل یوه کمره کښې فلم پروډیوسر مکمل صیب او د هغهٔ مرکرے شامتے لیده شي. دمکمل صیب ستېج نه شا ده او شیشه کښې خپله ښائ سموی. شامتے په ځمکه ناست دے سنز کے پرے پنتے کېږی. خو بولے نبکاری. د مکمل صیب ورږ ورږ توره کیږه ده. فلټ ہے په سر دے. کونتۍ ورسره ده. شامتی ل ہ ے جامے اغوستے. زړه تو پټۍ ئے په سر ده. پښے ابله پښے دے.

په ستېج د دے کرسۍ او یو وړوکے میز پروت دے. مخامخ په دیوال د کټے یو بورډ آویزان دے. په بورډ ئے غټ غټ لیکلی دی.

"نامکمل فلم پروډکشن"

(زور ور پېږی)

شامتے:- (خوشحاله شي) که خدا اے م نه غلطوی نو څوک راغے.

وسر:- خلقو نه مخ کړی اوس اوس. څوک نه د ے کم عقله.

ورځهٔ په خپله خو نه ده بیرږی.

تے:- صیب در ورنه لرے کړم.

ډیوسر:- او. خو ګوره که انټرویو له راغلي وی. نو په دروازه کښې بهر لږ او درو ده بیا راشه تپوس

اوکړه او بیا ئے راوله. پوهه شوے.

تے:- او صیب بالکل پوهه شوم........ [ ځي ]

ډیوسر:- [ رو رو ترنم سره ] ګلو باغ ته راشه جانانه.

زړهٔ م دربار ستړکے پیرے ولاړے دینه. جانانه.

تے:- [ واپس په ګډه ګډه راځي ]

ډیوسر:- (په غصه) دا څهٔ کوے شامتیه!

متے:- .. یره صیب څه وایم مه دا ښندره م ډیره خوښه ده

چه کور کښې دېره یو ټپ ږږی نو هم ورته رغبے ګډیږم

روډیوسر:- (لږ سوچ کوی) څه خبره دے. څو ګوره وربا ډبول؟

شامتے:- څوک دے نو صیب.

روډیوسر:- نو راوستو دے نه؟

شامتے:-... نیمګړا رانه نهٔ دے څه چه.....!

پروډیوسر:- ښه ښه څهٔ ورشه راځئ وله.

[شامتے ځي او ځان سره په دجود یو مضبوط ځلمے رادلی]

ایکټرا:- السّلام علیکم. کهتمل صیب.

پروډیوسر:- (غصه شي) ولے وے نا معقوله څما نوم دغه دے چ

داتا اردو ے۔

ایکټر نمبرا:- صیب په اخبار کښې ئے هم دغه شان لیکلی دو نو۔

پروډیوسر:- اؤ- اؤ خو دا د کاتب غلطی وه- په صبا له ئے بیا
دَ دے تصحیح کړے وه- یعنی کهټمل صیب نه مکمل
صیب- پوه شوے۔

ایکټر دا:- (په ویره ویره) جی جی او مکمل صیب پوه شوم
خو دغه اخبار ما نه وو لوستے۔

پروډیوسر:- (غصه شی) نو هسے انټرویو له راځے چه روزانه
اخبار نه ګورے۔

ایکټر:- بیا به ئے ګورم صیب- دے ځل معافی راکړئ
(شامتی نه دَ روپئ نوټ ورکوی)

شامتے:- (روپئ ورته بناځی-) خیر دے صیب معاف ئے کړئ
سړے نه معلومیږی۔

پروډیوسر:- هلکه معاف دکړو-؟

ایکټر:- اؤ- جی بلکه دا داسے اوکړئ لکه چه ما هډو ویلی
نه دی۔

پروډیوسر:- مطلب دا شو چه ته خپل الفاظ واپس اخستل غواړے
هن۔

ایکټر:- بالکل جی- بالکل۔

پروډیوسر:- ډیره ښه ده ماته ستا الفاظ واپس کړل. خو
راته اووایه چه ستا نوم د خیرو شه دے۔

ایکټر:- خما نوم بیکار دے صیب۔

پروډیوسر:- هرڅه چه دے خو ته ئے ماته اووایه- په خپل
نوم خودلو کښې دَ څه شرم۔

ایکټر:- هم دغه م نوم دے کنه صیب۔

پروډیوسر:- کوم، پوه نه شوم۔

ایکټر:- صیب بیکار دِ وانه ورید و- اصلی نوم م شمشاد بن دے
او فلمی نوم م بیکار دے صیب۔

پروډیوسر:- ښه ښه- پوه شوم
ښه لو بیکار صیب ستاسو تعلیم به څومره وی۔

ایکټر:- ډیر دے صیب۔

پروډیوسر:- آخر څومره۔

ایکټر:- دَ خیره شپږ م پاس یئم کنه صیب۔

پروډیوسر:- (خوشحاله شی) او فلمی تجربه۔

ایکټر:- په دوؤ فلمونو کښې م کار هم کړے دے صیب۔

پروډیوسر:- شاباسے- شاباسے! کوم کوم فلم کښې۔

ایکټر:- دیو نوم دے د پلار قاتل- او دَ بل نوم ----

پروډیوسر:- (ویریږی) ۳۰۲ (تین سو دو) خدایه خیر
شامتیه- دَ پلار قاتل- ښه او بل۔۔۔۔

ایکټر:- د بل نوم دے د څپلو غل۔

پروډیوسر:- (په څپلو څپلو لاس وهی) شته- شته- شامتیه دَ
څپلو غل۔۔۔۔

د ایکټر ته) انترین کافي تجربه لري هن.

ایکټر:- کټمل صیب ستاسو دعاده د دیر یرزی) معاف

صیب پوه نه شوم.

پروډیوسر:- (غصه شي) کوره خانه دا کهټمل دی د

نه کوز کره.

ایکټر:- څه رنګ مې داسې زر کوز کړم صیب.

م ټول شپه کهونه کړې نه دې څه

پروډیوسر:- څه خیر دے. خو دا راته او وایه چه

کړم .. ټول نبه اوکړے شي.

ایکټر:- وا دا هم لا څه خبره ده. زه خو هریو نب

شم. باقي ستاسو مرضي ده چه کوم یو را بانډ

کول غواړئ

پروډیوسر:- [سوبح کوی] نبه کوره. داسې اوکنړ

تا د ترۀ نور واده کړے ده. او په څه مع

خبره ستاسو د ښځې خاوند جهګړه او شوه.

جینۍ لاړه د پلار کره. څه وخت چه ته کور

لاشې او خبر شې چه ستا ښځه د پلار کره مر

تلې ده نو ته غصه غصه د سخر کره روان شې

چه هته ور اورسې نو د کور په ورکښې د سخر

اولیدو. بے کار صیب! او وایه چه په داسې موقع

به ته د خپلو جذباتو اظهار څرنګ کوے.؟



ایکټر:- (جراٴت سره) صیب! چه زه ورور اور نسم او- اوکوم

چه سخر کا کاجی م ښځا مخ ولاړ دے. نو زه به....

نو زۀ به..... نو زۀ به (په ژړا ژړیدا کښې) کا کاجی

کوره کنه- پلوشه ځما نه په نه څه خبره دلته

مروره راغلې ده. که دغه حال وی نو په دالله

چه زۀ به کراچئ ته او تختم اوۀ.....

پروډیوسر:- (په کرکه سره) جي- جي- جي ته به ایله سخر

نه ژاړے.

ایکټر:- صیب ته هم کمال کوے. که په تنشه ژړا ترے

خلاص شوم. خو شکر به اوباسم- نا ځما ترۀ

لیدلے نه دے.

پروډیوسر:- (خاندی) ښه- ښه.....

ایکټر (کښیني) صیب جوړ ے ځما پارټ مرخوښ

شو.

پروډیوسر:- پارټ مارټ پریږده خو دا او وایه.

چه سکو روټۍ به ر د سوکهی روټۍ به وزن) خوږه

ور کړے.

ایکټر:- (حیرانتیا) سوکهی روټۍ (زړه ور) اوّ- اوّ-

پوه شوم. صیب او چے دروړئ یا دوئ کنه.

یا صیب چه څو مره کور کښې د ماشومانو نه پاتے

شوی وی. ټولے به در له راوړم. مېخ له به

مو پکار دی۔ کنه۔

پروډیوسر:۔ (خاندی) نه۔ نه بے کار صیب نه ځما په م
پوهه نهٔ شوے۔ ځما مطلب دے سیکور
یعنی ضمانت به څومره ورکړے۔

ایکټر:۔ (خاندی) دَ څه ضمانت۔ څه مرهٔ څه ۳۰۲ (زنین
دو) کښے دِ نیولے یَم څه۔ چه ضمانت غواړ

پروډیوسر:۔ نه نه برخوردارهٔ دا خبره نه ده۔ ځما مط
دے چه نه مونږ په خپل فلم کښے وا غستے۔

ایکټر:۔ وا دِے غستم صیب۔ هلکه شامتیه اُمبار
راکړه۔

پروډیوسر:۔ خوَ دے خبرے ضمانت پکار دے چ
نه به په وخت ځان رارسوے۔

ایکټر:۔ (خاندی) وا۔ دا هم لا څه خبره ده چه ت
به فلم جوړے او زهٔ به نهٔ درځم۔ پکر م
کوه صیب پوره درے میاشتے اوّل به درت
په سر ناست یَم۔ خو شرط دا دے چه ت
به راته ځاے ښاسے۔

پروډیوسر:۔ ځما مطلب دے دتم یعنی پیسے به څومر
داخلے کړے۔

ایکټر:۔ کنجکه دِ دربانده حرام شی۔

پروډیوسر:۔ پیسے به خا مخا راکوے۔ بے پیسے ایکټر بهرتی



کول ځما اصول نهٔ دی۔

ایکټر:۔ صیب زهٔ پیسے له کومے راوړم۔ ماخو پردے
خرخرخ کړے دے او دلارے کرایه او
دَ هوټل خرچ م پرے برابر کړے دے۔

پروډیوسر:۔ نو خان م نه بیا ایکټر نهٔ شے جوړیدے۔ یا
خو دوه زره روپئ راوړه او ایکټر شه۔

ایکټر:۔ مکمل صیب که ځما سره زرګونه وے نو بیا
به ما ایکټری کوله که دوکانداری۔

پروډیوسر:۔ خو بیکار صیب دا کار هم بے پیسو نه چلیږی

ایکټر:۔ نو بیا ځما نوم دَ خپل فلم نه کټ که۔ او دلارے
کرایه راکوه چه ځم ناوخته دے۔

پروډیوسر:۔... شامتیه داڅه وائ دے خو کرایه غواړی

شامتے:۔... او صیب پوهه شوم (هم هغه دوپئ ورته والپس
کړی) پوهه شوم صیب! هن واخله بے کار
صیب۔ دا دِ دَ لارے کرایه.... خوچه کلی ته
په خیر اورسے نو دَ خیریت چهټئ راواستوه
بنه.. !!

ایکټر نمبر ۱:۔.... (دَ لاسه ئے روپئ راونړوړی)... دے
خولے ته خو دِ اوکوره۔ چهټئ راواستوه۔ (ځی)

[نوکو نخفه دلګیر په کرسئ کښینی۔ مکمل
ئے په کرسئ دَ کیناستو نه منع کوی]

(ور دې بېږي)

شامتې:- (خوشحاله شي) صیب بله مرغئ راغله.

پروډیوسر:- ... کوم دے؟ (راځوا د یخوا ګوري) نبه. تیسه نو ورشه راځے ووله کنه.

شامتې:- ... هلک درغلم ور دِ رانه مات کړو څوار شے

(دوئم ایکټر راځي)

ایکټر نمبر۲:- ... (ګډ مارنِنګ سر- Good morning sir)

پروډیوسر:- ... (بجلئ نه ګوري او خاندي) مارننګ- خان م دا په شپه کښے مارننګ له کومے راغے.

ایکټر نمبر۲:- ... نه رښتیا صیب. ګوره مابنام.

پروډیوسر:- (په ډېره زوره خاندي) ګکه مابنام.

ایکټر:- ... (بے پروائي سره) یره صیب دومره غم سره مه جاره. نه خو پوهـ شوے کنه.

پروډیوسر:- ... اؤ- او خیر دے هیڅ پرواه نشته. انګریزي کومه سنا د پلار نیکه ژبه ده.

ایکټر نمبر۲:- وادر زار شم صیب! ایله څما په مطلب پوهـ شوے.

پروډیوسر:- ... (خاندي بیا شامتې ته اشاره کوي) هم دغه بو ماشوم دے لو. ولے نه وائے شامتیه.!!

شامتې:- نبه وائے صیب. نبه هم دخدائے پاک پزل



(فضل) دے.

پروډیوسر:- ...... نبه وایه کنه نه به کوم بو ردل بنسه اوکړے شے.

ایکټر نمبر۲:- ... ډه ... زه څو صیب هر یو نبه کولے شم. په ټیره ټیره د ډیلین (ډیلن) پارټ نبه کولے شم.

پروډیوسر:- ډیلین؟؟ نبه. نبه

ایکټر نمبر۲:- ...... (ایکټینګ کوي) دَ دے ځایه به اوس سنا جنازه اوځي. یا څما.. !!

شامتې:- ... (تښتي)

ایکټر:- ماتاته ډیر صبر اوکړو- خو تا څما د شرافت نه ناجائزه فائده واخسته.

{پاسیږي او پروډیوسر له نزدے ورځي.

پروډیوسر لاسونه ډپیږي]

اوس ستا لاسونه ریږدي چه راګیر شوے. یاد لره زه به نن تاله هغه سزا درکوم.... هغه سزا درکوم چه دنیا به ئے یاد ساتي.

{ایکټینګ ختم کړي او په کرسئ نبه په آرام کښیني پروډیوسر په ډیره ویره دهغه څخ نه ګوري}

پروډیوسر:- شامتیه!! وه شامتیه. (په رومال د خپل

تندی نه نوله اوچوی) په هلکه راشه یو ګلاس اوبهٔ
راوړه. زر شه.

شامتے:- (په ډیره ویره راځی) صیب! (ایکټر ته په ډیره ډیره
ګوری او راځی) صیب تاسو څه وئیل؟

پروډیوسر:- اوبه راوړه خوار شے.

شامتے:- ښه صیب (په ویره ویره ځی)

ایکټر نمبر۲:- صیب ځما پارټ موخوښ شو.

پروډیوسر:- پارټ! دا پارټ دو.... خو خو. خوته ماته
دیر جذباتی ښکاره شوے.

ایکټر نمبر۲:- (خاندی) ښه صیب ګنے کار به او شی.

پروډیوسر:- (خبره بدلوی) او- خو... خبره دا ده کنه چه
ماته خپل فلم له یو شرابی پکار دے. یعنی د
شرابی د رول د پاره.

ایکټر نمبر۲:- کمال کوے صیب. ځما نه به لا بل شرابی څوک دی
نشته چرته یو ګوټ نیم ؟؟

پروډیوسر:- ګوټ نیم -؟ نه. نه. دلته خو !!

شامتے:- (ګلاس کښے اوبهٔ راوړی) ایکټر ته ګوری او
پروډیوسر له اوبهٔ ورکوی.

(ایکټر ترے ګلاس اخلی او- اوبهٔ څښی. په
داسے دول لکه چه سړے شراب څښی)

.... آؤ میری جان گلے مل لو..... نہ جانے میں تیرے لئے کب



سے تڑپتا رہوں گا- آؤ... خدا کے لئے آؤ- اور آئندہ جانے کا
نام نہ لینا- یہ دنیا والے بڑے ظالم ہیں- یہ کبھی دو دلوں کو ملنے
نہیں دیتے -

پروډیوسر:- څه کوے خوار شے. دے ګیرے ته م نه کوے.

ایکټر نمبر۲:- آؤ آؤ میرے قریب آؤ اور میری بن جاؤ-

(پروډیوسر او شامتے ډیر ډیری هم او
حیران هم دی- ایکټر کرسئ کښے اوغورزیږی)

پروډیوسر:- (زړغوړے شی) شامتیه !!- نین سو دو (۳۰۲)
خدایه خیر-

شامتے:- خدایه خیر

پروډیوسر:- (د ایکټر نبض ګوری ته نیسی) شامتیه
خوار شے- دا خو مړ دے-
(په مخ ورله اوبه تړمکے کوی)

ایکټر نمبر۲:- (لکه چه د خوبه را بیدار شی)..... صیب
ځما پارټ دے خوښ شو.

پروډیوسر:-... او- اوخوښ م شو خو ته چه په نشو اوبو
داسے زر نشه کیږے. نو که په رښتیا دے شراب
او څښل- نو څه حال به دے توی.

ایکټر نمبر۲:- هم دغه شان صیب- ده نیچرل ایکټینګ
یعنی خالص سوچه.

پروډیوسر:- ښه.... ښه.... !!

ایکټر نمبر ۲:- ستاسو په فلم کښې به داسې رول اوکړم صیب چې د
شرابي د پلار نه به هم ښه وی.

پروډیوسر:- او- خو... خبره دا ده کنه چې زهٔ فلم جوړوم
پښتو کښې- او نهٔ ښهٔ کار کولے شې اُردو کښې

(په ویره ویره) خیر غم مه کوه هر کله چې زهٔ
د اردو فلم جوړوم نو پسې به سړے درولېږم
او- او-

ایکټر:- رښتیا صیب!!

پروډیوسر:- او- او- خیر به درشی.

(ایکټر ځی)

(شامتي ته) شامتیه!! بلا وه او برکت ئې نه وُو.

شامتے:- او صیب ډیر بے برکته وو- ډېر خو ویم
صیب- پریږده د فلم دا خبره.

پروډیوسر:- (په ډېره غصه) شامتیه- هره خبره
به کوے خو دا خبره به نه کوے- ماته دے
کښې ځپل هو ستا د دواړو مستقبل روښانه
ښکاری-

(ور ډبیږي)

پروډیوسر:- ورشه اوګوره کنه څوک دے.

شامتے:- دے ځل نه ورشه چرته هغه وختیني ایکټر
بیا نهٔ وی.



پروډیوسر:- مه مره- مه مره- ورځه-

شامتے:- (په ویره ویره ځی)

[شامتے خوشحاله خوشحاله راشی- ددستو ورپسے
یوه زنانه بوږنه کښې پټ مخ را روانه وه-

ښځه:- السّلامُ عَلَیکُمْ! (پروډیوسر چې هغه او دیدی
نو د کرسئ نه پاسی]

پروډیوسر:- و علیکم- و علیکم- راځئ- راځئ بی بی کښېنئ-

ایکټرس:- (کښېنی) ستاسو د فلم خبر مې په اخبار کښې لوستے وُو-

پروډیوسر:- د سحره راسے اداکار شوے نه یم- ایکټران
دی چې راځی- (شامتي ته د مهرونو اشاره کوی خو هغه نه ځی)
ښه شوه چې ته راغلے مونږ ته خپل فلم
کښې ضرورت وُو-

ایکټرس:- رښتیا صیب (نزاکت سره) لکه تاسو زه په خپل
فلم کښې وا خستم-

پروډیوسر:- ولے نو ته په دے کښې لا شک کړے شئ!

ایکټرس:- یره صیب ته څو مره ښه سړے ئې- دا نور
فلمونو والا خو د پیسے خلق نه دی-

شامتے:- بالکل بالکل د چال چلن هغه ساړی پیکټو نه
ورته او نبایه کنه صیب-

[ددواړه ورته ډیر په مینه مینه ګوری]

ایکټرس:- نه- نه- سرټیفکیټ نه حاجت نشته- تاسو خو ګهما

روانه یېږي. (پروډیوسر خفه شي)

پروډیوسر:- دا به څمونږ فلم کښې د هیروئن.....

(ایکټرس مخ ښکاره کوي د واره شرمنده شي

ولې چه دغه ښځه ډیره بد رنګه وي)

پروډیوسر:- څه مطلب دے. د هیروئن د مور پارټ ادا کوي.

ایکټرس:- څه. څه. ایله د هیروئن د مور پارټ تاسو

هم ایله د بوډۍ ښځې رول کوئ. (پاسي)

شامتے:- کښینه کښینه. د تعدۍ نه کار مه اخله. صیب

سره د هیروئن رول هم شته.

پروډیوسر:- نو هغه ـــ

ایکټرس:- هغه تاسو بل چا ته ساتلے دے.

(پاسي روانیږي)

شامتے:- وا بي بي. ته لږ صبر خو اوکړه کښېنه.

صیب فیصله کوي

پروډیوسر:- اؤ. اؤ. ماله لږ وخت راکړه.

ایکټرس:- تاسو سوچونه کوئ او زۀ درنه لاړم.

(ایکټرس ځي او شامتے او پروډیوسر یو بل ته

خفه خفه ګوري)

(دریم خندا خولے هلک را ننوځي او دواړو

سره پروډیوسر ته درنو غاړه ووځي)

ایکټرس نمبر۳:- السلام علیکم ــــ جناب محترم و بزرګوارم



مکمل صیب دام ظلکم.

وډیوسر:- وعلیکم سلام. پخیر پخیر (جولې تازه کوي)

ستاسو تعریف؟

انټ:- جي دورم دے تاسو ئے جوړه پېژني. زما تعریف

ګل لاله ډیر ښه سړے دے. خو یوه خبره د مچ

د فلمونو نه ئے کومک دے. همیشه م پرے رټي.

ډیوسر:- څه مطلب دے ستاسو اسم شریف.

کټر:- صیب د اسم شریف سړي ئے وند ګران دے. او

بیا فلمي دنیا. خوشه او کړم. دے نن سره م

ډیر شوق دے نو.

ډیوسر:- څه مطلب دے ستا نوم.

[قمیص او چنتوی چه نوم (ناف) ورنه او ښائي.

شامتے ئے منع کوي]

یکټر:- ښه. ښه پوهه شوم (ښامتي ته) منشي صیب لیکه.

پروډیوسر:- مانه او وایه دے آن پښه دے.

ایکټر:- لیکه کلے غم آباد. ډاکخانه نارست خیل کنډي

او زکار خیل خاص طریقه کل بربادکو بونت

نیک مشرف باد.

پروډیوسر:- او م لیکل برباد صیب.

ایکټر:- خو صیب یو کار به کوے.

پروډیوسر:- څه ؟

Scanned with CamScanner

ایکټر:- لفافه به راته بے ډنګه رالیږے مونږ ته کر

ډنګداره چهمنۍ نه را رسی.

پروډیوسر:- هغه ولے ؟-

ایکټر:- خبره داده چه ډنګدار خط چا ته ملاؤ

په جیب کښے دوست شی - په ډیران

خو مالک ته ئے نه رسوی. او چه پیسے تر

لاړے شی. نو بیا ئے را ته سمدستی

او دځان سره د روپئی مات کړی هم راؤ

پروډیوسر:- ښۀ ښۀ- ته فکر مه کوه- بے ډنګه

کښے شامتی ته به ئے په غاړه کښے واچ

نیغ به ئے در اورسوی.

ایکټر:- (خو خوشحاله شی) آفرین مکمل صیب، منم

دنیا کښے پروډیوسر پاتے دے نو هغ

ته ئے.

پروډیوسر:- څه ښه شوه (شامتی ته) شامتیه مو

هسے هم د فلم د پاره د یو تهوتی مار یعنی

ضرورت وو. کار اوشو.

شامتے:- او صیب ډیر ښه کار به اوکړی.

پروډیوسر:- بس نا به مونږ په خپل فلم کښے د چارلی

رول د پاره واخلو.

ایکټر:- (حیرانتیا سره) اؤ صیب هیرو موخوک بل ش



اغښنے دے که په خپله مو ودنه خیال دے.

پروډیوسر:- (خپلے کالرے ټهیک کوی) اؤ هیرو را سره

شته -

ایکټر:- (ګیله مند انداز کښے) خو دا پارټ را باندے

نه کوئ - صیب.

پروډیوسر:- دا سے مه وایه برباده که دا پارټ دے اوکړو

نو په والله چه آباد شے -

ایکټر:- (منت کوی) خو صیب ایښے یو کار نه شی

کیدے -

پروډیوسر:- څه ؟

ایکټر:- چه د چارلی په ځائے را باندے د چارلی د

پلار پارټ اوکړئ.

پروډیوسر:- د چارلی پلار..... خو زمونږ سره دا سے

پارټ بالکل نشته. ولے نه وائے شامتیه.

شامتے:- اؤ صیب.

ایکټر:- ګوره کنه صیب د خپل عزت هم څه خیال پکار

دے. (رهال کښے خلقو ته اشاره کوی) خلق به را پورے

خاندی نه.

پروډیوسر:- که ته د خلقو په خندا پسے ځے نو څا ؤرے به

ایکټر شے (سوچ کوی) خو ته به څها فلم کښے

دلیونی رول کوے.

ایکټر:- لیونے-!

پروډیوسر:- اُو- اَو- چه کوم لیونے ستا د ماغو کښے ناست دے- هغه بس هم ته یے-

ایکټر:- بس او شوه صیب په خپل د ماغو کښے ستا د ملاسے انتظام هم اوکړئ- زهٔ خو چې خپله بستره راوړم دپاسی)

پروډیوسر:- کښینه کښینه دا فلم کمپنی ده څه سرائے نه ده خو ته اوّل د خپل آرټ مظاهره اوکړه-

ایکټر:- په غوږونو لاس ږدی او سندره وائی ہ
بهنګو لیونے کړے یه پچوکو کوے خوبونه
بهنګو لیونے کړے جانانه

شامتے:- زلا سونه پرقوی-

پروډیوسر:- رکیله مند شی) چی- چی- چی- دا خو د لیونتوب اولنئ پوړئ ده- کوره دا سے فرض کړه چه ته د لیونتوب په آخیرنئ پوړئ ولاړ یے

ایکټر:- رناصافی) (د لیونو په شان)- دروغ- دروغ- دروغ زهٔ لیونے نهٔ یم- ته لیونے یے- ستا پلار لیونے دے- دا ټول لیونی دی- رخاندی) زهٔ خو شهزاده یم- د لیونو د ملک شهزاده رژاړی) خو ستا شهزادګئ څهٔ شوه چرته لاړه ستا شهزادګئ- رخاندی) لاړ شه لاړ شه



ستا رعیت ته اووایه چه اوس به یو لیونے هم څوک نه تنګوی-

پروډیوسر:- آفرین- آفرین بس او شوه- اوس ته ورشه- ته د دغه نوکر به درپسے درشی-

ایکټر:- نوکر که څه صیب-

پروډیوسر:- نو نو یعنی دا شامتے- ته فی الحال سیکورټی یعنی څه رقم بطور ضمانت جمع کړه-

ایکټر:- ښه- ښه- د نوکر دا تلو کرایه به یادوئ- ستا صیب دا یوه روپئ او څلور آنے یعنی پنځه پاوه ستا د سر صدقه-

پروډیوسر:- نه- نه- ستا مطلب دے دوه سوه څلور سوه زر دوه زره درے زره-

(پروډیوسر تکیا دے- او ایکټر غوږونو کښے ګوتے ورکړی او روان شی)

ایکټر:- بس نه تکیا وسه زهٔ درنه لاړم- خو ګورے بے رنګه چهټی یاد لره-

شامتے:- بس کړه صیب لاړو-

پروډیوسر:- درے نیم زره- څلور زره- څلور نیم زره ...... شے دومره خو به دِ صبر کړے وو چه پنځه زره م پوره کړے وے کنه-

(ورو په بسینږی)

پروډیوسر:- شامتیه !! ورشه بل څوک د ے.

شامتے :- وی به - دا خلق هسے اوزګار د ے د یوے پیسے دډک په کښے نه لږی - او راځی ایکټری له !!

پروډیوسر:- واکم عقله ته څه خبر ے که دا هم هغه د سروډرو مرغئ وی دَ چا چه موږ په انتظار یو - اوګوره لږ ے چا ے هم اوداپیه

شامتے:- یره خو نو... یو خو دَ سحره راسے دَ ور پریږدے نه راوستم

(شامتئ او یو ترنرے ایکټرراځی)

ایکټرنمبر۴ :- اس - سا - سا - سالام - مه - مه - بیګم.

پروډیوسر:- دا - وا - وا - والے کم.... سلام.

ایکټونمبر۴ :- صه - صه - صه ایب - ته - ته - ته ام جوړ ځه ځه - ما په په په دنګ ے.

پروډیوسر:- بیا ماویل ته جوړ ے ایکټینګ کوے.

ایکټرنمبر۴ :.... نه - نه - نه - صیب - ایکټینګ خو ته کوے.

پروډیوسر:- دَ شکل و شباهت نه خو واقعی چه دَ ایکټرئ قابل ے خو دا دَ ژ بے.

ایکټرنمبر۴ :- بنه - بنه خیر د ے کنه هیب د ے تنلے هیرد نشی جوړیدے څه ؟

پروډیوسر:- د ے نشی جوړیدے خو خبره داده چه موږ



... دنیا ته یو مکمل انسان ښایو کنه -
... نو - نو - نو مکمل صیب - آخر په په په تما کښے څه
... کم دی -
... هیڅ هم نه - خو بس دغه دَ ژ بے.... ؟

...یوسر:- نو - نو - نو - نو و لے ئو صیب خیر دے کنه -

...نمبر۴ :- ځما دکشر رور هم ژبه ابخلی -

...یوسر:- نو - نو و لے نو صه صه صیب هغه سو دَ کوکوکوره ویلنے ذ ے څه ؟

...یوسر:- نه - نه - دکوره به ے و لے او باسو - راځه کښینه - هیڅ خبره نه ده -

(په کرسئ کښینی) شامتیه وا شامتیه -

...متے :- (راځی) در علم جی -

...یوسر:- د چایو دِ څه اوکړل د سحره راسے مو یو پیالئ چا ے قدرله او نه شته.

...نمبر۴ :- رش - شه - شه رښتیا وائ - هلکه مه مه ما هم نه دی څښلی - لږ ے دیر ے راوړه

...متے :- د ے خو لے ته ے اوګوره -

...ټر :- وا - وا و لے ما نا ته څه ویلی دی -

...متے :- درنه وایم چپ شه کوره -

...ټر :- په - په پروډیوسر صیب - د ے پوله کړه -

...متے :- هلکه نه خو هغه ډیره خپل عزت نه پوهیږ ے.

Scanned with CamScanner

ایکټر :- پہ- پہ- پہ عزت نو ټسنډر ته نه پوهیږے

شامتے :- ورته واټم دا نحوله دِ پہ واک گره کوړے.

ایکټر :- ته دِ نحوله سمه گره

شامتے :- او دریږه ته دا سے نه سمیږے (د جیب نه یو

شان چاقو را اوباسی او په لاس مے تیره کوی

ایکټر - صه- صه- صیبا - اوګوره ورته چاچاچاقو

پروډیوسر :- هلګه شامتیه - نحوار شے څه کوے

ے کوسے څه-

شامتے :- نه صیب دے دا سے نه سمیږی-

ایکټر : صه. صه. صیب پوهه ے گره - چہ چہ چاقو

راوییتے دے.

شامتے :- ته هم و پخپله حیا نه پوهیږ ے-

ایکټر : صه. صه. صیب پخ کوه پم کور ے-

شامتے :- صیب خلا صے به ے را نه نه.

پروډیوسر :- شامتیه- ما خو هم پوه کړه کنه چه تا د

دقتل آخری فیصله و ے کړیده.

(شامتے. پروډیوسر او ایکټر دوه درے

ځله کښینی- پاسی)

ایکټر :- صیب مه مه ما وژنی.

شامتے :- ګوره هغه شان ټکیا دے کنه.

پروډیوسر :- هلګه شامتیه. خوار شے څه خو ادوایه کنه- چه ته



دا ۳۰۲ زنین بسرهودرلے کوے

(ژړغونے شی) صیب دا ورته کوے نه

شامتے :- صیب زه ستا د پلار پیښے کوی-

چه د وختی را سے څما د پلار پیښے کوی-

پروډیوسر :- (غصه) هن! دے لګه ستا د پلار پیښے ولے کوے؟

(ایکټرته) و لے و ے نه دوه د پلار پیښے په څه کوم- دانحوزما

ایکټر :- صیب زه د ده د پلار پیښے په څه کوم- دانحو زما

آ- آ (ژبه اوباسی)

پروډیوسر :- (په زوره) را غے؟

شامتے :- (دانحوا دیخوا کوی) څوک را غے صیب-

پروډیوسر :- خیال م څبر ے نه را غے شامتیه. دانحو دے

ستا د پلار پیښے نه کوی- دا څو د ده ژبه دا سے

ده-

شامتے :- بنا- ؟؟ !!

ایکټر :- او کنه -

پروډیوسر :- د ده نه معافی او غواړه (ورته غاړه ووځی)

شامتے :- (دوره ما معاف کړه (چاقو ورد ولی)

ایکټر :- مه- مه. مه- مه ما ف م کړے.

پروډیوسر :- تا موږ معاف کړو؟

ایکټر :- او صیب !!

پروډیوسر :- ښه- نوته هم موږ ماف کړے- ورځه د خدا ے

په آمان او ښپه د ِ په خیر- (ایکټر الاړشی)

پروډیوسر:- شامتیه ورشه ځوک بل ځوک دی.
(ور چې بیږي)
شامتې:- په توپه مې اوله. دا هسې او ژمکارنځیل دی.
خدایې خبر سحر د چاپه مخ پاسیدلی یو.
پروډیوسر:- خوار شې دلته نو رنځوک دی نخو دیو بل
بوتا لمو سحر ونختی لیدلې دې نو. ځو ورشه
شامتې:- (خوشحاله شي) او صیب - را یاد شو. چائې والا
به وي.
[شامتې ځي او یو بنګلې ځلمې په سوټ کښې راشي]
ځلمې:- ربل
پروډیوسر:- کُل - بالکل - بالکل - صفا ایکټر ښکاري.
شامتیه- ځمونږ د فلم هیرو مونږ ته ملاو شو.
شامتې:- او جي - او جي
ځلمې:- دا څه ګلیا ږ زه بل یادوم.
پروډیوسر:- د څه بل- د نکلې که د بجلۍ - خوار شې دَ
دې نه خو مونږ د کوره کډه کړې ده.
ځلمې:- د هوټل بل د هوټل - تر اوسه د ډباندې
شپږ سوه روپۍ او پنځه کم انیا پیسې جمع
شوې دي.
پروډیوسر:- څه! شپږ سوه!
{په زمکه غورځیږي. دداره پلنبې ړ اوچتې



[پانے شي. شامتې ورله پښې نبکته کړي - ناست
پانے شي چه څملوی ئې نو بیا پښې اوچتې پانے
شي - دده درې ځله داعمل کیږي.]
شامتې:- (ځلمي ته په ژړا کښې) صیب ډرالله مه کړه.
ځلمې:- هن! مه شو- [د پروډیوسر په سینه پروت بل را اوچت
کړي- شلوی ئې- او نل غواړي. چه شامتې ئې د پښې
نه را او نیسي]
شامتې:- چرته تښتې - څه خو اوس را کړه چه کلي ته خو پرې اورسم-
ځلمې:- (صیب ته لاس کړي څه پیسې ورکړي) هن داخله خو
زرېئې دَ د دے ځایه او باسه- تعدی کوه.
پروډیوسر:- هله خوار شې سامان راغونډه وه چه تښتو-
شامتې:- صیب ته جمدے ئې. ماخو وے که نه مړ شوے-
پروډیوسر:- خوار شې وچنېږم تخد. زهٔ به هله مرم چه چل نا مکمل
فلم مکمل کړم.
څه پوهه شوے
(دداره سامان آخلي او تښتي)

# لاعلاج

## کردارونه

| | |
|---|---|
| ششتی ګل (د عمر تقریبًا پنځوس کاله) | یو لاعلاجه مریض چه د علاج دپاره په وارډ کښې محفوظ کړې شوې وه (نومبر ۱۹۷۴) |
| نرس | د هسپتال یوه نرس |
| ډاکټر | د هسپتال یو ډاکټر |
| سپاهي | د ښهر د ټریفک سپاهي |
| سعید | د ښهر ځلمے مشر (مئیر) |
| جاوید | د سعید ورور |
| اپریټره | ټیلی فون اپریټره |
| نیلوفر | د سعید ښځه |

نوټ :- د ششتی ګل د محفوظ کولو وخت د اوس نه تقریبًا پنځوس کاله پخوا فرض کړې شوې دے۔

Scanned with CamScanner

# اوله ننداره

## هسپتال

نرس:- سر- او مبارک شه- مریض کښے حرکت راغے.

ډاکټر:- یا الله ستا ډیر شکرونه- اوس به د دهٔ د علاج دویمه مرحله شروع کیږی- خو تاسو به ډیر خیال ساتئ- هسے نه چرته......

نرس:- تاسو فکر مه کوئ سر- د دهٔ ډیوټی نه زهٔ یوائے یس یم- غریب په قلاره پروت دے.

ډاکټر:- او کنه ما وے هسے نه د دهٔ د خپلوانو په طمع شئ (مسکے) خپلوان غریبانان خو ئے پخوا د کور خاورو خوړلی دی- زمانو پس د دهٔ د مرض علاج معلومه کړے شو.

نرس:- دے ډیر خوش قسمته انسان دے سر.

ډاکټر:- ستا خبره ټهیک ده

نرس:- هسے ما وے کیس به کامیاب شی او که نه؟

ډاکټر:- شفا د الله لاس کښے ده نرس- خو د ده په رګونو کښے چم شوے وینه روانه ول لویه خبره ده. او تهٔ وینے چه د مریض رګونو کښے وینے حرکت شروع کړے دے.



نرس:- خدائے خبر چه د دهٔ په رنګ به څومره مریضان د کینسر د لاسه حق رسیدلی وی.

ډاکټر:- او نو کینسر خو پخوا لا علاج مرض وو کنه- خیر که دا کیس کامیاب شو- نو زمونږ سره څو کیسونه نور هم شته- هغه به هم د دردونه راوباسو- او د نوی ژوند زیرے به پرې اوکړو-

نرس:- خدائے د اوکړی چه دا کیس کامیاب شی- دا به د اوسنئ زمانے یوه ډیره اهمه کارنامه وی.

ډاکټر:- زهٔ ورځم چه د نورو کیسونو مطالعه اوکړم- هیډ کوارټر نه به د ورځے رپورټ استول پکار وی.

نرس:- نور څومره کیسونه دی سر-

ډاکټر:- دوه کیسونه د ده مرکری دی چه سل کاله زاړهٔ دی- او د پنځوس شپیته کالو زاړهٔ کیسونه خو څوارلس دی.

نرس:- د دے مریض تجربه که کامیابه شوه نو بیا وایه چه د هغوئ علاج هم اوشو-

ډاکټر:- نهٔ خیال سا نه زهٔ ورځم-

نرس:- ډیره ښه ده سر-

Scanned with CamScanner

## دوېمه ننداره

## هسپتال

ششتي ګل:- (کمزورې آواز) دا زه چرته یم....نه....نه شوک يې
نرس:- او مبارک شه - او مبارک شه - ته جوړ شوې
د خيره.
ششتي ګل:- هن - وې ... زه ناجوړه ووم څه.
نرس:- اې کنه - خو ته اوس ښه يې - صرف کمزوري ده
هغه به هم ښه شي.
ششتي ګل:- تجمیر ګل څه شو - ؟
نرس:- کوم تجمیر ګل!
ششتي ګل:- خما بچې نه پيژنې ؟ نيه نيه، هغه به لا د مدرسې
نه نه دی راغلی.
نرس:- (خاندي) بس ته آرام اوکړه.
ششتي ګل:- زه ګرځيدل غواړم.
نرس:- ګرځيدل غواړې - ؟
ششتي ګل:- ما کور ته بوځه.
نرس:- کور ته ؟ خير چه ډاکټر راشي تپوس به ترې
اوکړم.



ششتي ګل:- ډاکټر به کله راځي ؟ زما چې ډير ياديږي.
نرس:- هرڅه به اوشي - هن ته دا دارو اوخوره چه لږ
آرام اوکړې.
ششتي ګل:- (ناډره) داسې کړه نو....

## دريمه ننداره

(يو معروف بازار. د لارې موټرو
غرغور. ډار نو نه)
(يو موټر سخت بريکو نه لګوي)

سپاهي:- (په غصه) دا څوک يې وړې ؟ ليونې خو نه يې - ؟
ششتي ګل:- څه مړه! هر څوک چه يم ته م څه کوې ؟
سپاهي:- لږ څه کېنې به موټرو هلې وې. د ځان دشمنه!
ششتي ګل:- نو ستا پرې څه ؟ موټرو هلې وې ؟
سپاهي:- عجيبه سړې يې شکر نه کوې چه د مرګ
بچ شوې.
ششتي ګل:- څه خپله د پټې کوه مړه - ما ته ستا د
نصيحت حاجت نشته.
سپاهي:- يا خو ليونۍ يې يا نو (ششتي ګل ته) ته
به ما سره ځې!

ششتي ګل:- چرته مې بیائې -؟ پرېږده ځما لاس ... کوره نه ځم.

سپاهي:- ته چرته اوسې؟

ششتي ګل:- پېریانو محله کښې سرېږم. نور... پرېږده لاس مې.

سپاهي:- پېریانو محله کښې! دا چرته ده؟

ششتي ګل:- پېریانو محله قدرله درته نه ده معلو... او په مونږ نود تود کیږې.

سپاهي:- دې ښهر کښې خو دا محله نشته -!

ششتي ګل:- (په دوره خاندي) پوهه شوم ستا به ... اوس دې ښهار ته بدلې شوې ذي. ځکه په نښه نه یې.

سپاهي:- داخځ واسې! ځما خو دلته پنځه کاله ...شو د پېریانو محلې نوم نه دې اورېدلې.

ششتي ګل:- ځ دې زهٔ ذمه وار نه یم.

سپاهي:- ښه کوره تا سره شناختي کارډ شته؟

ششتي ګل:- ما سره هیڅ هم نشته.

سپاهي:- ته به ما سره ځې.

ششتي ګل:- چرته -؟



سپاهي:- د دې ښهر مئیر له.

ششتي ګل:- د څه د پاره.

سپاهي:- خفه کیږه مه. ستا کړه وړه او خبرې بې بیل ډول دي. ته به .....

ششتي ګل:- څه مزه یې خپل کار کوه.

سپاهي:- ښه به دا وي چې پخپله راسره روان شې ګنې نو-

ششتي ګل:- ګنې نو څه.

سپاهي:- بیا به دې هتهکړو کښې بیایم.

ششتي ګل:- هتهکړو کښې! تهانړے ته! ښه ځم درسره خو اینې سپاهي دوره ډېر به مې حصار دې نه - پیچي به مې په انتظار ئی.

سپاهي:- ځه چه ځو!

## څلورمه ننداره

(نرس بې ساه ډاکټر سره خبرې کوي)

نرس:- سر ششتي ګل غیب دې.

ډاکټر:- هن! داځه وائې نرس.

نرس:- سر ټول هسپتال موږ پسې لټ په لټ کړو. خو هیڅ

... او لیده.

ډاکټر:- آخر لاړه و چیرته ؟

نرس:- سر! خدای خبر څرنګه غیب شوے دے. زه

په خپله حیرانه یم.

ډاکټر:- ښه.- دا خو ډیر اهم کیس وو. خو خیر اوس د نظره

نه بهر وو.

## پنځمه ننداره

(د ورځ بیګا ده ی)

(رلېز دلو ے ننداره تلی ټینګید و آفاز راځی)

نشتی ګل.- (رلېز غصه) دا سے نه راځی مره تماشه کوه بنده

(په لاس ور ډبوی) چه دے اوس راځی کنه.

نشتی ګل:- (ور ډبوی)

سپاهی:- (رمنځ کوی ے) آں هن. دا څه کوے بے وقوفه -

څوک په لاس ور ډبوی.

نشتی ګل:- نو نور ځے په څه او ډبوم. په کوڅه کښے نه

ګنټه لوټه بنکاری او نه نور څه.

(د سعید راځی)

سعید:- څه دی هلکه ؟



... مانګ

سپاهی:- صیب اماوے وا سره ے به ښه چیک کوی. مانګ

غونډی ښکاری.

سلام علیکم منو صیب.

نشتی ګل:- زه کو منو غړوڼی را غلے یو دے.

سعید:- له کو منو غړوڼی را غلی او دے. خو ایسځو زما ورته ښه ا

نشتی:- زه هم ګوړ دے ښهرا و سپید و لګے یم. خو دا نه شاغلی چه

سعید:- ستا قد قامت او رنګ او جوته خو دا ته څاغلی چه

سعید:- ستا قد قامت او رنګ او جونه خو دا له څاغلی چه

په ډ دے ښماځ او سپید و لګے یے. او کوره دا

ښه د دے لاس کښے نیولی دی.

ښیلئی = دے لاس کښے نیولی دی.

نشتی:- په ښو کو مه دے صیب ! ما دے چه منتر ه

لوړه تیزه و هم.

سپاهی:- ډیر کم عقل دے صیب ! لنډ ځه کښے به مونږ

چخړی کړے وو.

سعید:- زما خیال دے دماغ یے خراب دے.

نشتی:- منو صیب دو مره لحاظ هم ډ اوکړو که نو ره ډیر خوله

خرابه او خوږ وله نو خدا یے ښه ښه به د دله بد

شی. او.

سعید:- (سپاهی نه) نه وبخه.

سپاهی:- ښه صیب (رلاړ شی)

نشتی ګل:- او زه - !

سعید:- راځه. راځه- پرده- پرده ده. څوک

نشتی گل:- څه دهاندے شه نو. (دقدموش)

سعید:- وے وے لے نه خو اودرېږه سے.

نشتی گل:- (دلږ غصّه) هسے وائے څوک نشته. دا بخاینه

څوک دی.

سعید:- څوک؟ دغه؟ (رخاندی) راځه یره- دا زما

دوه دے.

نشتی:- دا ستا ورور دے؟ (په زوره) دا ستا رورر دے-

سعید:- چخ مه وهه سړیه! راځه راځه.

نشتی گل:- (ځان سره) توبه رم دِ وی خدایه توبه (سعید ته)

رشتیا اودرېږه چه دوه سره دِ خوجوړ تازه اوکړم

کنه بیا به وائی چه څنګه.

سعید:- نه. نه.- هغه پوهېده- راشه اول دے ټب

کښے لاس او وینځه-

نشتی گل:- (خوشحاله شی) ښه- ښه- دا خبره کوه سړیه

(ځان سره) را ته ښکاری په تیاره را او رسیدم-

## شپږمه ننداره

نشتی گل:- ښنا! لکه دا ستا دوه دے هن- دا اوږد بر سر اد ښکو جاے؟



سعید:- نه ما سره د ننه راځه- کمپوټر له.

نشتی:- کمپوډر دِ ځان سره سنبال کړه صیبا. پس له

دے به چا دِ انګشتر نه هم لاس او نه بنایم. ته دِ

کمپوډر جاړ ے.

سعید:- نه. نه ستا معائنه ضروری ده- کښنے دے ښهر

کښنے به دِ یو منټ له هم پرېږندم.

نشتی گل:- هائے نشتی گله بنده ه- دَ باران نه پټېدے

دِ پرنالے لاندے دِ شپه شوه- (سعید ته)

زهٔ دارو له نه دَ بال ځچ لیدو له راغلے یم.

سعید:- هاشه چه دی خو نه یه له دے ځایه هله ځه چه

زما تسلی اوشی چه ته په سته روغ ئے.

نشتی گل:- څه یره- ته هم لا اوزګار ئے- ماسره کنجکه

بَدر له نشته- او نهٔ لکیا ئے. ما له دِ اکتران

نکو دے-

سعید:- ته بے غمه اوسه ستا به پیسه تکه نه لږی.

نشتی گل:- یره زور آور سړے را ته ښکاره شوے.

مشر صیب! څه نو وړاندے کیږه (دقدمونه)

رشتیا پرده خو اوکه کنه....

(دقدمونه)

Scanned with CamScanner

سعید:- اوۍ- د ده نوم جاوید دے.

ششتي ګل:- جاوید خانه بچو- دا ویخنه به لږ......

جاوید:- اوۍ- اوۍ زما هم درته خیال دے- سودا مه…

په دوه منټه کښې به درته زمونږ په شان س…

سرے جوړ شي.

ششتي ګل:- خدائے مکړه- دا سم دم سړے داسے وي- لکه…

سعید:- جاوید ده دے پریږده.

جاوید:- ماته خو چرته د غرونو بنکاري.

ششتي ګل:- ده له هم لا کلے ور کړئ برخورداره زه

د دے بنهر اوسیدونکے یم نه- که یقین

نه راځي نو ځه ورشه- پیریانو محلے ته......

ششتي ګل ښوک نه پیژني.

جاوید:- د ده دِ بنه معائنه کړے ده.

سعید:- کمپوټر خو ئے سم بنائي.

ششتي ګل:- او زه یم سم- ځئ ورشئ د خپلو مرغ…

علاج مو اوکړئ.

جاوید:- ستا نوم؟

ششتي ګل:- زما نوم خاو دے ششتي ګل.

جاوید:- د میګا مونږ خو به د دنه صرف ششتي وایو.



ششتي:- په پوره نوم دے خوله ماتیږي ځه؟ سم نوم راته

اخله کښې کاکا رانه وايي.

جاوید:- سعیده- سړے دلچسپ دے- که دِ خوښه وي ځان

سره به ئے اوساتو.

ششتي:- دا به ستا د خولے خبرے وي نو- ځان سره

به ئے اوساتو.

جاوید:- نو ته به چرته ځے؟

ششتي:- ترڅو چه زه خپل ماشومان نه وي نیولي خدائے

شته که یوه شپه هم دوسو او کړم.

سعید:- زه به دِ بنهر کښې او کړځوم- څو دا محله دلته

نشته.

ششتي:- وے نشته- نه په دے چل ما ئے پاتے کولے بنه.

سعید:- پاتے کوم به دِ ځه له- ځه ستا نه که خوښه نو زما

دربانده ئے زور خو نه دے

ششتي:- اوس دِ سمه خبره اوکړه بنه- چه بال بچ اودیم

نو بیا به راشم کښه

سعید:- ستا خوښه- خو ما وے مونږ ته د یو

نوکر ضرورت دے.

ششتي:- بالکل تابعداره یم- نوکر دِ یم صیب- دا اسے انځه…

بوی به درله پخوم - چه کوټے به ورسره اوچیچی - اوچائے
داسے چائے پخولے شم - چه ټوله ورځ به پرے نشه
کړے ځے - رشتیا خبره کوم مشر صیب.

سعید:- څه خبره ؟

ششتی:- هسے ما ویے چه تاسو خو عجیبه خلق یئ.

سعید:- ولے ؟

ششتی:- دوه ګهنټے اوشوے چه راغلے یم - نه مو رانه تر
اوسه د نورو تپوس اوکړو - نه د قهوے - سر دا
دومره موسټر کے شه - له یکلکے کړی دی - په سر م
درد دے.

جاوید:- په سر دے درد دے - ؟

ششتی:- خیر دے برخوردار ره که اودر بلول درته ګران
دی نو دا زه څه له یم - نه ودشه د پیو مئیوغم
اوکړه او زه یم.

جاوید:- هن دا ګولئ خولے ته واچوه.

ششتی:- راځه کړه چه چائے پخے شی نو ورسره به یے واچوم.

جاوید:- د څه چائے ؟ دا چائے دی کنه.

ششتی:- (حیران) دا ؟ دا ؟ دا چائے دی ___ ؟

جاوید:- او. او دا چائے دی خولے ته یے واچوه.



ششتی:- دا چائے دی ؟ خوک دائ ؟ نه پوهیږم چه داسے
ولے. ستاسو د خندا شوے یم -

سعید:- دے کښے د خندا څه دی داخله هن.

ششتی:- څه نو درشه - دبه خو رااوړه کنه. زما بے ادبو ګولئ
چرته نیږی ی-

سعید:- (رخاندی) تیره دے مه زور آوره - په مزه مزه ئے چوپه.

ششتی:- (رنازړه) راځه کړه نو-

جاوید:- خنګ! څه مزه ئے تنته اوکنه ؟

ششتی:- (ګولئ په خوله) راته ښکاری پئ سوچه دی ملاوټ
په کښے هیڅ نه ښکاری-

سعید:- ملاوټ او څه ملاوټ !

ششتی:- (رخاندی) دالو پکښے شر دے - نه ملاوټ شته
پیژنے. په سر بیو کښے چه دوه سیره او به وا چوے

جاوید:- د چ کار څه ده د خپلو مسلمانانو رونړو سره دهوکه
اوکړی-

ششتی:- څه. څه - ارس د ایلئ بچوته غوټے مه ورکوه -
نه. وے دا دومره اوچت کور دے کښے د حلالو
په کښه چوړ کړے دے څه -

جاوید:- بالکل! ستا څه خیال دے چه چرته ......

ششتی گل:- پرېده مړه. یاخو سمګلران یئ او یا دَ چرسو
په کښته مالدار شوی یئ. کګنې دومره نوټے کور
سعید:- نه باچا ځه. مونږ شپه او ورځ په ځان یو کړې
ایله چرته دغه کور کے مو پکښې جوړ کړے دے
او تا راته په لږ ساعت کښې څه څه جوړ کړل.
ششتی:- څه او وایم نو.
سعید:- بنه. نو دے خبرے به بیا کوو. څه ورځ لږ آرام
او کړه غرمه ده.
ششتی:- آرام اوکړم. چرته؟ او پېریانو بچه.
سعید:- روستو به ځو. ته ستړے معلومېږے.
ششتی:- نه ستړے خو نه یم. خو چه نه دا ځے نو لږ به دم
شم خو دلته خو چرته؟!
ششتی:- چرته؟
جاوید:- په دیارلسم چهت لسم نمبر کمره خالی ده.
ته به هلته.
ششتی:- دیارلسم چهت! دا څه وائے؟ نو تاسو به دلته
یئ او زه به یوازے په دیارلسم چهت.
سعید:- مونږ دلته اوسو نه. دا خو زمونږ دفتر
دے.



ششتی:- بنه. بنه. پوهه شوم په دیارلسم چهت به تاسو
هم اوسئ.
سعید:- نه نه یره. جاوید په دویشتم چهت اوسی
او زه.....
ششتی:- او ته؟
سعید:- او زه په څلویښتم چهت.
ششتی:- توبه ده دِ وی خدایه توبه. رښتیا اول خو چه په
جمع ده وډه ئ او خو دو کښه سره یئ.
سعید:- هن دا ډبے دَ ځان سره راخله.
ششتی:- دے کښې څه دی؟
سعید:- کولئی.
ششتی:- نو زه به ټوله ورځ په چایو تیر ووم.
سعید:- چائے نه دی زوره آ وره دا دَ خوراک کولئی دی
یعنی ډوډئ دی ډوډئ.
ششتی:- راسیلے کوی، ما ویل دوے کوره دے چرته چرګ
پولاؤ او حلوا به راته ایږدی. خو تاسو راته ځان په
آسانه خلاص کړو.
سعید:- دے کښې هر څه شته. ټول وتا منز پکښې
موجود دی.

ششتي:۔ نو زهٔ به تول ورځ ګولئ جوړوم.

سعيد:۔ تول ورځ نه سړيه چه ته وږے شے.

ششتي:۔ نو بيا لس اته ډبلي خوراکه کنه.

سعيد:۔ دا يو ډبے دِ ډيوے مياشتے کافي دے.

ششتي:۔ ځيره نهٔ ستاسو په رنګ يم - خلور ډوډۍ دخت خورم خلور.

سعيد:۔ پام ساده سړيه دوه ګهنټے پس دوه ګولئ دياني کړے نو د خپل لاسه به سر او خورے.

ششتي:۔ ځه کنه ځځکښے شه! د پردي کلي په حساب خوک څه پوهيږي.

سعيد:۔ (جاويد ته) ځه جاويده دے اودرسوه.

جاويد:۔ راځه ششتي.

ششتي:۔ (غصه) بيا ششتي! په دالله که قدم هم درسره واخلم.

جاويد:۔ (خاندي) ښه۔ ښه ششتي ګل پوه نشوم.

ششتي:۔ خير کاکا دِ درسره او نه وے نو ځه خيرد وړانديے کيږه.

جاويد:۔ راځه دے لږ ننه.

ششتي:۔ دالا څه دي؟ نه پوهيږې! نه لاړا؟



دے راد ننه خوشه کنه زود آوره.

جاويد:۔ نه را د ننه خوشه کنه زود آوره۔

ششتي:۔ (دننه ځي) خدايه خير (ور بند کړي) تا خو ورهم ځان پسے بند کړو. د ځانه پټيګے۔؟

جاويد:۔ د ځانه پټيږو نه هره خبره۔!

ششتي:۔ (خوشحالشي) ښه۔ ښه دا خو لهنګه ربتيا په بره روان شو۔

جاويد:۔ او کنه۔

## شپږمه ننداره

ششتي ګل:۔(ځان سره) ششتي ګله ښه ده چه بد بد راګير شوے نه دِ د بال بچ پته او نه ډکور هلت او نه د ځلقو سره روز ګار شو چه چرے او زه کار نشول بيګانې صباشي خو دوئی او زه کار نشي ..... بيره نن خو هم دا زړه غواړي چه لږ کابلئ پله چکر شو ..... ځما خو په دے تنګه کو ته کښے ساه چه به د وبه ييږي.

(پاسي نا مونه اخلي)

سعيد:۔ (دننه) ششتي ګله چرته روان يے.....؟

ششتي:۔ (ځان سره) توبه هم دِ وي خدايه (سعيد ته) چرته ځم نه نا ګه هسے لږ ځان سره اوږده که دسورۍ را پسے دے.

سعید:- بیا هم؟
ښښتي:- بس هسې د زړه... رښتیا چرته ځې هن؟
سعید:- زه خپله کمره کښې یم.
ښښتي:- تهو ته را سره مه کوه نه. مالیدلے نه ئے چې
د تمبې شا ته پټ ولاړ ئے.
سعید:- دروغ مه وایه ښښتي ګله. زه خپله کمره کښې یم.
ښښتي:- څه نه کنه!
سعید:- ته او ګوره د غې مخامخ ښیښے ته.
ښښتي:- ښه ښه اوس لیدے نا ټیکه. سلام علیکم.
سعید:- څه چل دے.
ښښتي:- زړه ام ډیرزنګ شوے دے وایم چه.
سعید:- ګرځیدل غواړے؟
ښښتي:- او کنه لنډ کابلئي قصه خوانئي پله چکر کیږو نه؟
سعید:- هلته څه کوے؟
ښښتي:- سړیه نور به څه اوکړو. چرته فلم نیم به اوګورو کنه.
سعید:- فلم کتل غواړے؟
ښښتي:- او کنه سړیه خوب نه راځي. هسې د ډډے
په ډډے اړوم.
سعید:- ښه ده نو د غې مخامخ ښیښے ته ګوره. زه درته فلم لګوم.



ښښتي:- فلم! دلته!
سعید:- او کنه.

## اوومه ننداره

ښښتي:- ناګه. دا د ناره خبرے نه دی وربه شو.
جاوید:- نه هسې زور آور ے.
ښښتي:- ګوره کنه زه ویم دربه شو. لاس به ورته اوچت
کړو او راخو به ترے. کوم داسې لرے ځائے دے.
جاوید:- نه ښښتي ګله نه نه پوهیږے.
ښښتي:- ښه! اوس زه نه پوهیږم! که ګله ئے درته اوبکړه
نو به کتوم اوله.
جاوید:- نه هسې او زګار ئے چه ځما پلار مړ وو. نو څه
راغلے وو څه. بس تا د ځے را لیږلے وو. او تا را
به ورلیږم.
ښښتي:- ستا خو ښه نو.
جاوید:- بس ځما د غسے خو ښه ده.
ښښتي:- څه نو تا رخوا ولیږه کنه سړیه. چه تا ربا بوله ئے یوسم.
جاوید:- نه نه یره. زور آور ده ورشه د غه میین تیلی نون اوچت
کړه او خبرے او کړه.

ششتي:- دغه دے لاړم۔ (قدمونه)

ششتي:- هيلو۔ هيلو۔ ششتي ګل خبرے کوم۔

اپريتره۔ د مطلب خبره کوه۔

ششتي:- د مطلب خبره (مسکے) هغه خو دِ را نه هيره کړه کنه مړ ے۔

اپريتره:- وخت مه ضائع کوه۔

ششتي:- او رشتيا را ياده شوه خبره. مړے غصه کيږے خله۔

اپريتره:- څه ويل غواړے۔

ششتي:- ډير څه ويل غواړم۔ (لاس د خولے سره جوخت خبرے کوی)

اپريتره:- نو وايه کنه. خو کوره لاس د خولے نه لرے کړه۔

ششتي:- لاس د خولے لرے کړم۔ ولے نه ما وينے څه؟

اپريتره:- ولے ستا سکرين کار نه کئي څه

ششتي:- (خوشحاله شی) دا خو سمه چهالئی ده - اوم ليدے مړے۔ دا لکه د سړو دِ تهائی ولے ګډے ده. او دا دِ ښتهٔ دِ ولے پرے کړی دی۔

اپريتره:- ستا دے سره څه کار دے خپله خبره کوه۔

ششتي:- بنه اوس ځما دے سره کار نشته۔



داخو عبث کيا ہے

...:- ... حالتي ته هم دا سے بدله شوے۔ (ردغوندے) ها... ... کوم۔

...:- اپريتره ته) بو تيوس ... خواږه ے۔

...:- وخت مه ضائع کوه۔ چا ته ناار ... ورکړے۔ ور نه وايه۔

...:- څه څو. سليم خان ته به تار ورکړے۔

...:- کوم سليم خان۔

...:- کوم سليم مړے هغه مالا کنه کښے۔

...:- نمبرے څه دے؟

...:- بنه بنه نمبرے ... (جاويد ته) جاويد خانه نمبرے غواړی۔

(۲۹) سوه۔

...:- وايه درے کم درے سوه نمبرے دے۔ وايه ستا د بی بی ګلے درے کم درے سوه نمبرے دے۔

...:- بلا په مرګ خدائے شته چه جاويد خان ډير زيات خفه دے خو بنده څه کولے شی۔ خدائے دِ ورته نوا خير کړی۔

اپريتره:- اوشو۔ نور څه؟

ششتي:- رشتيا ورته وايه۔ ششتي ګل هم ډير خفه دے۔ خدائے دِ ورته ...

اپريتره:- نور؟

ششتی:- نور به څه او وایم بي بي کښلے - حضوره خیر د...

تیریږی نو- (اسویلے کوی) یوه یوه ورځ را یاد...

کال تیریږی- نه را سره سعید نائک خبر و نه ا...

دے او نهٔ جاوید -

اپریټره:- ټیلی فون بند کړه -

ششتی:- بند کړم (ټیلیفون بند دی) هائے خواره قسمته-

هم نه د لا او زګاره -

## اتمه ننداره

ششتی:- (ځان سره) دوئ خو زه په شرمونو او شرمولم.

بوچټی جا ئے سے را ته وا چولے - خو خیر - دغه د شا...

جوړه خو به په شل کاله کښے هم وا نچوم - که چا یار (اشنا)...

نو څه به وائی؟ وائی به دا په ششتی کل څه او شو؟ ها...

خدایه! چرته را ګیر شوم؟ اوس به دلته نه او ځم څنګه...

سعید:- (راځی) ششتی کله! وے نه خو خفه معلومیږے...

خیر خو دے -!

ششتی:- نائکه ما چهټی کړه.

سعید:- وے -؟

ششتی:- صبا کیږی. بیګا کیږی - په بنده کمره کښے لګه د حوالاتی



ناست یم. څه د مونږ غلا کښے خو مرنه یم نیولے -

...:- اخر چل څه دے؟ ما هم پوهه کړه کنه -

...:- اوس هم لا د چل تپوس کوے -؟

...:- (مسکے) بنه- بنه پوهه شوم. ګرځیدل غواړے -

...:- ګرځیدل نه ګرځیدل غواړم - زما دا نوکری

نه ده پکار -

...:- (مسکے) بنه بنه دا سے دا یه کنه - څه چرته خو -

...:- چرته -؟

...:- په سیل -

ششتی:- ځه پیره! زه په خپله ګرځید ے شم -

سعید:- یواز ے مه ګرځه ورک به شے -

ششتی:- که ورک شوم نو لا به بنه شی. د دے ځا ئے نه به ډیر

بنه یم.

سعید:- (په غصه) دلته تا ته تکلیف څه دے؟ هسے په ځان د

پرغز را دستے دے - راخیژه لفټ ته -

ششتی:- لفټ ته -؟

سعید:- او- او ننځدی کوه -

ششتی:- (ناډوله) بنه ده نو ننداره مونږ - ور بندیږی) نائکه دا څه

کوے . ته خو په بره ردان شوے -

Scanned with CamScanner

سعید:- اوُ۔

ششتی:- ما وے کنه۔

سعید:- ولے؟

ششتی:- د کهوتے په سر سیل خولاً د مرغیانو کو
یا د زناؤ۔

سعید:- ته راځه کنه زور آوره۔

ششتی:- (راسویلے کوی) نا ئکه! بنه زور آور دوم۔ خو
ډیر کمزورے یم۔

سعید:- اوس په څه کمزورے شوے۔

ششتی:- (ناصافه) پیره بابا خیر۔ دا په کو
جهان څه کمی۔

سعید:- لاځه۔ راځه دا زمونږ دے۔

ششتی:- (بنه زخوشحاله شی) اه مبارک شه۔ دا موکله اخستے دے۔

سعید:- دا هیلی کاپټر دے۔

ششتی:- شکر دے نا ئکه چه چهت سے را باندے
دے راغورزولے۔

سعید:- راځه راخیژه چه دِ اوګرځوم۔

ششتی:- توبه کوه مړه۔ زهٔ لا ځان پو رے تنګ
شوے نه یم۔



سعید:- سیل نه کوے څه؟

ششتی:- هاغه سیل دِ سرا وخوری چه د سر خطره دی پکښے۔

سعید:- وخت مه ضائع کوه۔

ششتی:- (غصه) شل ځله خو دِ ضائع شی۔ یا به چل درځی یا نه۔

سعید:- یوازے به ته نه مرے دواړهٔ به مرو۔

ششتی:- (لږ غصه) که ته ځان پو رے تنګ سے نو د چهت
نه کوز ټهوپ کړه۔ موږ خو ځان سره غرقے سے مه بیا۔

سعید:- ضد مه کوه راځه۔ کینه بیا به بنده کړه کښینے
یو ځے ناست سے۔

ششتی:- یو ځے! بنه (ناراضه) څه نو۔ خدا یه خیر۔
(د هیلی کاپټر د تښتو آواز)

## نهمه ننداره

(د ټیلیفون ښائی کیږی)

جاوید:- څنګه یے نیلوفر۔

نیلوفر:- ته څنګه یے۔

جاوید:- بس اوس د کتاب نه فارغ شوم۔

نیلوفر:- ټیپ شو۔ سعید څنګه دے؟

جاوید:- بنه دے۔ ششتی ګل سره په سیل وتے دے۔

نیلوفر:- یره دا ششتی کل موچرته پیدا کړے دے؟

جاوید:- څه مه وایه خدا ئے کوړله را وستے دے. ډیر دلچسپ سړے دے.

نیلوفر:- بنه -!

جاوید:- پردن راغے دے چرته پر درته نه دے معلوم ما دے پرخه دی. ویلے مړه جواری یاد ووم.

نیلوفر:- څه. څه!

جاوید:- نه ئے نه پیژنے. دا د پخوانو خلقو یو لوبه وه. پس دے چل به ئے دیو بل نه پیسے ترلاسه کولے.

نیلوفر:- بنه. بنه مطلب دا شو چه لوبه نه وه فراډ وو.

جاوید:- صفا دهوکه وه او عجیبه خبره خو دا ده چه چا به پیسے بیلو دے نو هغه به د خپل تاوان راسره کولو دپاره دکوړ په سامان په کور او د مکه هم هیله نه کوله. اؤ بیا به غلا ته کیناست.

نیلوفر:- بنه نو تا ورته څه اودے.

جاوید:- ما ورته وے چه جواری څه د دے نوم اخستل هم دلته جرم دے.

نیلوفر:- دا خو عجیبه سړے دے. ویم چه م ادلید ے.



جاوید:- راشه کنه کراچئ کومه داسے لرے ده. تړوله نماله خو د سو منتهو لار ده.

نیلوفر:- خیال م دے. چه یو ځلوس د رځے چهٹی م واخلے او دراغلے.

جاوید:- رشتیا ماشومان څنګه دی.

نیلوفر:- اوزکاره شوے ورته نه یم. ښ م خیال دے چه وراغلے.

جاوید:- بنه! جان راسره په ټیلیفون ئے د دائی نه تپوس کوم.

نیلوفر:- په ټیلی فون خبرے کړے دے.

جاوید:- جان څنګه دے.

نیلوفر:- بنه دے. ته ئے ډیره یاد وے. ویل دا چی په کله راځی.

جاوید:- صباله د جان یو فوټو خورا وا ستوه.

نیلوفر:- د څه د پاره.

جاوید:- چه د کتاب په سرورق ئے چهاپ کړم.

نیلوفر:- موضوع ئے څه ده.

جاوید:- "د ماشومانو خصمانه څه رنګ پکار دی ؟"

نیلوفر:- (مسکے) په دے مو لا نا څه نیکلی وی.

Scanned with CamScanner

جاوید:- دا چه کتاب اوګورے نو بیا وایه.

(جاوید ټیلیفون بند دی سے کښے ششتی ګل په منډه منډه راځی)

ششتی:- (رخفه) نائکه ځان له به دسرې بندوبست اوکړې.

سعید:- ولے ششتی خیرخو دے.

ششتی:- زما تاسو سره نوره ګذاره نه شی کیدے.

سعید:- اخر ولے؟

ششتی:- نائکه زهٔ ورځ کے دوه ځے شومے یم په دا سے خلقو کښے چه هغوئ به دَ یو بل سره مینه کوله.

سعید:- مونږ خو تا نه نفرت نه کوؤ.

ششتی:- دا نفرت نه دے نوڅه دی — چه منت قدر له دا سره کښئ نه - نه دَ بازار چکر دے نه څه خبره نه تنوقه نه وشته. خولس لکه دَ مشین لګیا یئ.

سعید:- مونږ خو دا یوته هم روزګار مه کښینه چه کله اوزګار شے نو ماته دا یه کار به درته بند یم.

ششتی:- زما هیڅ نه دی پکار. ما ځپنی کړه.

سعید:- ته لږ صبر اوکړه مونږ دیو مشینی سړی د پاره اعلان کړیدے چه هغه را اورسی نو بیا به ته ازګار ئے.

ششتی ګل:- نه نائکه لاړم... دخدائے په امان (په منډه دکمرے نه اوځی)



# کډه په سر

Scanned with CamScanner

## کرداراو د هغوئ نوم ونه

۱- خانزاده
۲- بے غم صیب
۳- زرغون شاه
۴ محبوبا
۵- ګل جانئ
۶- شاه ګل
۷- یوماشوم

خوشامدی - مالک مکان
بے غم - یو شاعر چه د سکون
او تنهایئ په ارمان دے
بوډا کاتب - د بے غم دوست
د بے غم صیب ټبر
یوه بوډۍ ګاونډۍ
سړے - د فانی صیب چپړاسی
د بے غم صیب ځوے جمشید



## اوله ننداره

[منظر ئے په تمبه لیکلی دی
"د کرائے د پاره خالی دے"
دروازے نه جرنده ټکیدے دے.
خانزاده د مالک مکان او بے غم صیب
دواړه راځی او تمبے نه اُدریږی. خانزاده
ورلرے کوی او خبرے کوی]

خانزاده:- خوانه! دا سے کور به تهول ښار کښے او نه موے. دوه کوټے، کوټے دے کښے کمے د څه دے. دوه کوټے لوے لوے کمرے - بنه برانډه، ارت بیرت انګړ - باورچی خانه. غسل خانه. ګودام او بنه مزیدار بیتهک — د بجلئ او او بو انتظام په کښے هم شته.

بے غم:- (راځوا دیخوا ګوری) ما خو په کښے چرته د اوبو نلکه او نه لیده.

خانزاده:- اوَ اوَ بنه دِ اووے. نلکه خو مِ په کښے د کرایه دار د بچت د خاطره نه ده لګوے. هسے به دره خلور روپئ کرایه زیاتیده. ته راشه دیخوا - ردګوهی ناړے

ته ښیائ) او ګوره کنه. څومره مزیدار کوښه دے
— نلکه څه کوسے. زور وه. (خاندی)

**بے غم:-** ته بنه واسے کاکا — خو خبره داده چه د کوهی
او به څښلو له لرے بنے غوندے نه وی نو.

**خانزاده:-** داه. زوړ اوره! دا دِ څه خبره اوکړه — دا په کلو
کښے تهول خلق د کوهیا نو او به نه څښکی څه — څه
وخت چه دِ او به پکار شی. نو ته ورښکنه کړه —
او یخے او به را اوباسه.

**بے غم:-** خو که د یخے یو سے کمرے لرګی لیږ ورا ستنه
معلومیږی. هغه یوه داکه خو په کښے بیخی ماته
ده. هسے نه .......

**خانزاده:-** ..... چرته دا پرے نه ووزی — داد وئیل
کنه ——— وا زوړ اوره ته خدا اسے اسره
کړه. تا دا ته دِ آوزیں لی. چه سرے د ښانړی
لاندے کړه. چه نینه سے نه وی پوره ——
پچ به شی.

**بے غم:-** ته نبه واسے کاکا! خو الله تعالی مونږ له
سروستړکے دے له را کړی دی چه کړه کیږیته
پس او پیژنو.



**خانزاده:-** ځما د خبرے نه جوړ نا دا مطلب و اخست چه کښے ماته
بل کرایه دار نه ملاویږی. چه ستا نه دے خوښ
نو مسے اخله.

**بے غم:-** نه. نه وے ہم نه دے خوښ را سویلے کوی) ثن ئے
دیار لسمه ورځ ده چه په کوره پسے سر و هلے بر وهلے کړ ځم
اول څو خالی کوړ نشته نه. او که وی نو یا خو په کښے
بیټهک نه وی بجلئی او یا نلکه.
دا هر څه نشته ...

**خانزاده:-** په نعدئ سره) او په دے کښے دا اکو دِ زړه او به
پائے شوه دا چه که په دغه خولب په واړه
نه ځښی نو بد لے به ئے کړم ورته
نعدی به را باندے نه کوسے. اینے که ستا په کښے
د سر سلامتی ده نو ځما د جا ئیداد.
زه خپله کته او ناوان نیسه پیژنم.

**بے غم:-** څه نیسه ده مونږ به نو هغے خپله ګزارہ یوه کمره کښے
کوؤ او په دغے بله کښے به صرف د کور سامان کیږدو.

**خانزاده:-** کل خبره دِ او کړه.
خو کوایه به سے څومره نکوسے.

**بے غم:-** صرف یو نیم لوښه د سلو. یعنی اوه نیمے شلے.

**خانزاده:-** چا خو وئیل وړ ندے د دے کرایه لس انیا وه.

**بے غم:-**

خانزاده:- وا زورآوره دے گرانی ته نه گورے. نن صبا شپیته
روپئ دے څه څیز.
بے غم:- خیر خو چه دَ زړه کرایه دار نه دِ څه اختل دَ هغه نه
به زه لس زیاتے درکړم.
خانزاده:- نه کنه. دوه درم هغه ما څخه او ویست چه هغه شپیته
روپئ زیاتوے نه. او ما کے اختلے نه..... اینے روره
آخر څه موږ خو هم بال بچه داری ده کنه.
بے غم:- څه نشه ده. (اسویلے کوی) که کور گران دے خوَ
مړي ناکام دے.
خانزاده:- ځما درسره ډیره طبعه اولگیده. د شتیلخبره دا ده.
چه تا ته به بل داسے مزید ارځاے په لاس درنشی
او ما ته ستا غوندے کرایه دار. خو داسے به اوکړے
چه یو شل روپئ صاحی (رسئ) به پریږدے که وی
درسره.
بے غم:- شته شته هن داخله دا لس روپئ..... نه صبا نه بله
ورځ به کخیری راځم.
خانزاده:- ډیره نښه ده په مخه دِ نښه.
(خانزاده او بے غم صیب د کوره بهر راوځی
خانزاده بیا ورته جرنده لگوی. یو اړخ ته روان شی



بے غم صیب بل اړخ ته.
(د بے غم صیب زرغن شاه کاتب مخے له ورشی زرغن
بے غم له زرغن ... نو بیرته خو تمبا له
شاه چه بے غم صیب اووینی
شی او ودانی.)
زرغن شاه:- پخیر پخیر بے غم صیب.... دیخوا چرته
خیر خو وو....
بے غم:- یره څه به دے درته وایم د زرغن شاه کاکا خو
..... کور م پکار دو.
زرغن شاه: کور چا دپاره؟
بے غم: ځان له. نو رچا دپاره!
زرغن شاه:- ځان له؟ ولے؟ مالک مکان دِ کور کښے نه
پریږدی څه.
بے غم:- یره څه به مے درته وایم. زرغن شاه کاکا خو بس د
کاونډیانو د لاسه کډوه په سر یم. نو ـ
زرغن شاه:- آخر په څه؟ د کاونډی تا سره څه غرض..
بے غم:- زرغن شاه کاکا په داسے کاونډیانو کښے راگیر یم چه
آرام مے را باندے حرام کړے دے.
زرغن شاه:- نه پوهیږم د ماشومانو په سر به د کاونډی سره
په شرځے.

Scanned with CamScanner

بے غم:- ماشومان خولاشه کوے. ښارانو په ټیلبنته بچ
کړے یُم. دَ فیلے اړخ کاوندلی م اوس اوس
ټیلیویژن اخستے دے.
زرغون:- نبه نبه هغه تصبیرونو والا ریډیو به یاد وے.
بے غم:- چه کوز مازیګر ټیلیویژن اولږی نو ترنیمے څ
م غوږ ونه نیوری. دَ نمر خاته دَ کاوندی م زړی
بیزے بچے اوس اوس مړدے. شپه او ورځ نارے
وهی. په کوشه کبنے دَ ماشومانو شور ښرنو اوری
نه اوروا یه چه زه دَ دغه ځایه تختم نه. نو نخه به کوم
زرغون: اونو نور دیره څه کوے. ځما ستا غوندے سړے
خود چاګیروان نه لاس هم نه شی اچولے کنه.
بے غم:- دا به م هم کړی وونخو زرغون شاه کاکا په یوه نیمه
جهګړه به هم کار او نه شی.
زرغون:- هلکه بے غمه دا خو رښتیا ته په ډیر بوڅے غم کبنے
داګیر یے.
بے غم:- زرغون شاه کاکا دیو شاعر او ادیب د پاره تنهائی
او سکوت ډیر ضروری دے.
زرغون:- بے شکه.
بے غم:- په داسے حالاتو کبنے به زه څه اولوکم او څه به او لیکم.



دے.
[…] ځناو ژوندیه اور کبنے کړے دے. نبه نو ځائے دِ
[…] او نو چه غل نه نخنی نو مل دِ اونبنی.
خوبنی شو. خو داده چه کرایه ے
او خوښ م شو. لږ ځان له دے.
غم:- او نیمے شلے روپۍ غواړی.
لږه زیاته ده. اوه نیمے شلے روپۍ سړیه. او نیمے شلے روپۍ
او نیمے شلے روپۍ! پریږده ے سړیه. پریږده یو کور خالی کیدونکے
خو ظلم دے. ځمونږ محلت کبنے هسے هم یو کور خالی کیدونکے
دے. هغه به درله او نیسو. کرایه ے هم لږه ده او
بله داچه (رُسکے) مونږ ته به لږ نږدے هم شے.
بے غم:- څه کرایه ے ده.
زرغون:- اتیا روپۍ. دوه کمرے، بیټهک، نلکه، بجلئ هر څه
په کبنے شته.
بے غم:- نبه! یرهٔ که دا او شو نو ډیره به نبهٔ شی.
زرغون:- بس نه بے غمه او سه. چه خالی شی نو خبر به دِ کړم.

## دوئمه ننداره

### (دَ بے غم کور)

(بے غم صیب خپل نوی کور ته کډه وړے ده. دچائے
لوښی ورته مخامخ پراته دی. دخلور و پنځه کالو ماشوم ورسره

هم په کټ ناست دے۔ محبوبا رَ دَ بے غم صیب نبځه) دکور تعریف کوی)

**محبوبا:۔** سړے په کور خو نیه دے خو کمرے ئے ډیرے ورے دی

**بے غم:۔** په لویو کمرو څه کوے زوړ آور دے۔ دوه مونږ یو او دوه ماشومان۔

**محبوبا:۔** نه هسے وایم چه دَ هغے زوړ کور کمرے لږ ے لوئے دے۔

**بے غم:۔** دَ دے کور کمرے که تنګے دی خو دَ محلت دَ خلقو زړونه ارت دی۔ دَ مکاونړی خیال ساتی۔

**محبوبا:۔** خا ورے خیال ساتی۔ ترا اوسه هلته و چا دا نیوس اونکړو چه دلته بنی آدم اوسی که۔

**بے غم:۔** وا لیونئ۔ دَ نیوس نه۔ نهٔ نیوس ډیر بنهٔ دے۔ کوږدے نهٔچه لږ په آرام یو۔

**محبوبا:۔** خو دَ چم ګاونډه نه بغیر هم نهٔ کیږی۔ مړے جوندے دِ خدائے لرے لری۔ خو په دوغ رنځور کښے ئے کله کله ضرورت پیښیږی۔

**بے غم:۔** پرینږده بنځے۔ تن صبا ځان ځانی ده۔ هیڅوک دَ چا نه پکاریږی۔

**محبوبا:۔** پرون جمشید بهر وتے وو څوک هم نه وو چه کور ته ئے



راوستے دے۔ ما بور قه په سر کړه۔ او په خپله ورپسے لاړم۔

**بے غم:۔** دا ستا غلطی وه تا ماشوم بهرته پرینښودو ولے؟

**محبوبا:۔** څه څه یو خو نه هره خبره په ما راړے۔ بنیه اوس دفتر ته هم ځے که نه دِ چُهټی کړے ده۔

**بے غم:۔** یره طبیعت مِ هم لږ بنه شانتے نه دے او ما ویل څه به آوهم لیکم۔

**محبوبا:۔** نه چرے دَ لیکو نه اوزګار نهٔ شوے۔ تن لږ آرام اوکړه۔

**بے غم:۔** آرام به هم اوکړم۔ خو یو رسالے والا رانه غزل غوښتے دے۔ هغه لیکل غواړی۔

**محبوبا:۔** څه نو بیټهک کښے کینه۔ دلته به دِ ماشومان کار ته پریږ نه دی۔

**بے غم:۔** ځما هم دا خیال دے۔

## دَ ریمه ننداره

(دَ بے غم صیب بیټهک)

{بے غم صیب ناست دے غزل لیکی۔ زرغن شاه کاکا راځی۔}

**زرغن:۔** السلام علیکم و رحمة الله و برکاته۔

**بے غم:-** دَ علیکم السّلام په خیر په خیر.

**زرغون:-** کور دِ خوبن شو.

**بے غم:-** اؤ بنه دے لږ په آرام یم.

**زرغون:-** جوړ نه ئے؟ که هسے دِ چھٹی ته زړهٔ شوے وو ..... خو.....

**بے غم:-** دَ خدائے فضل دے. نیهٔ یُم.....

**زرغون:-** (په خندا) آرام نه به دِ خیال شوے وو. سړیه کړ دِ خبر کړے وے نو لږ به کړ ځیدلی وو. لږ به خوشی شوے وے.

**بے غم:-** (مسکے) زرغون شاه کاکا ځموږ قسمت کښے خوشحالی چرته څه وایه مه غمونه دِی غمونه.

**زرغون:-** غمونه که خوشحالی. زهٔ خو وائیم بے غم صیب مزے هم تا اوکړے.

**بے غم:-** (دلته چه رخصتول ئے غواړی) څه کوے بازار ته ځے څه.

**زرغون:-** یره څه به ئے درته وایم - بے غمه دَ سیاهئ بوتل م ماشومانو ته چرته په کوټو ورغلے دَو. ټول کور مو پسے لټ پټ کړو. خو هیڅ پته ئے اونه لږیده له مه وے چه لږ بازار ته ورشم- او بل راوړم نو...

**بے غم:-** (افسوس کوی) بیا داځو به ئے ستا کار ډیر خراب کړے وی.



**زرغون:-** څه وایه مه بے غمه کار راته ډیر پروت دے.

**بے غم:-** او نو ماشومان خو وران دی کنه رخان سره ګیرږ ئ

**زرغون:-** هلکه بے غمه دا بیا څه لیکے. دَ چا مرثیه لیکے که. ډیر خفه ښکارے.

**بے غم:-** (مسکے) نه یره غزل دے. دَ سرحد ایډیټر دانه یو غزل غوښتے دے.

**زرغون:-** نو چرته تیار غزل نه وو درسره.

**بے غم:-** غزلے خو ډیرے دی خو ټولے چهاپ شوی دی.

**زرغون:-** څه نو بیا ورله تازه او لیکه نو تا ته غزل لیکل څه نویه خبره خو نه ده.

**بے غم:-** یره کاکا دخت به څه وی. ګهړئ م کور بالښت لاندے پاتے شوے ده.

**زرغون:-** یره دَ ګهړئ خبره دِ اوکړه بے غمه را سره کوی آ بله ورځ م په جماعت کښے مونځ کولو ګهړئ م دَ لاس او ویسته او جیب کښے م واچوله- چه پاسیدم نو دَ جیب نه م ښکته او غورزیده. شیشه ئے چوره چوره لاړه او ګهړئ وه ولاړه.

**بے غم:-** ښه ....اوس خو جوړه روانه ده.

Scanned with CamScanner

زرغون:- کمرئ هم پوره کمری سازله، اشنا ے دو چیرز
چه کمرئ ے اوکتله۔ وئیل ے مات ے سیلند
بے غم:- بسه نو بیا۔
زرغون:- وئیلے صفائی به هم غواړی۔
بے غم:- بنه نو بیلجوړه ے کړه۔
زرغون:- نه واوره کنه زوره وره۔ وئیلے صبا ته راش
چه صبا دغلم۔ ویلے صبا ته راشه۔ چه بله ور
دراغلم۔ نو ستا خدائے په نیکی مل شه پور
اته دوپئی ے رانه واخستے ویلے دده ستا لحاظ
بے غم:- بنه بنه پوهه شوم۔ خو اوس څه ټائم دے۔
زرغون:- اوس۔ اوس پاؤکم دولس دی۔
بے غم:- (تندی له پړنی ورکوی) پاؤکم دولس۔!! دا خو ناوخته
شو۔ (غزل بیکی) محبوبا هم خواله راغله۔۔۔۔
[زرغون شاه اخوا دیخوا ګوری چه څوک
محبوبا راغله)
زرغون شاه:- (په حیرانتیا سره) محبوبا!! (مسکے) بنه بنه
بیکه بیکه ماوے که (خاندی) بنه ده بے غمه
زه در نه لاړم۔ خفه کیږه مه بیا به څه
وخت حاضر شم۔



(دخان سره وائی)
بے غم:- ډیره بنه ده په مخه د بنه.... محبوبا هم خواله
راغله (محبوبا راځی) محبوبا هم خواله
راغله۔
محبوبا:- (کله منډه او غصه) اوۀ - اوۀ - راغلم۔ په نه راتلو هم
کار نه کیږی۔ نه اوګوره نن دچهټی ورځ ده کړ دا سبزی
دپخیله راوړے وے نو بده وه نه اوګوره
ورته دے نوکر څه راوړی دی او راغے هم
پوره دولس بجے۔
بے غم:- نو زه څه اوکړم۔ ذایوه ورځ نه ده۔ چه نو رکله ے
خوړے نو نن هم اوخوره۔ څما غوښه ونه منخوره۔
محبوبا:- خو ده به ے خوړونو۔ نو ده به څه خوړو۔ (زړه غوښے)
خدائے خبر چه پناڅه چل شوے دے۔ یا خو نبوله
ورځ دفتر کښے ناست ے یا بهر ګرځے۔ او چه کور
ته راشے نو ځان له پراځے کینبے۔ نه د څه نیوس نه
د څه پښتنه۔ زه د هم بدی شم۔ او بچی هم د هم
خوښ نه دی۔ چه دا سے داپورے تنګ ے نو
د پلار کره هم او لیږه هلته به دو ورځی تیره۔
بے غم:- (له غصه) محبوبے! دا په ناڅه او شو۔ نه خو سحر
جوړه وے۔

**محبوبا:** - اوُ۔ اوُ سحر هم جوړه وومه او اوس هم بنه۔ زه خو وایم په تاخه شوی دی۔ دوغه یم

کاغذ ونه ترے دلاسه واخلی او دیوار ځ
نه ئے کیدی
شرق دِ پریوزه په دے کاغذونو۔ لاوالیُ چه....

محبوبا مخوا له راغله۔

**بےغم:** مړه دا خوم هغه غزل بیکلو دا دَ هغے یوه مصرعه ده۔

**محبوبا:** - نبه! نو که اوس داپوره نوره دنیا هم خندوے ورکه دِ داسے شاعری شه۔

**بےغم:** - واکم عقلے۔ شاعری خو ځما دَ ژوندیو عظیمه پنګه ده۔

**محبوبا:** - نو دا په تاخهٔ اونسو۔ ته اوس دَ کور خبرے بهر نه ولے اوباسے۔ کهُ زهٔ ستا خواله راغلم نو دَ سبزیُ خبره م درنه کوله۔ کومه ګناه م اوکړه خدائے ته اوکوره سرپه۔ نور ے خبرے لیکه (ژړه غونے)

**بےغم:** - وا ذود آورے۔ تا نهُ یاد دَ ووم۔

**محبوبا:** - چه مانه یاد دے نو نور څوک یاد دے۔ دا بله محبوبا



دِ لاڅوک ده۔

څوک به دی نه سے ګخه کوسے؟

**بےغم:** - څوک به دی نه سے هم او ښایه کنه۔

**محبوبا:** - تو آخر مانه خو ے هم زه تاخهٔ ریک پوهه کړم

داخدایه توبه م تو دی۔

**بےغم:** - داخدایه توبه م تو دی۔ زه تاخهٔ دِ ته اوګنوهٔ چه ده یا نه ده۔

ښځه بس داسے اوګنوه چه ده یا نهُ ده۔

**محبوبا:** - (غصه) نهُ ده۔ ولے نهُ ده۔ ده۔ ده۔ ده۔ ده۔ دا نهٔ چه دَ کوره اوځے۔ او نوله ورځ بهر ګرځے۔ نو دا نهُ ده نو څه ده۔

**بےغم:** - یاخدایه ځما دِ توبه دی۔ ښځهٔ کوره هسے ځما وخت هم مهٔ ضائع کوه۔ او ځل هم۔ داهسے .....

هم مهٔ ضائع کوه۔ ماله ‌ډیر باسه۔

**محبوبا:** - هسے نه نبه۔ مامه ‌ډیر باسه۔

**بےغم:** - نه ښځے ځما او منه۔

**محبوبا:** - مانه به دِ دا محبوبا ښائے۔ چه ورله ورشم۔ او سوال زاری ورته اوکړم۔ چه ځما نه په ګلاره شی۔

**بےغم:** - (خاندی)

**محبوبا:** - نبه نه لا خاند ے۔ (ژړه وره شی) ولے به نه خاند ے۔ خوشخبره ده به ے اول په رضا ملاح پوهه کړم۔ او که په داسے اونهٔ شوه۔ نو سنږے را خکل به ورسره هم اوکړم۔

بے غم:- (شرارتًا) ته هغه نه یې هم نشے ویلے.
محبوبا:- څه. څه- ته به ئے او وینے- چه زهٔ ورته څه ویلے
شم اوکنه.
بے غم:- هغه ستا د وس نه بهر ده.
محبوبا:- چرته به وی خو هم دے ښار کښے به وی کنه.
بے غم:- بالکل! دے ښار کښے څه چه په دے کوڅ کښے ده
او په کوڅ کښے څه چه ما سره ده.
محبوبا:- (ساده گئ سره) ښه- ښه- ما یاد وے.
بے غم:- تا نهٔ یادَ دوم.
محبوبا:- (خفه) نو دا بله محبوبا څوک ده- چرته ده.
بے غم:- چرته ده؟ (په ځپل سر لاس ږدی) اے دلته-!
محبوبا:- (حیرانه او ژړه غونے) اقه دے کنه- ما نه ویل چه
د سړی ما ذغهٔ خراب شوی دی. دا ستا سر دے
کهٔ !!---
بے غم:- (رخاندی) ښځے دا ځما خیالی محبوبا ده ځما مزغو کښے اوسی. ځما په
زړهٔ کښے اوسی.
محبوبا:- (د ناری منت) یره سړیه ځما او منه چرته ډاکټر ته
لاس اوښایه. هسے نه خدائے مکړه چرته نور
زیات شے.



بے غم:- ښه. ښه. خو نه اوس لاړه شه. دَ ځوړوی خه
غم اوکړه.
محبوبا:- ما سره خو ستا غم دے.
نه ما پریږده خو نه اوس لاړه شه.
بے غم:- زه د درنه ځمه خو به سر یې. نه لږ آرام اوکړه
محبوبا:- هسے نه چه ------
بے غم:- ښه. ښه نه ورځه ما د سحره راسے ډیر آرام
کړے دے، پریږده چه یو دوه شعرونه اولیکم.
محبوبا:- لیکه لیکه (ساده گئی سره) خو اپنے کوډے چه ځما نوم
او نه لیکے. داخلق به څه وائی.
بے غم:- (مسکے شی) ډیره ښه ده- بالکل به ئے نه لیکم
خو نه اوس لاړه شه.
محبوبا:- اے دا دے لاړم درنه- (رخی)
بے غم:- (رخاندی د ځان سره) "محبوبام خواله راغله په
شا لاړه".
نه- نه محبوبا- نه- لیلا- اونو-
ع "لیلا راغله ځما خواله په شا لاړه
داسے لاړه چه مریض لکه دیم یم"
------ (ورده بیږی)

بے غم:- څوک ؟ .

زرغون شاه:- زه یم بے غمه .

بے غم:- ( ور ورلړی کوی ) ته ؟ دا څه زرغون شاه کاکا

څه دې وئیل .

زرغون شاه:- هسے ما وئیل چه لاهغسے ناست یې هن . یره

بهرنو ډیره سخته یخنی ده..... مزے دې

اوکړے څه په ګرمه کمره کښے ناست یې .

بے غم:- سودا دې اوکړه .

زرغون:- اوُ نو څه به مې کول . هم دغه خو مې د بال بچ

د روزئ وسیله ده .

بے غم:- څوکه سنا د بچو سره ئې هم څه قدر وے کنه .

زرغون:- څه وایه مه بے غمه . کله قلم مات کله سیاهی تویے کله

بوتل ورک . او کاغذ و نه کم وی . زه خو ځے پوزے

له راوستے یم . ویم چه کوم خوا اوتختم .

بے غم:- ( مسکے ) زرغون شاه کاکا . ځائے سهی کوه چه دواړه

وړته اوتختو . زه هم پوزے له راغلے یم .

زرغون:- دا ته خو باچائے سړیه ځان له دې بیټهک دے پولئے

په کښے ناست لیکل کوے . خو اره خواری خو زمونږ

ده سړیه . چه نه مو بیټهک شته او نه د کار دپاره



په کرایه ځائے اخستے شو ر

بے غم:- مطلب دا شو چه نه هم ځما په شان پریشان یې هن .

زرغون:- یره بے غمه که یو کار دې اوکړو نو هسے په بیعه به

یم وارخطے .

بے غم:- څه - ؟

زرغون:- هسے ما وئیل که ماله هم چرته کټ کښے لنځائے راکړے نو ډیره به ښه وی .

دواړه یاران به ناست یو زه به خپل کتابت کوم او ته خپله شاعری .

بے غم:- شاعری تنهائی او سکون غواړی . زرغون شاه کاکا .

زرغون شاه:- شاعری ( غرور سره ) وا ده ته لا ګوره . سنا څه خیال

دے چه دا یوا ځے ته شاعر یې . آئ هئ ځما به فیتی

خولبی دا ده چه زه مشاعرو کښے کښینم پاسم نه . کښے

اوس به دهر چاپه ژبه هم ځما نوم وو . څوانئ کښے

ځما د غرے هډو شاعر نه وو .

( رد جیب نه یو زوړ کاغذ راوباسی )

نه او دربنه هن دا د دے وا اوره کنه دا غزل .

زه یون کوم په نباکنه راروان یمه په لوبه

ملګرو . خیال کوی چه چرته رانکړئ ذکره

مصری ځما خوراک وو ما وینسل په د بوالو نو

اوس مېل هغوی هم چه کوم سهی بوځکئ ګوره

هرڅېل پردے جدا شو لو ځما نه یک تنها یم

اے خدایه ته هم مل شے یم انځتے په چقره

بیا زېږېن وومه بے شانه تل په نه څه مرور

بوه خبره سمه وه ځما مېله جګړه

زه ډېر په پلیسه مست وومه نشه به کړ ځېدمه

په سنوکومه پر نه وه د غرور عظیمه خره

حالت مې ډېر خراب دے خوکله اوکړم د چا نه

د زرغون شو سپیلنی ځما د ننه پېن جونګړه

زرغون:- بے غمه ... دا کاغذ ډېر ضعیف شو ے دے .... نور

را ته نه ښکاری. څه چرته بیا به ئے در ته داروم.

بے غم:- واه. واه ډېر ښه ډېر ښه واقعی چه ته کوے ....

زرغون:- تشکر تشکر دا مقطع دِ خو ښه شوه بے غمه (پاسی)

بے غم:- ډېر ښه. څه کوے نه خو پاسیدے.

زرغون:- بس ورځم کور ته. بهرحال ډېر وخت تېر کړو. چه لږ د حال

احوال نه هم ځان خبر کړم.

بے غم:- ډېره به ښه شی.

زرغون:- یو غزل را سره بل هم شته. خو څه بیا هغه به در ته چرته

بیا داوروم.

سلام علیکم

بے غم:- وعلیکم السلام



(دخان سره)

(ورکوښه وه کوی. د

عجیبه مخلوق دے نوی ورځ خبره ے خبرے خبرے

هم به نېپال وخت ضائع کوی. هم د بل.

(ماشوم راځی)

ماشوم:- داجی! مور وائی. کور ته راشئ.

بے غم:- څه ور ښه ورته وایه هغه لا ډودۍ ته نه دے

اوږکا.

ماشوم:- ډودۍ خو لا نه ده پخه

بے غم:- نو نور را ته څه وائی. وایه هغه نه دے اوږکا.

ماشوم:- ګل جانۍ ترود را شلے ده

بے غم:- ګل جانۍ؟ دا لا خوک ده.

ماشوم:- ځموږ ګاوندۍ ... ده.

بے غم:- نو څه وائی ما ته

ماشوم:- زه څه خبر یم. خو وئیل ئے زر دِ راشی.

بے غم:- (خود کلامی) زر دِ راشی. لکه چه میا نه کښې ئے اوسم

(غصه) څه ور ښه ورته وایه نیشته.

(محبوبا راځی)

محبوبا:- یا سریه. خدا ئے نه اوکوره. دا ستا مور وایه.

چم ګاوندو د ے.

بے غم:۔ ښه نو هم راغلے د خیره ۔ خه په شرموسر...

محبوبا:۔ خه دي خو ذ خوئ چهټئ نے راغلے دے ۔ هغه د...

کورې نو ۔ نه هسے غصه کیږے ۔

بے غم:۔ ځه ورشه راځئ وله ۔

محبوبا:۔ (ماشوم ته) ځه ورشه بچے ورته وایه دلته راشه (ماشوم...

سړے به څه خیال کوه ۔ غریبه بوډئ هم ده او کمزورې...

هم ۔ چرته آرام راته او نه کړې ۔

بے غم:۔ ښه ښه ته ئے ماته سفارش مه کوه ۔

ګل جانئ:۔ چرته ئے بچیه ۔۔۔۔ خدائے درسره ښه شه ۔ ماو...

ته لږ هوښیار شے نو بے خبره به راته اوکړے...

بے غم:۔ ترورے ستړے مه شے ۔

ګل جانئ:۔ خدائے دا دے کیلے کړه بچیه ۔

محبوبا:۔ راکړه چهټئ چه ئے درته واورئ ۔

ګل جانئ:۔ هن دا واخله بچیه ۔

بے غم:۔ پوه وے ۔ دا خو هم پوره افسانه لیکلے ده ۔

ګل جانئ:۔ (پوهه نشي) څه ئے ۔۔۔۔ لیکلي بچیه؟

بے غم:۔ (خط شروع کوي) د دعا سلام نه پس وائي چه دلته

خیر خیریت دے او ستاسو خیر د خدائے نه

نیک غواړم ۔

ګل جانئ:۔ او بچیه ۔ زه هم درته پخه ورځته دعا کوم ۔

دعا نه کوے ۔

محبوبا:۔ آؤ تو دغه یو بچے بد دے چه ته هغه ته

موړ تو به چا نه کوے ۔

ګل جانئ:۔ شتا بسے لږ دے ۔ نه بچے د ژوندانه څه لیکلي دي ۔

وائي ناجوړه شوے ۔۔۔۔

بے غم:۔ (سینه له ډب ورکوي) ناجوړه دے نوروز خان

ګل جانئ:۔ خدایه په دیه شوم (ژړه غوني)

بچے م ناجوړه دے ۔ خدایه ته خو ښه بچے هیڅ مه کئي ۔ یا او یه ځوانه په

نیکئ رامدد شے ۔ (بے غم ته) بچیه! څه وائي چه

ډیر خو ناجوړه نه دے ۔

بے غم:۔ ضرور ئے ته خبره خرپوره واوره کنه ـــــ وائي

ناجوړه شوے ووم خو اوس ښه یم ۔

ګل جانئ:۔ شکر دے چه خه دے ۔ بچیه څه وائي چه څه

ورځے ناجوړتیا ئے اوکړه ۔

بے غم:۔ دا خو ئے په کښے نه دي لیکلي ۔ وائي شپیته روپئ م

هم استولے دي امید دے چه درورسیدلي به وي که ۔

ګل جانئ:۔ او بچیه! رښتیا وائي ۔۔۔۔ خو بچیه حرام ږدي ۔ که

مونږ پیسه به کښے راته پاتے شوے دی ۔ پنځلس روپئ

هم زیور شاه له ورکړے او مونږ دے کالا ئی پټی وال له ۔

پنځلس نیسے روپئ راته پاتے شوے ۔

محبوبا :- او کنه نو ورسے. په نیسته روپئی کیږی ځه ؟
کل جانئ :- نو رکله خوبه ئے بنځوس رالیږے - او اوس شپیته
رالیږی. وائی چه تنخواه ئے زیاته شوے ده.
بے غم :- زما خیال دے. تاسو په خپلو کښے بنے خبرے
اوکړئ. نو بیا به درته زه چهٹئ واورؤم.
کل جانئ :- نه بچیه زمونږ خبرے به کیږی. ته راته چهٹئ
واورووه.
بے غم :- نو وائی که در رسید لی دی. نو چهٹئ کښے راته
اولیکه. او که د نورو پیسو ضرورت وی نو هم
راته اولیکه. چه درواستوم.
کل جانئ :- وے نه دے بچیه درته م او نه وے چه
د کلالی فرض را باندے پاتے شو.
بے غم :- ځه نو بیا به ئے ورته چهٹئ کښے اولیکے کنه.
کل جانئ :- بچیه چهٹئ به راته هم ته لیکے. ته هوښیار دے
نورو خلقو پسے لشم کړزید ئے.
بے غم :- بس نور په کښے دا سے څه خاص خبره نشته.
کل جانئ :- وی بچیه لورکله خو به ئے راته دا هم لیکل چه
مخکال څو مره فصل شوے دے. غوا پئی کوی
کنه؟ چه تهوغکے راغلے وو. نو زمونږ چرکان



کښے مړه دی که بچ دی. تا خو دا خبره را نه هلهو
او نه کړے.
غم :- او بس دغه خبره را نه پاتے وے چه تا په نجیله
او کړے.
جانتی :- بس دا بجے.
غم :- (ردخان سره)
" لیلا راغله ځما خوا له په شا لاړه
دا سے لاړه چه ...... "
(ورچیږی)
بے غم :- (کدننه) هلکه څوک ئے نو به م دی وی خدا به نو به.
نو دے :- دا د بے غم صیب کور دے.
بے غم :- (دروازه لرے کوی) آو. آو. سترے مه شے.
نو دے :- مهربانی صیب.
بے غم :- څنګه دی پښه اوکړه.
نو دے :- خانی صیب راستولے ووم. ډیره خانی صیب ډیر نبه
بے غم :- نبه نبه. او پوه شوم. ستړے دے. ګټے ئی صبا د شاعر تحرک
دومره خیال ساتی.
نو دے :- صیب هغوی وئیل که هغه غزل تیار دی نو راکه
دره نرسے. کاتب ورته بند ناست دے. نورکار

پرلیس ته تلے دے۔

بے غم :- ښه، ښه۔ لېس ته لږ کښینه زه هم هغه غزل لیکم۔ یا ته ځه۔ زه به دے ته ریوے نیمے بجے پورے پخپله دراودرسوم۔

نورے :- صیب یوه نیمه خو شوه۔

بے غم :- دا دِ ځه اودِوئیل۔ ؟

نورے :- او صیب۔ یخ منتیه پرے لا د پاسه هم شو۔

بے غم :- دسوړ اسویلے کوئ، نو پس له دے به خادرے غزل اولیکلے شی۔

نورے :- اڅ صیب۔ هغه وئیں چه که تیار وو۔ نو را ورله ترے کښی بیا به نور ځه بند دبست کوو۔

بے غم :- او وا ورسبنه ورته دے وئیل (سوچ کوی) خو د ښتیا نو دیه یو کار اوکړه۔

نورے :- څه جی۔ ؟

بے غم :- تش مه ځه۔ یوه قطعه درله لیکم۔ دا ورله یوسه ورته وایه۔ بے غم سلام کولو۔ او پس د سلام نه دے وئیل چه که د غزل په ځائے دا قطعه چاپ کیدے شی۔ نو ښه به وی۔

نورے :- ښه جی۔ چه څنګه تاسو وایئ نو۔

بے غم :- نه اودریږه چه زه دے یو ځل د نظره تیره کړم نو بیا دے یوسه۔

نورے :- ښه جی ـــ



د ځیل بر دو د لاسه په ستم یم
هسے نه چه زه بیمکرے په قلم یم
نا ښکاوه یم مدام عمرم ګران دے
ځکه په دا که زه نعرے وهم بے غم یم

:- (مسکے شی) ښه صیب۔

:- بس دا به فانی صیب ته حواله کړے۔ او ورته به دا هم اووائے چه څپله رساله کښے ماله د بو داسے خالی کور د پاره اشتهار ورکړی چه چرته ښکاوندے بیخی نه دی۔ د (مسکے) کښی بیا د زانه تازه غزلے نه غواړی۔

# فالي بابا



# کردارونه

| | |
|---|---|
| فالي بابا | شال محمد عرف شیلے یو ټهګ مار فالي |
| ښاپیرے | د فالي بابا نوکر |
| مزدور | یو مزدور - غټ کټ سړے |
| جانګل | د فالي بابا واقف کار —— چه د زړګي نوي نوي کاروبار کوي |
| زمیندار | یو زمیندار چه په ورکه ښځه پسې ګرځي - |
| خان | د زړه مریض یو خان |
| ښادوله | د خان سره نوکر |
| سرنج | یو بے روزګار هلک |
| محروم | یو عاشق مزاجه ځلمے |
| ښمشي | د ښادوله ښځه |
| اصلي فالي | د شال محمد عرف شیلي استاد |

خاپیرې سره زاړهٔ کتابونه او یو زوړ صندوق دے. هغه ترے مخکښے مخکښے راروان دے
یو ګوډ فالی په مزدور سور را روان دے
په یو لاس کښے ئے کو ننځئ او بل لاس کښے ئے بنجره ده.
شاګرد را او رسی سامان په فټ پاتھ بردی او خوانه سامان سره ډیر په ادب کښینی. فالی دَ مزدور په اوګه سرایځے دے. او ده دے خر پریږدی.؟

مزدور:- فالی بابا کوز شه. را او رسیدو.

فالی:- (خر پریکی)

مزدور:- بابا. ده فالی بابا (ځان سره) حق ادرسیدو کہ.

فالی:- (ستړګے ئے پټے ډی غبږ نه کوی)

مزدور:- (په درز سره ئے په زمکه را ډلی) دا څه دَ سټیشن مسافرخانه ده چه نه پکښ خر پریږ بےشخه.

فالی:- وئ ظالمه مړ دِ کړم. که بده م او وے.
(شاګرد ئے خواله راشی. دَ فالی لاس (نبض) غوبږ ته نزدے کړی بیا او خاندی)



خاپیرے:- اُستاذ. دَ خیره ژوندے شے. ماخو وے کہ.....

فالی:- وئی کنه خاپیرے. دا مزدور را ته څه ښه سړے ښکاره نه شو. که بده م او وے.

خاپیرے:- (شاګرد دَ مزدور خواله ورشی) ولے وے هلکه ته نه ئے خبر چه دا څما استاذ دے.

فالی:- (زبیر ګی کوی) خاپیرے. چه ژوندے درنه لاړ نه شی. وئ. که بده م او وے. هئی.
(مزدور په خاپیرې سترګے را او باسی خاپیرے او ویریږی او فالی له ترے را او تختی)

خاپیرے:- استاذ. خیر دے معاف به ئے کړو. سړے نه معلومیږی.

مزدور:- مزدوری م راکوه چه ځم درنه ناوخته دے.

فالی:- ناوخته دے. خوار شے داخو لا سوب سحر دے. که بده م او وے.

مزدور:- ته ئے سحر او ماښام څه کړے. مزدوری م راکوه چه ځم.

فالی:- (لږ سوچ کوی) خانیه پیسے محونی الحال نشته. که بده م او وے.

مزدور:- ډیر بد دِ او وئیل (غصه کښے) چه پیسے در سره نه وے. نو هسے دَ مزدور مزدور چخ دِو هلے.

فالی:- (خوشامد کوی) خانیه غصه تو که. را دیخوا شه. (نزدے

شه. آیینے زهٔ به درله فال اوګورم. که بده م اووے.

مزدور:- بده خو دِ ځکه اووے. چه بونړی دِ راله خرابه کړه. خوځه نو.

فالی:- (لاس ورته وروړاندے کړی او کښيني)
(خفه شی او سرخوزوی) هائے خانیه! ټوله ورځ خونولس، شل نه کړے.... خو نن ورځ به (خاندی) واه-واه- باران به یئ.

مزدور:- (خفه شی) باران به یئ؟ دا دِ څه اووے. خدائے دِ نکړی.

فالی:- خدائے دِ اوکړی.

مزدور:- خدائے دِ نکړی.

فالی:- خدائے دِ اوکړی. که بده م اووے.

مزدور:- ډیر بد دِ اووئیل. فالی کاکا خدائے شته چه لاس م ډیر تنګ دے.

فالی:- هائے کم بخته انسانه په خپل سود زیان هم نه پوهیږے.

مزدور:- وے نهٔ پوهیږم. باران کښے خو زمونږ سراسر نسخان دے. په ختو کښے.....

فالی:- باران! (خاندی) کم عقله! زهٔ خو د موسمیا تو افسر خو نهٔ یم. د پیسو باران یادَوم د پیسو. که بده م اووے.

(جولئ خوردی او اسمان طرف ته کوری)

خاپیرے:- (اسمان پله کوری) کم دی.

مزدور:- ډیر ښهٔ دِ اووے. (اسمان ته لاړ دَ مزدور په اوږه ډب اوباسی)

فالی:- (د مزدور) ختو نشته خوار شے. دَ بازار لار نیسه.

مزدور:- (نا ارامه) ښهٔ ده نو. (روان شی) لاړه به شم نو.

فالی:- په مخه دِ ښه. که بده م اووے.

خاپیرے:- (په چغه) یا چهیئ را لیږه.

فالی:- (غصه شی) دا رشته دار دِ د کومه راغے. که بده م اووے.

خاپیرے:- نه استاذ! دا خو م ورسره هسے ټوقه کوله.

فالی:- (مسکے شی) ښه. ښه. داسے دا یه کنه.

ډیر په کمال معلوموم — دَ قسمت حال معلوموم
هر یو جنجال معلوموم — ډیر په کمال معلوموم

(جان ګل چه دَ زړه وکو ټولو کاروبار کوی. راځی)

جان ګل:- فالی بابا! (لاس ورته وړاندے کوی) څهٔ کوے

فالی:- (جوړ تازه نهٔ ورته لاس وړاندے کوی) جانو څه شه؟-

جان ګل:- (ګله منه غوندے) نه ما وے. دا لاس م ښهٔ اوګوره.

فالی:- (نبض ئے کوری) او هو! جانو بچو! رګ دِ تیز او رنګ دِ زیړ دے. (نه ښکاری) چه.....
که بده م اووے.

جان ګل :- نه نه. هسے ماوسے لږ دا لاس م او ګوره.

فالی :- (حیرانتیا) لاس او ستا ؟

جان ګل :- یره هسے ماوسے چه نن به هم د نور کله په شان
نیرېږی. او که چرته .....

فالی :- (لاس ئے ګوری) هائے جان ګله بچو! ستا د قسمت
ستورے لا هغه شان په ګردش کښے دے. زهرا
او زوهل په خپلو کښے راخاپیری سره سرجنګوی) په
د غرو دی. که بده م او و سے.

جان ګل :- لا هغه شان په د غرو دی. (د پاسیدو کوشش کوی)
نو بیا څه کوم چه لاړے ساتم. کور ته به لاړشم نو.

فالی :- کښېنه مړه. د قسمت ستوری په یو حال نه وی. کیدے
شی چه د لاس کرښے دِ هم نن. او نن څه چه په دا
ساعت بدلے شی.

جان ګل :- دا راته او وایه چه زما اوده بخت به کله راویښیږی.

فالی :- دا ئے لا بله ګوره جان ګله. که اوده بخت دِ را بیدار
شو. نو تا به هم خوب ته پرېږنه دی. که بده م
او و سے. خو ته یو کار او کړه.

جان ګل :- هر څه به او کړم. وایه. څه او کړم.

فالی :- ته به شلوېښت ورځے بے مزګے ډوډئ خورے
د اوبو ویلنی سره. که بده م او و سے ـ بله دا چه
د تور سپی، تورے پیشو، تورے چرګے، تور ګیدړ



او نور بنیادم نه به ځان لږ لرے ساتے. که بده م
او و سے.

جان ګل :- نور بنیادم ! نو زړه چه په خپله تور یم نو د ځانه چرته
او تختم.

فالی :- غم مه کوه. ته به ډیر زر سپین شے.

جان ګل :- (خوشحاله شی) ښه! سپین به شم. شکر دے. خو
په څه به سپین شم

فالی :- جان ګله! په تا ډیر زر برګے لږېدونکے دے.

جان ګل :- برګے !!!

فالی :- او د خیره په ځیزونو کښے د ملاوټ په وجه به ته
اول برګے، بیا چرګے او بیا تک سپین شے.

جان ګل :- دا دِ څه او وے! خدائے دِ نه کړی.

فالی :- زړه مه بائیله مړه. که غرلوئے دے. په سر ئے
لار ده. (په یو کاغذ ورله تعویذ لیکی) د دے علاج
دا تعویذ کوږے وږے کرښے دی هن. خله (تعویذ ورکوی)
تو ته کښے اوګنډه. او تو پټی کښے د ننډی د پاسه آویزان
کړه. او شکرانه به د خیره ......

جان ګل :- لا د تک نه دیے شوے. خفه کیږے به نه.
(جان ګل پاڅی)

فالی :- ستا خو به خو تعویذ کوی بے شکرانے اثر نه
کوی. که بده م او و سے.

(په رعب سره) ډیر لرې نه دې تلې. هم دلته.

[فا]لی :- دلته.

[زم]یندار :- د اسمان دلاندې د زمکې دپاسه. که بده هم او وې.

[فا]لی :- اَو- اَو.

[زم]یندار :- ماخو پسې کوټ کوټ چاڼ کړو. خو په لاس هم رانه غې.

[فا]لی :- غم مه کوه علم نجوم به ئې پخپله کور ته راولی. که بده هم او وې.

[ز]میندار :- (د فالی کتابونه نبکلوی) وه قربان ستا د کتابونو نه. کوشش په کښې لږ ډیر اوکړه دوره. ستا چه هرڅومره شکرانه کیږی. در به ئې کړم.

فالی :- "در به ئې کړم" زما په کتابونو کښې نشته. که بده هم او وې. ځانیه یو لاس کښې شکرانه اوبل لاس راوړاندې که چه فال دې اوګورم.

زمیندار :- قربان خو به ئې درنه کړم. هن واخله دا څلور انیز (د پټکی پلسکی نه پیسې پرانزی)

فالی :- څلور انیز دا خو شو دې س خو دو. د لاس کتو به بله راکوې. که بده هم او وې.

زمیندار :- په لاس خو دا د لاس کتو دې نه پوهیږم. خو که کار هم او شو. نو خوشحاله به دې کړم.

فالی :- (د زمیندار شا د طرفه خپل مخ ګرزوی او غږ وئې کوی)



جان ګل :- بنه دې او وې خو ځان سره ئې وهې کښې او لیکه.

فالی :- (د کتاب کښې ئې لیکی) او هم ییکلې در پسې (جان ګل ته)

فالی :- (په زوره)

د قسمت حال معلوموم
ډیر په کمال معلوموم
ډیر په کمال معلوموم
هر یو جنجال معلوموم

(ناصافه د جیب نه چاقو را اوباسی
د چاقو سوکه د خپل لاس په تلې ږدی
لاس نه ګوزی. او ځان سره ګیا شی)

فالی :- هائے د تقدیر ماله. که داکر بنه لږ شان اوږد تلې وې. او دې بلې پرې کړې نه وې. نو څومره بخه وه- هائے- استاذ هم رښتیا ویل کنه- چه بچوا خه ورځ به وړاندې وی او نه به ور پسې ئې.
(لږ غصه کښې)
دایو زړه خو راته وائې چه شلخیه بنده- نه نو به شال محمده! د لاس دا نیو ئے کرښې ورانې کړه- او د دولت دا کرښه لږ اوږده کړه- ... زمیندار سره ئې راځی- او دریږی او په تندی دا سې لاس کیدی لکه چه څه ترې ورک شوی وی او هغه ساری) خو څه یره رابه شی.

زمیندار :- (په منډه راځی او فالی سره کښینی) را به شی! چرته دې هغه. هن زر وایه کنه. چرته دې هغه.

نه به ځې.

زمیندار :- پیدا شو.

فالی :- څی به چرته. نو ډیر بد یدراګیر دے. که بده م او وے

زمیندار :- هائے. که راګیر نه وے. نو تر او سه به کو

نه وُو دا رسیدلے.

فالی :- په کیده نهر معلومیږی د په تلی کښې ورنه کتهمل

هن مره ئے کړه.

زمیندار :- مره ئے کړم څه دی؟

فالی :- کتهمل دے مره. مره ئے کړه.

زمیندار :- بنسه. او هغه چرته دے؟

فالی :- دا به شی. دا به شی د تعدئی نه به کار نه اخلے

که بده م او وے. په لار د کوخو بازار ونو کښې هونهلو

او پارکونو کښې م ور پسے ډیر کوشش او کړو

خو.......

زمیندار :- نو آخر لاړه چرته.

فالی :- (پریشانه شی) دا درته نه شم وئیلے. که بده م او وے

زمیندار :- دا به را نه خا مخا وائے فالی کاکا. هن دا ده بله

دو پئی.

فالی :- (خوشحاله شی) د غسے..... را کړه (روپئی جیب

کښې اچوی) بچے به دې پیدا شی. غم مه کوه.

زمیندار :- (ګله مند) غم به وے نه کوم دوره. چرندے



..... ئی ادوم -

خوک ئے په سر

خانے دا د قسمت خبره ده

فالی :- خانے دا د قسمت خبره ده ———— خوک ئے په سر

اوړی. او خوک ئے په خر اوړی. که بده م اووے.

زمیندار :- په پنځه سوه م نه دے ورکړے. ډیر ټکره

خرو و.

فالی :- خروُو د په مرئی کښې ئے لاړے اوچے شی (خندا)

ما وے که بده م او وے.

زمیندار :- هائے. چه غریب به اوس چرته وی.

فالی :- ستا خر مندوئی کښې ولاړ دے. د دوو دلالانو

مینځ کښې راګیر دے. که بده م او وے.

زمیندار :- مندوئی کښې!!

فالی :- او. او. ځان رسوه کښی بیا به (دوباره) لاسونه

مروړی) لکه د چه منګولے مروړے. که بده

م او وے.

زمیندار :- خه نو رخصت راکوه چه ځم درنه.

فالی :- درځه. ورځه په مخه دې ښه. که بده م او وے.

د قسمت حال معلوموم.

ډیر په کمال معلوموم........

هر یو..........

ریوضان چه د زړه مریض دے غاړه

کښې ئے تعا پخه اچولے ده. په سر ئے

کلاه لنګئ ده واسکټ ئې اغوستے
دے۔ او د خپل نوکر شادولا سره
راروان دے د شادولا په لاس کښې
د دوایانو بوتلے دی)

شادولا:۔ ځئ خان ځئ..... (خان سره) خان هم د زړه
مریض دے۔ خدا ئے خبر چه بیا به مو په
شر اخ وی۔

فالي:۔ راځئ خان، چه لاس مو اوګورم۔ که بده هم او دے

خان:۔ (نوکر ته) دا دے لاڅه واخئ شادولا۔

شادولا:۔ دا فالي دے خان۔

خان:۔ (غصه شی) لاس ورته ګوری۔ شادولا۔

شادولا:۔ (په ویره ویره) جی خان جی۔

خان:۔ (ښکي ته اشاره کوی) د زړه خو هم وائی چه دے
له یو مضبوط لته ورکړم۔

شادولا:۔ نه به ئې کنه خان۔ ډاکټر صیب هسے هم
ویلی وو۔ چه څه د زړه غواړی هغه کوه۔

خان:۔ ویلی نه۔ اوږ ئے کړ بد ے

شادولا:۔ او خان اوږ ئے کړے دے۔

(خان د فالي ښکس له لته ورکوی)

فالي:۔ یا هلکه! دا ولے؟ د علم نجوم او علم رمل
د کتابونو دومره بے ادبی۔



شادولا:۔ (شادولا فالي ته وکي) ډېر بد دے اوږیل۔ خان
هم د زړه مریض دے۔ هر څه چه ئے اوکړل۔
بده ورته مه وایه۔

خان:۔ شادولا۔

شادولا:۔ جی خان جی۔

خان:۔ دا زړه هم وائی چه دے فالي له هم یوه مضبوط
ښېره ورکړے۔

شادولا:۔ نه به ئې کنه خان! ډاکټر هسے هم اوږ
کړے دے۔

(خان فالي له یوه مضبوطه
ښېره ورکوی او بیا ئې
یو مضبوطه لته او باسی۔)

فالي:۔ یه هلکه دا دخل ولے کوے۔ که بده هم او دے

شادولا:۔ ډېر بد دے او دے۔

خان:۔ شادولا!

شادولا:۔ جی خان جی!

خان:۔ دا زړه هم وائی چه........

فالي:۔ (خان له مشوره ورکوی) چه شادولا دې د
نوکرئ نه لرے کړے۔ او زه دې خان
سره نوکر کړے۔ که بده هم او دے۔

خان (خان شادولا ته د غصے په نظر ګوری۔ شادولا

ورته په ویره ویره کوری) بالکل تهیک ! او شا
ته تلے شے۔ فالی نبۀ وائی۔ دَ نن نه فالی خم نو
دے۔

**فالی:۔** (خوشحاله شی) هله خانیه درومه۔ خوچه پر کې
تیښ او نه دریږے۔ که بده م اووے۔

**شادولا:۔** نو ګنے رښتیا لا پرشم خان۔ (خان ورته په غصه کوری۔ شادولا خفه دګیر روان شی

**خان:۔** فالی۔

**فالی:۔** جی خان جی !

**خان:۔** دا زړۀ م وائی چه تاله م ....... (په طمانچه
لاس وهی)

**فالی:۔** یا الله خیر..... جی جی ماله..... ماله (فالی
ورته دواړه لاسونه وړاندے کوی) اوخان
ماله دِ لاس اوکتے۔

**خان:۔** بالکل تهیک (د فالی لاس ګوری) (دے
کښے یو بے روزګاره هلک سرناج راځی او دَ
فالی په لاس خپل لاس ګوری)

**سرناج:۔** فالی ماما ځما لاس اوګوره چه زۀ به.....

**خان:۔** ته څوک یے هلکه ؟

**سرناج:۔** جی سرناج !

**خان:۔** سرناج (غصه شی) دروغ ! دروغ !..... فالی۔



**فالی:۔** جی خان جی۔

**خان:۔** ته دَ ده په سرناج دیخے ؟

**فالی:۔** جی خان جی۔

**خان:۔** څۀ دِ اودے ؟

**فالی:۔** نه خان ! ډیرائی کلین له به ځے ورکړے یی۔
که بده م اووے۔

**سرناج:۔** فالی ماما ! زما او دَ ه بخت به کله را بیدار شی۔

**خان:۔** خدائے دِ هیڅ را بیدار نۀ کړی۔ مونږ ے
څۀ کوو۔ هن کنه ذلی۔

**فالی:۔** جی خان جی۔

**سرناج:۔** فالی ماما ! دومره حورانه اووایه کنه چه هغه
په زړه سنګین، دَ زړۀ تسکین، چین به جبین،
مزاج رنګین به ماته ملاؤ شی او کنه۔

**خان:۔** (ډیر غصه شی) فالی ! دا دے لاکومه ته به وائی !

**فالی:۔** څۀ وائی خان۔ څۀ وائی۔

**خان** (په غصه کښ) څۀ وائی ؟

**فالی:۔** نه۔ نه خان۔ بد وائی۔

**خان:۔** بد وائی ؟

**فالی:۔** (په ویره ویره) څه اویم خدایه ! خان جی نبۀ
وائی۔ که بده م اووے۔
بد وائی۔ که بده م اووے۔ نبۀ وائی که بده

م اووے۔ بد وائی کہ بدہ م اووے۔

سرتاج:۔ د ژوند د لاسه تنگ یم۔ فالی ملما۔ اووے۔

خان:۔ فالی!

فالی:۔ جی خان جی۔

خان:۔ دا زړه م وائی چه دۀ لره م ........

فالی:۔ (فالی د سرتاج نه دوارړ لاسونه تاؤ کړی) زر وایه خان! سرے زما ننګنی کوے۔ که بدہ م اووے

خان:۔ دا زړه م وائی چه دے م ځان سره نوکر کړے۔

فالی:۔ ښه به شی که خان۔ که بدہ م اووے۔

سرتاج:۔ (د خان په ښپو پریوځی) مهربانی خان۔ مهربانی۔

خان:۔ فالی!

فالی:۔ جی خان جی! که بدہ م اووے۔

خان:۔ دا زړه م وائی۔

فالی:۔ (د خان د خولے نه خبره اخلی) چه دا نوکر د ځان سره بوتلے۔ او زۀ دِ یو ازے پریښووے که بدہ۔

خان:۔ (بالکل ټهیک۔ څه چه څو هلکه) خان او سرتاج دواړه لاړو انبری۔
(فالی کښینی دِ مخ نه خوله اچوی۔ او ځان



سره وائی)

فالی:۔ شکر دے خدایه! بلاوه او برکت ے نه ووَ۔
(یوه ښځه، شمئی د خپل ماشوم
څوی سره راځی)

فالی:۔ راځه خورے راځه۔ شرم مه کوه۔ د علم نجوم په برکت هرڅه معلوم۔

شمئی:۔ څه اوکړم دوره په بابا کا نوکر ځیدو خو هم ستړے شوم۔ ما وئیل چه چا ته لاس او نه نیم۔ چه دا زه ورته دا سے سپکه ولے نبکاره شوم۔

فالی:۔ زاره مه خورے۔ سپک خو هغه دے چه بل ته سپک کوری۔ که بدہ م اووے۔

شمئی:۔ زارهم به ولے نه۔ دا دریمه میاشت دہ لوئے لاهور ته تلے دے۔ او مرزښ نه ے چیټهئ قدر لهم نه دۀ را لیګلے۔

فالی:۔ لاهور ته!

شمئی:۔ د یوځ ن سره نوکر وو۔

فالی:۔ ... دا په مزو سر دَو۔

شمئی:۔ خوشحاله شی) او۔ اؤ۔ شاد ولا اهم د غه ے نام د دوره۔ نه خو بالکل زبرک ے!

فالی:۔ زبرک چرنه یم خورے۔ دا خو د علم نجوم او علم رمل کمالات دی۔ که بدہ م اووے۔

Scanned with CamScanner

که بده ئې اووے.

مجلوم:- (دَ فالی خوا کښے کښینی او خوشامد کوی) ولے نه ئے
پلار پیژنے خهٔ. تخدائے د پاره بابا.

فالی:- کینه کینه. دَ دے دَ علاج نه دے.

مجلوم:- نو نه ئے را ته علاج او نبایه کنه.

فالی:- ستاسو دَ دواړو دَ پلار او نو په یونېښن لیدل کتل
پکار دی.

مجلوم:- (خفه شی) دا به چرے هم او نشی بابا.

فالی:- ولے به او نشی. که بده ئې اووے.

مجلوم:- فالی بابا! زما پلار غریب خو په دواړو سترګو
ړوند دے.

فالی:- بیا! نو دا ځکه نه په ډک بازار کښے د محبت سندرے
وائے. که بده ئې اووے.

مجلوم:- نو دَ دے علاج!

فالی:- ډیر آسان دے. خو ګوره اینے. پلار دِ په غوږونو
کوڼ او ژبه ګونګ خو نه دے کنه؟

مجلوم:- نه. نه شکر دے نه دے.

فالی:- بس بس. او شوه. ستا دَ سترګو نور دَ زړهٔ
ړکور به تا ته ملاؤ نشی. را ګوره چه لاس درله
اوګورم. که بده ئې اووے.

مجلوم:- زړهٔ ئے را نه اوړے دے په ژوند یمه



شمئی:- ړوړه دا را نه او وایه چه هغه به کله راشی.

فالی:- راشی نه خورے. را غلے دے. که بده ئې اووے.

شمئی:- کوم دے. زهٔ خو هم اوس دَ کوره را غلم.

فالی:- یقین اوکه خورے. هغه دا ساعت ستا کور کښے نغرو
چغرو ناست دے. که بده ئې اووے

شمئی:- تخدائے در سره ښهٔ شه. ډیر دِ ښهٔ اووے.

فالی:- پنځه روپئی شکرانه به را کوے. که بده ئې اووے.

شمئی:- ښهٔ دِ اووے خو دا ساعت را سره دقه پنځه پیسے
دی. نور دے به درله خیر وی بیا را وړم.

فالی:- پنځه پیسے (جیب کښے اچوی) ځه دا به زیری کښے مجره
کړم. نو خو خیر یاد لره دَ علم نجوم داکتابونه
هغه بیا هم دَ کوره بے کوره کوے نشی.

شمئی:- سودا مه کوه. فالی دوړه دَ چرګو اګئی به درله
را وړم. ځان له به ئے خرڅے کړے.

فالی:- ډیره ښه ده. ډیره ښه ده.

(شمئی ځی او یو عاشق مزاجه سړے
مجلوم راځی)

مجلوم:- (ترنم سره وائی. اداکار دان دے) ښکلے د هر چا نه ده
ځاد زړهٔ توته ده. بلا ډیره ښائسته ده.

فالی:- (لږ غصه) چپ که خوار شے. که پلار دے درته
خبر شو نو دَ بوسو سخے به درته جوړه کړی.

ستومانه۔ زړه یې زم دَ خفګانه۔

فالی:۔ (لږ په غصه) غلے شه دَ مجلوم بچیه! که بد ه م اووے۔

مجلوم:۔ (فالی ښکلوی) وه فالی بابا! ته خو په والله چه زبرګ او ختے۔ تا ته چا وے چه زما نوم مجلوم دے۔

فالی:۔ (رضاندی) بچے ماسره علم نجوم دے۔ که بد م اووے۔

مجلوم:۔ (عاجزی سره) فالی بابا! دارا ته او وایه چه زما لیلے دا ماله څه کئی۔ هن۔

فالی:۔ (حیران شی) ستا لیلیٰ! ستا لیلیٰ! اُوریم۔ اوریم۔ که بده م او وے۔

مجلوم:۔ او کنه بابا۔ زر را ته او وایه کنه۔

فالی:۔ خو بچے اینے شکرانه به دِ ډیره لږ ی۔

مجلوم:۔ شکرانه! (خپل بوټان او باسی او فالی ته ئے مخے ته بږدی) هن څه دا واخله نو۔

فالی:۔ (خوشحاله شی) خاپیریه! بوټان!

خاپیرے:۔ (استاذ کار او شود باران)

مجلوم:۔ دا او وایه کنه فالی بابا! چه هغه دا ماله څه کئی؟

فالی:۔ (سوچ کوی) هغه۔ هغه تګیاده او ړه اغږی۔

مجلوم:۔ (د فالی لاسونه ښکلوی) هائے مائے زار کړے دلاسو نو نه۔

فالی:۔ ستا بعو به تا نه ملاؤ شی۔

مجلوم: (زړه۔ ...) په ایمان سئے و ے دخوان بچیه! کله هن!

فالی: ...خو داد (چه، سر به په تلی کښ بند ے اوو رځے ...

مجلوم:۔ ...په ... کښ ...؟ ...نیږی۔ بوټان ځان سره او چتوی)

فالی:۔ دَ ... په ... مان۔ یا هلکه بوټان۔ خوار شے شکرانه دِ م ... سره بوړه۔

فالی:۔ (راسو ... کوی) هائے شال محمدخان! تبوله ورځ دَ نوید دَ قسمت کړے زب ے کړ بنے سیے۔ خو دَ خپلو کښ و کښو د ... سره هنر ملاج نشته۔

د قسمت ... معلوموم — ډیر په کمال معلوموم
ډیر په کمال معلوموم — هر یو جنجال معلوموم

اَصلی فالی:۔ (... ورند راشی دغوګه ئے نیسی) نبه د شلغی بچیه ... روس را ته دَ شلغی نه شال محمدخان شوے ربورډ نه (شاره کوی) تا څه دَ ټیل چه استاذم مرشو ... خه ... ښو ... چه تاد موقعے نه فائده ... واخسته (کتابونو نه اشاره کوی) او ځا په هر څه دِ ... قسمت و کړه۔

جعلی فالی:۔ استاذ پوه شوے نه ووم۔ که بده م او ئے۔

اصلی فالی:۔ نو او س به پوهه شے۔

جعلی فالی:۔ پوه یم استاذ۔ ښه پوه یم۔ که بده م او وے۔

**اصلي فالي:-** نه ئې پوهه. هله به پوهه شې. چه تا نړے ئے نس اودے.

**جعلي فالي:-** استاذ تهانړے نه ځم. مه بيايه بنه تهانړه کښې سړے ډير ډبيږي. که بده ئې اووے.

**اصلي فالي:-** بنه نو ما دا وا سکټ دِ هم راپټ کړيدے- او باسه کوڼے.

**جعلي فالي:-** دا ستا دو استاذ! بنه. بنه نو هن وائے لږ کنه.

**اصلي فالي:-** او باسه خوار شے. د يخنۍ نه دِ مړه کړم.

**جعلي فالي:-** مړ نه ئے استاذ. که بده ئې اووے. د خيره ژوندے يې.

**اصلي فالي:-** او ژوندے يم او ژوندے به يم. لخيري.

**جعلي فالي:-** ماخو وے که نه مړ شوے استاذ.

**اصلي فالي:-** زما د مرګ خوبونه مه وينه. ورانه دے کيږه چه په وخت دِ تهانړے ته رسوم.

**جعلي فالي:-** څه نو. که بده ئې اووے.

---



# حادثه

# کردارونه

| | |
|---|---|
| جلاتې، ماموتې | دوه ساد ګیان |
| ملالۍ | دوستان |
| شمروز | د ماموتې مور |
| ډاکټر کمال | یو لاروے |
| جانے | یو بے انصافه ډاکټر |
| ډاکټر یوسف | د ډاکټر کمال نوکر |
| نرګس | یونیک او رحمدله ډاکټر |
| سپرنټنډنټ | د ډاکټر یوسف ښځه |
| | د هسپتال انچارج |



## اوله ننداره

ماموتې د ډېرو کوښښ کوي چه جلاتې
را اورسي د غوبږه نه اونیسي- او
ودرته وائي

جلاتې:- (ساه ساه) په ګوا الله که ډېر پړ دم. ستا څه خیال دے
چه په منډه به را نه خلاص شے څه؟

ماموتې:- (ساه ساه) جلاتیه- دا ته وے څما مرګ پسے
شوے- ظالمه- ما درسره بد څه کړی هن.

جلاتې:- که د ملالۍ ترور خوځے نه وے نو ما به
وئیل پریده چه بنبے لنې او وهے او وهے او
مر شے.

ماموتې:- جلاتیه مر نبه یم خو تا سره نشم تلے- هسے را نه
خفه کیږه مه نبه-

جلاتې:- ستا دغه اشنا به هُم ګمی-

ماموتې:- کوم اشنا؟ (اخوا دیخوا ګوري) نبه نبه-
ایښے جلاتیه یار هم نه سمے-

جلاتې:- د آزادی- ستا یاری راته ډیره ګرانه پریوته.

Scanned with CamScanner

یاره م سره ځکه خو دې بیا یم اپریشن له.

ماموړتې:- (د لږ غصه) څه مړه که یاری دې ترواڼۍ

څما هم د و پکار نه سرې.

جلاټتې:- خانیه که بیوه دِ خاندی او بیله دِ جاری. خ

هسپتال ته به دِ بیایم - پورته شه درته ویم

د لته غوټۍ راته د سړک مینځ کښې برابرا پریوتې

ماموړتې:- هغه څه چه واسې ځ جلاتیه وایې خو ته

د دسره نه شم.

جلاټتې:- دا بیا سنا اختیار راوی لو- او دریږه خدا

به خوک راولی که ته ما په دې نګه دِ ولټی بوته تلې لو بل دنوم

لاله کیږ ده.

ماموړتې:- سوره جلاتیه څما او منه. دې کښې د د واړو د خبره دې

جلاړتې:- خیر مو دې کښې دې. ماموتیه چه سنا د خبرې اپریشن

اوشی.

ماموړتې:- (په ساده ګئ) تول شپه سره د واړو په چړې چاقوان

تیره کول.

جلاړتې:- چړې چاقوان سرې تیرول کول. دا چا د ې؟

ماموړتې:- خوب م لیده جلاتیه. ما دې د واړو د کیده سرې

اپریشن د سرې او د ډاکټران لکیا دی چړې چاقوان تیره کوی



اپې-

څه ګه- ته ما په د سرې خبره نه شې نیر باسلې.

جلاتیه او منه څما خوب ګو د سرې چړې په چپه نه

د سرې نخلې.

:- (سوچ کوی) بیا! هلکه ماموتنیه! بیګا څما کیده کښې هم

نرې نرسې دړد کیده. ما دې که ننګه نهنګان م خوړلی

دی.

:- نهنګان هسې مه بدنامه وه نه. که ډاکټرانه دِ ځان

او خرلو- په والله که بې اپریشنه دِ پرېږ دی.

:- بره ماموتنیه پروت سنا خیال وو. چه هغې یو ډاکټرمانه

نیغ نیغ کتل. دا نه نبکاری په دړدم رسیدلې وو.

ماموړتې:- ځکه خو درته وایم چه هسپتالونه پرېږده. څه چه

ځو کلی ته.

جلاړتې:- کلی ته ځنګه ځې. ټول سامان هسپتال کښې پروت دې

او د سرې ځې کلی ته. هغه زړه برستن. سلور سې چانک. دده

پیالئ او یو دیګیچې. دشنیا هغه خپلئی راته هم په منده

کښې پاتې شوی دی.

ماموړتې:- مرغه دِ سرا وخوری جلاتیه. سر بچ کول پکار

دی.

(یولار دے۔ شمروز راځي۔)

شمروز: باهلکو تاسو په خود یئ۔

ماموتے: اؤ د خیره۔ بنه په خود یو۔

جلاتے: ولے تا ته بے خوده ښکاروځه؟

شمروز: دا د سړک مینځ کښے موږ مجلس کوم کړے دے

ماموتے: مجلس نه کوؤ۔ دوره هسے څه جرګه مو کوله۔

شمروز: جرګه۔ د سړک مینځ کښے۔ وا زه در آوره۔ چرته دسـ

غاړے ته څو کښینئ کنه۔

جلاتے: څو دوره څو۔ ته مه خفه کیږه (د ماموتي ته) دا ته ښکا

داسې بیلدار دے۔ دوئ کو دے په سړکونـ

ډیر خفه کیږي۔

(د موټر د لرے نه د راتلو شتا اُشو)

باسه چه څو ماموتیه۔ د قسے۔ داسے نه داسے

مره۔ داسے اینے ماپسے۔ اوهو هغه خو را ته بیا

منده کړه۔ خدایا خیر۔

(اقه دے ماموتے ته رااله او چقوي۔)

شمروز: اوهو داخه اوشو۔ سړے ئے او وهلو۔ نمبرے

نوټ کول پکار دی۔ ل ب ت ث ۲۷۲۸ سپین ویکسال۔

(ننو دے راشي)



دهو روړه دے څو ډیر سخت زخمي دے۔ .....

دنه والا او لبنیدو۔

ئے: ته مونږ پریږده دے اوچت کړو۔ چه هسپتال ته

ئے او رسوو۔

ز: څوک چه د سړک په مینځ جرګے کوي۔ د هغوئ هم

دغه حال ئي۔

نے: ماموتیه۔ وا ماموتیه۔ دوره د ے څو غږ نه درله

هم نه کوي۔

روز: خاور ے به غږ او کړي۔ ګوره ے نه څو مره زخمي

دے۔ اوچنه وه چه څو۔ سړے را نه خرابیږي۔

جلاتے: هاے ماموتیه د بارات نه پښیده دے د پرنالے لاندے

د شپه شره۔

## دوئیمه ننداره

(جلاتے او شمروز د اپریشن تهیټر نه

مخے ته آولړي راؤ ړي۔)

جلاتے: شمروز خانه دوره ماموتے به ښه شي۔

شمروز: زه تونے څه خبر یم چه اپریشن ئے او شي نو

په خپله به خبر شے۔

Scanned with CamScanner

جلاتے:۔ هسے ماوے جوړ به شي.

شمروز:۔ خدائے عالم دے نو۔ زخمي خو ډیر دے. خبره ده نو۔

جلاتے:۔ دے خدائے تباه کړه۔ سم دم مامورتے ئے مات ګوډ کړو۔

شمروز:۔ اؤ اوس به لګیائ تانګے به درته ګوي۔

جلاتے: (حیرانتیا) څوک به درته تانګے ګوي دوره۔

شمروز:۔ د دغے تحانې سپین اوږد موټر مالک۔

جلاتے:۔ دنه مرتټر۔! دا د چا موټر دے۔

شمروز:۔ دا د ډاکټر کمال۔ ماته پته کړے ده۔ دلته د کیږدلوتیئ مشر سرجن دے۔

جلاتے:۔ یره ډیر سم سړے ئے خو دا چه پښتو کښے خبره نه کوے نو کلم درته پیدا شي۔

شمروز:۔ زور آوره د اتفاقي حادثو د علاج مشر ډاکټر دے. اوس پوهه شوے۔

جلاتے:۔ بس اوس د سمه خبره اوکړه کنه۔ ډیر بدنسمته معلومیږي که په فلاړے موټر چلولے نو اوس به په فلاړ خپل کورکښے بچو سره ناست دو.

شمروز:۔ ته خداے۔ چه یواځے مامورتے خوک شوے دے څه؟



د مامورتی نه اول ئے د دوه کسانو اپریشنونه اوکړل۔

دنیے:۔ هغوئ هم موټرو وهلی دی۔؟

شمروز:۔ (خاندي) نه یره یو لیوني په پردي واده کښے ټپاخے خلاصولے هغه سوے دے۔ او بل دراني لاړي ته په منډه ختو پښه ئے اونخویده د تانګے لاندے راغلے دے۔

جلاتے:۔ خپل کار به کوي۔ داخلق هسے لیونے شوے دے۔ خو هسے ماوے د مامورتی خو ډیر ساعت اوشو لیږ تپوس ئے نه کړے د ډاکټر نه۔

شمروز:۔ نه یره۔ چه اپریشن ئے اوشي نو په خپله به ئے بهر نه را اوباسي۔

جلاتے:۔ ښه۔ ښه۔ اورسیدم۔ یره تا سره د خدائے ښه اوکړي تا ناپیژندګلو کښے ماسره ډیرے منډے اوډهلے۔

شمروز:۔ داخو ګما اخلاقي فرض وو۔ (ځان سره) خو یره چه هغه کاغذ م څه کړو۔

جلاتے:۔ (ځان سره) یره نن ډیره ګرمي ده (شمروز ته) او به درله راوړم۔

شمروز:۔ (خاموش)

جلاتے:۔ جواب د رانکړو۔

Scanned with CamScanner

شمروز:- (کاغذ کوی) ا - ب - ت - ث ۲۷۲۸ -

جلاتے: زاته ښکاری په سبق اوس اوس ناست ئے.

شمروز:- نه. نه. دا خو د غه موټر نمبر دے. د ډاکټر کمال د موټر.

جلاتے:- (په غصه) خدائے دې ورک کړی. نوم ئے را مه اخله.

شمروز:- څه چه دواړه لږ درشو تهانړے ته

جلاتے:- نه دروړه ماموتے اشنام خوبن دے. زړهٔ م خفه دے د ډیر تیل ناتیل نه یم.

شمروز:- ښه ده نو ته کښینه زهٔ ورځم.

جلاتے:- ورشه خو زر به راځې. ښمکړے یارانه به راسره نه کوے. ته مرکه مرکه به ئے پالوګنیږی.

شمروز:- (خاندی) ډیره ښه ده. ډیره ښه ده.

(شمروز ځي)

جلاتے:- (ځان سره) هائے ماموتیه که تخنیدے نه وے نو څخیدے به نه وے. اوس به ښه په آرام پسته تولائی کښے پروت وے. د مرګ خوب لے نه دې په خپله وداوډانګل ..... خو خدائے دې ئے مړ کوی نه. زهٔ به څه کوم. امید خو به ئے د غمه مړه شي.



(غصه غصه) هغه به بے غمه کور کښے ناستے وی ورځې به شمارې چه نن به راشی، صبا به راشی...... خو سوال جواب ورپسے کوم چه د ماموتي ملاقات له راشي.

## دریمه ننداره

(د ډاکټر کمال کور)

(ډاکټر کمال بهر ته راځي)

(جانے د نوکر ټیلی فون کوی)

کمال:- څه دی جانیه ؟

جانے:- صیب ستاسو ټیلی فون راغلے دے هسپتال نه.

کمال:- هسپتال! هسپتال! هسپتال! یو خو دے هسپتال نه پوزے ته راغلو. نوله ورځ هسپتال کښے لګ د طبیبۍ د اس منډے او وهو اوچه شپه شي نو د شپے مرهم څوک آرام ته نه پریږدی. څه ئے ویل؟

جانے:- ویل ئے لسم نمبر بیډ مریض ته سخت تکلیف دے.

کمال:- او ته سحره به مړ شي دا ئے وے کنه. دا خلق هسے پرغزیان دی. تا ورته څه او وے.

جانے:- ما ورته او وے ډاکټر صیب لا د کلب نه نه دے راغلے.

کمال:- جانیه تا یه ورته وئیل نه غم خیر. اوس به کلب ته ټیلیفون کوی- او بیا بنکلے ته- ته لا ډوډر آور نے.

جانے:- ویلے مریض ډیر سخت دے ئو.

کمال:- سخت نه دے هاغی سر- داخلق هډو په ځان تکلیف نیږدے نه شی.

جانے:- صیب ډوډه ئې راؤړم.

کمال:- نه ماډوډئی خوړلے ده. خوکوره دا ډیسوں په میز جدا کیده. گنے تر سحره به م څوک څوب ته پریږ نه دی...... څوک دا هډو گنړی نه چه مونږ هم انسانان یو.

جانے:- او صیب.

کمال:- څه نه ورځه او ده شه...... خو کوره چا ته بے وخته دروړے نه کړے.

جانے:- ډیره ښه ده صیب.

## څلورمه ننداره

(هسپتال)

(مامرنے هسپتال کښے ناجوړه پروت دے. جلاتے او ملالئ ورسره ناست دی.)



ملالئ:- نه ورشه کنه بیا هغے ډاکټر پسے. ده حالت کړه خراب دی.

جلاتے:- شل ځله خو ورپسے ورغلم. په ډاکټر پسے نے ټیلیفون کړے دے. دغه دے اوس به راشی.

ملالئ:- دالا څنګه اوس دے ورشه ورته وایه د ماموتی حال ډیر خراب دے.

جلاتے:- نه لا ډوډر آور ئے. هغوئ وائی بیا مړ راځه. وائی دا ځمونږ خپله ډیوټی ده.

ملالئ:- دا څنګه ډیوټی ده. دا دے نیمه شپه شوه. او ډاکټر پته نه لږی.

جلاتے:- مړے دغه ځائے په تلار کښینه او دعا ورته کوه.

ملالئ:- (ملالئ دعا کوی) یا الله ته ځما بچے هیڅ مه کوے. یا الله ته ئے روغ کړے.

## پنځمه ننداره

(ډاکټر یوسف کور)

(دا وړه په شپه ډاکټر یوسف د خپلے ناوے سره خبرے کوی)

یوسف:- نرگس نن څومره د خوشحالئ شپه ده. هغه خوشحالی د کومے خوشحالئ چه مونږ تصور هم نشو کولے. دا ځمونږ

پاکه او صادقه مینه وه. چه نن زمونږ دا ورځ نصیب شوه. خو نرګس ته خبرے ولے نه کوے (خاندی) او.... د واده په شپه ناویانے خبرے نه کوی.... شرمیږی کنه.

(پاسی او د نرګس د مخ نه پلو لرے کول غواړی)

اوهو- دِے چه دا مخ پټ کړے دے (خاندی)

نرګس (د مخ پټ کړی) خاودے نه شی چه مخ در ته ښکاره کړم.

یوسف:- نو آخر ولے؟ (ټوقه) څه- څه- مه ښکاره کوه کنه نه به واﺋے دا هډو چالیدلے نه ده.

نرګس:- اول خوڅان د دنیا په دستور پوهه کړه. هله ځما د مخ نه پلو لرے کوه.

یوسف:- دستور و نه او دواجو نه پوره شوی دی (خاندی) او ته ما په سره ډولۍ کښے کور ته راوړے ځو نور څه واﺋے.؟

نرګس:- هیڅ هم نه...... ما شوم نه یے.

یوسف:- او د ومره خو زه هم پوهیږم چه ماشوم نه یم ځوان ځلے یم خو (خاندی) نبه- نبه- اوس پوهه شوم- هن لاس کړه- دا م دِ د سرو کړی راوړے دی.



(د ټیلی فون ټلۍ غږیږی)

یوسف:- هیلو- هیلو- ډاکټر یوسف خبرے کوم- مهربانی مهربانی- ایمرجنسی وارډ- هن. اِڅه دِ ادوے. بیډ نمبر ۱۰- نبه- نبه- او ډاکټر کمال څه شو؟ هیڅ پته یے نه لږی- عجیبه ده- نبه نو بیا؟ یار تاسو د ومره هم خیال نه کوئ چه نن..... چرته خیر دے؟ بس ټهیک ده. تاسو کاډے راولیږئ- زه به انتظار کوم- او- او زر را اولیږئ.

(ټیلی فون بند دی)

نرګس:- دا څوک وُو-!

یوسف:- د هسپتال ایمرجنسی وارډ نه ټیلی فون وُو.

نرګس:- خیر وو-

یوسف:- د یو مریض سخرآپریشن شوے دے نو اوس یے حال ډیر خراب دے

نرګس:- نبه نو بیا؟

یوسف:- زه یے هسپتال ته غوښتے یم.

نرګس:- و لے ته په چهټۍ نه یے څه؟

یوسف:- څه او کړم نرګس- مریض د ژوند او مرګ په کش مکش کښے دے- او انچارج ډاکټر خدا یے خبر چرته دے.

Scanned with CamScanner

**ميډيکل سپرنټنډنټ:-** (رعب دار آواز) آپريټر بيګا ټوله شپه ستا نمبر ډائيل کړے دے. خو ستا نمبر انګيج وو. زه دا تپوس کولے شوم چه تا د دستې شپه چا سره خبرے کولے.

**کمال:-** سو، ما هم بيګا هسپتال سره د ډير وخت کوشش اوکړو. خو...

**سپرنټنډنټ:-** خو لائن خراب وو. دغه دِ وے کنه. دا بهانه تا خو ځله اوکړه. که لائن خراب وو نو تا ايکسچينج ته رپورټ نه شے کولے. که تا سره واقعي د هسپتال څه فکر وے نو تا سره مرتبه شته. تا به د اوده کيدو نه اول خپل سيرليس مريضان خو يو نظر کتلي وو. ډيوټي نه سپي. د انساني همدردۍ په خاطر.

**کمال:-** (په غصه) سر. زهٔ هم يو انسان يم. ما ته هم د آرام ضرورت دے.

**سپرنټنډنټ:-** نه پوهيږم چه کوم ډاکټر ته به بيا مرګي حال مريض پروت وي. هغه له به ته څرنګ خوب ورشي.

**کمال:-** دا څومره ژوند دے سر. که مونږ دا خبرے دومره سيرليس واخلو نو مونږ نه به ژوند ډير ګران شي.



**نرګس:-** خو اوس خو شپه ده او هسپتال ډير لرے دے.

**يوسف:-** سرکاري ګاډے را روان دے (خاندي) خو ته فکر مه کوه هغوی به ما واپس هم کور ته را رسوي.

**نرګس:-** غم به وے نه کوم څما د سر تاج..... اوس خو ستا غم څما غم دے. او ستا خوشحالي څما خوشحالي ده.

**يوسف:-** څما ستا نه هم دغه طمع وه نرګس. خو ته به څما د حالاتو سره ځان آموخته کوے نرګس. وے چه ته د يو ډاکټر ښځه يې. د هغه ډاکټر څوک چه خپله خوشحالي د بل په خوشحالۍ قربانول عين ثواب ګڼړي.

**نرګس:-** څما خوشحالي ته يې يوسف! څه چه ستا خوښه ئ هغه څما خوښه.

(د هارن آواز راځي)

**يوسف:-** ښه ده موټر راغے زهٔ درځم هسپتال ته. تا. تا...

**نرګس:-** (مسکا) د خدائے په امان.

## شپږمه ننداره

(د ميډيکل سپرنټنډنټ کمره
ميډيکل سپرنټنډنټ په خپل دفتر کښې ناست دے
او ډاکټر کمال ورته مخامخ ولاړ دے)

نرګس:- خو اوس خو شپه ده او هسپتال ډېر لرے دے.

یوسف:- سرکاري ګاډے را روان دے (رخانه دی) خو ته فکر مه کوه هغوئ به ما واپس هم کور ته را رسوي.

نرګس:- غم به ولے نه کوم ځما د سرتاج..... اوس خو ستا غم ځما غم دے. او ستا خوشحالي ځما خوشحالي ده.

یوسف:- ځما ستا نه هم دغه طمع وه نرګس خو ته به ځما د حالاتو سره ځان آموخته کوے نرګس. ولے چه ته دیو ډاکټر ښځه ئې. د هغې ډاکټر څوک چه خپله خوشحالي د بل په خوشحالئ قربانول، عین ثواب ګڼي.

نرګس:- ځما خوشحالي نه ئے یوسف! څه چه ستا خوښه ئ هغه ځما خوښه.

(د هارن آواز راځي)

یوسف:- ښه ده موټر راغے زه ورځم هسپتال ته - ټا - ټا....

نرګس:- (مسکا) د خدائے په امان.

## شپږمه ننداره

(د میډیکل سپرنټنډنټ کمره میډیکل سپرنټنډنټ په خپل دفتر کښے ناست دے او ډاکټر کمال ور ته مخامخ ولاړ دے)



میډیکل سپرنټنډنټ:- (رعب دار آواز) آپریشن بیګا تولیه شپه ستا نمبر ډائیل کړے دے. خو ستا نمبر انګیج وو زه داتپوس کولے شوم چه تا درسته شپه چاسره خبرے کولے.

کمال:- سوړما هم بیګا هسپتال سره د خبرو کوشش اوکړو. خو.....

سپرنټنډنټ:- خو لائن خراب وو. دغه ډیر وړے کنه. دا بهانه تا څو ځله اوکړه. که لائن خراب وو. نو تا ایکسچینج ته رپورټ نه شو کولے. که تا سره واقعي د هسپتال څه فکر وے نو تا سره موټر نشته. تا به د او ده کیدو نه اول خپل سیریس مریضان خو یو نظر کتلي وو. ډیوټي نه سهي. د انساني همدردئ په خاطر.

کمال:- (په غصه) سر. زه هم یو انسان یم. ما ته هم د آرام ضرورت دے.

سپرنټنډنټ:- نه پوهیږم چه کوم ډاکټر ته به بیا مرګي حال مریض پروت وي. هغه له په کښ څرنګ خوب ورتلے.

کمال:- دا ځمونږ ژوند دے سر. که مونږ دا خبرے دومره سیریس واخلو نو مونږ نه به ژوند نیږدل ډیر ګران شي.

سپرنټنډنټ :- (طنزیه خندا) نو چه په ځان دومره مئین وے نو د ډاکټرئ نه علاوه خو نور هم پیشے وے - بله پیشه به دِ اختیار کړے وه -

کمال :- سردا ځما ذاتی معامله ده - دا ځما خوښه وه - دے کښے د چا د مشورے ضرورت نشته -

سپرنټنډنټ :- نه به صیاله د کرم کړه هسپتال نه ځے دا لوئے هسپتال دے د لته ستا غوندے په ځان مئین ډاکټران نه شی چلیدے - او وا ؤ ره ... که ناخیل چال چلن بیا هم ټهیک نه کړو - نو زهٔ به ستا په خراب کیریکټر رول لیکلو مجبور شم - او بیا به دِ هم رپورټ کوم - نو تلے شے -

(کمال ځی)

## اوومه ننداره

(هسپتال)

(ملالئ مریض سره ناسته ده - جلالئ بهرنه راځی -)

ملالئ :- راجلالئ - مخ دِ تور شه دا بکس دِ څه کول - څه لا مړ شه ماموټی له دبازاره ستنے راوړه -



نے :- بره ادے نه لاړو رآوره ئے - کوم نه چه نهول وجود ئے پر هر پرهر دے - سټنے پریده -

ئ :- واه عقل دشمنه ډاکټر ډیلی ډاکټر -

ئے :- ډاکټران هسے زور آور دی ... خو څه نو ... رشتیا ادے ماسره خو پنځه آنے او درے روپئ دی نو اوډیره چه ډاکټر صیب نه نپوس اوکړم چه داستنے به په څو کیږی -

لالئ :- چه په هر څو کیږی - تا له خو به ئے څه کرانے نهٔ درکوی - هن واخله دا راسره پانئ وو - دلسو لوټ

جلالئے :- نو چه په دے سټنے راوړو نو خو روبه څه —— ؟ زهٔ خو چه نه یم - نو په والله که خوب راځی -

ملالئ :- خاورے به اوده شے ډاکټر نه وے چه ویخ یم ورنه ناست ئ -

جلالئے :- نن خو به ډیوټی نه کوے .... مالبن دیاتے کړے دے - نکره باندے څلور ځله وهلی دی - ډیر او کیے وهم -

ملالئ :- نه چرے مونږ نه تنوے خوا وبه ئے نو - (ماموټی کښے هوش راځی - زبیر کی کوی)

ماموټے :- آه - آه - او بیا -

جلالونے:- (خوشحاله شی) اوسے زیرے م درباندے. ماموستر کے اوغوړلے. (ماموتی ته) یاره څنګه ے بیاموتیه
ملالئ:- شابه بیننے ورله دا او نور غلوه خبرے پریږده.
جلالونے:- (ګمله مند) مرے یو دوه خبرو ته خو به دِ ورته پرینږودم. بنه دوه زه ور خم خو که نپوس ے اوکړو نو ورته وایه دکیهه ے اپریشن ے ورله نه دے کړے. هغه ترے کهیر دے.

## اتمه ننداره

(هسپتال)

(ډاکټر یوسف یو بے نرس ته
څه هدایات ورکوی - چه
دے کښے ډاکټر کمال راشی)

یوسف:- هیلو. ډاکټر کمال. هلکه وائی ته ګرم کړه ته ټرانسفر شوے.

کمال:- جی. ستاسو غوندے مهربانانو دعاوه. بدل شوم.
یوسف:- مونږ خو دباندے خدائے شته ته پرخفه یو.

کمال:- ولے نه - چه زه به نه وم. نو ځما کیس ضربه تا اهنول کنه!



...:- تاله خو په دے ځما شکریه ادا کول پکار وو. ته ځما کولیګ نه ئے.
...:- ستا د دوستئ ډیره ډیره شکریه چه نتیجه کښے ئے زه د سزا په طور بدل کړے شوم.
...:- نه نه. ستا خیال غلط دے. تبدیلیانے د سرد سره ترلے خبرے دی. د نن بدل شوے. صبا به بیا رابدل شے.
کمال:- ځما چه ستا غوندے خیر خواه موجود وی نو ځما دلته تبادله ګرانه خبره ده.
یوسف:- عجیبه ده. ستا مریض مرګی حال پروت وو. بل ډاکټر موجود نه وو. ما چهٹی چهٹی ته اونه کتل. بلے خوشحالئ م شاته کړے ستا کیس م انډینه کړو. نوما دا یو او کړل ..... که زه نه وے دا رسید لے نو کید شوه. چه هغه اکسپائر شوے هم وے.
کمال:- جی جی. او تا ے د مرګ نیټه بدله کړه.
یوسف:- مرګ او ژوند د الله لاس کښے دی کمال. د هغه نیټه نه ده پوره. ځکه خو ے ورله ننه را اوږدوله.
کمال:- او د دے انعام کښے دِ په ایم. ایس زه بدل کړم

او ځان دِ دَ ایمرجنسی وارډ انچارج کړو. ځما داخیا
نه دَو- چه ستا غوندے یو نر ښته صورت دا
مطلب پرست هم کیدے شی.

یوسف:- کمال- خوله په واک کړه- داګور ے نه چه داهسپ
دے.

کمال:- شکر او باسه چه هسپتال دے کنبے تا یه کتلی وو
یوسف:- شابسے! چه دومره احترام خو دَ هسپتال پیخ
کمال:- په تلو تلو کنبے به درته یو نصیحت او کړم او ها
داچه دا لالچ بس تا ډیر زر په یو جوړ سمندر لاهو
کړی.

یوسف:- کمالَ- ماچه څه کړی دی دَ انسانی خدمت
په خاطرِم کړی دی. نه دَ څه طمع یا لالچ یا چا نه دَ
نقصان رسولو په خیال.

کمال:- (طنزیه) انسانیت! دَ انسانیت په خاطر.
یوسف:- کمالَ- هرسړی ته دَ ځان په سترګه مه ګوره
زهٔ تا ډیر ښهٔ پیژنم......

کمال:- لا دِ نه یم پیژندلے که وخت راغے نو ځان
به در باندے او پیژنم.

یوسف:- تا لا ځان نه دے پیژندلے نو ما به څه او پیژنے.



زهٔ ځان ښه پیژنم خو ته هم اوس او پیژندے.
ل؛ ماپریده نه ځان او پیژنه. د ډاکټرئ عظیمه پیشه
د بدنامه کړه.
:- او کنه ډاکټر خو هم یو انسان وی.
:- نه هم ځان ته ډاکټر وائے. کوم ډاکټر ته چه
مریض د مرګ په بستره پرتے وی هغه به د کلب ماحول
(Enjoy) انجائے کړے شی؟
ل :- کلب ته هر ځوان نشی تلے. دا ځما ذاتی معامله ده.
سف:- او دا به هم ستا ذاتی معامله ئ چه څه وخت نه
ښکله کنبے مریضان ګورے نو دَ هسپتال ایمرجنسی کیسونه
شا ته کړے ځکه چه هغے کنبے فیسونه نه وی.
څه؟ د هغوئ علاج نه دے پکار؟
کمال:- ولے هغه مریضان نه دی
یوسف:- علاج (خاندی) او علاج پکار دے؟ خو داخبره
کنبے غلط ده چه ته اوپی ډی کنبے مریضان سم ځکه نه
ګورے چه هغوئ به دے مجبور شی چه ستا ښکلے ته
درشی او تا له فیسونه درکړی.
کمال:- دا ځنګه وئیلے شے. ما چا ته دا نه دی وئیلی چه هغوئ
دِ ځما ښکلے ته راشی.
یوسف:- ته هغے کیسونه ته نه یا، ته توجه نه ورکوے کوم کنبے

چه نا ته غت غت سفارشونه شوي دي.؟

**کمال:-** او دا ته لا د کمي فرښته راغلې يې.

**يوسف:-** کمال! چا اکثر الله تعالی دنيا ته د رحمت فرښته رالېږلې ده. خو ستا غوندې فرښته صورت چا اکثر ليدلې نه وي. هر سړی په عذاب دی. سوچ اوکړه لږ فکر اوکړه بيا به ارمان کوې.

**کمال:-** ما ته ستا د نصيحت هيڅ ضرورت نشته.

**يوسف:-** کمال خانه! او دې دپاره د هغې وخت نه کله چې ته دې ملزم په شان د انسانيت په عدالت کښې مخ ته ودرولی شې.

**کمال:-** ښه به داوي چه ما ته د نصيحت په ځای ته خپل ځان کښې د خپلې پېښې د خلقو سره مينه او محبت پيدا کړې. څه غيرت پيدا کړې او د هغې انسانيت نه بدل واخله چا چه ستا د ريم لوم تصاب ايخي دي.

**يوسف:-** او د په او د نه. او يو ورځ به کېږي کمال. ته ځان بدل کړه بيا تماشه کوه چه دنيا تا ته په کومه سترګه ګوري. ستا معاشره کښې څومره د عزت مقام پيدا کېږي.

**کمال:-** دا عزت دې ستا نصيب شي. زه د دغه لار هم په مانا رختې کې



## نهمه ننداره

{ ماموټی بنه شوی دی په خپل کټ کښې ناست دی پښونه ورته جلانۍ ناست دی. }

**جلانۍ:-** ماموټيه شکر دی. چه خدای روغ کړې ما خو ډېر لا زړه شين طوطي شوی.

**ماموټی:-** نېږنه هم نه وه پوره جلانيه. کنې هغه خوزه چخرې کړې ددم.

**جلانۍ:-** رو خبر يې هغه ډو څوک؟

**ماموټی:-** زه ترې څه خبر يم زه خو د مرتب لا نه دې پرېوت ددم. جلانيه تا پېژندلی دی څه.

**جلانۍ:-** چه کوم مرتب ته چقولې هغه ډېر لوټه اګلی دی. هغه نا له چې يې اپرېشن کړی دی.

**ماموټی:-** ښه!

**جلانۍ:-** خفه کېږه مه مونږ په تهانړه کښې رپورټ کړی دی. پته به ورته او لږ ي.

**ماموټی:-** دا خو نا سو ښه نه دی کړی. که خبر شو نو....

ماموتې :- نو ته څۀ وائې به اپریشنه به دِ پرېږدی څۀ ؟

جلاتې :- دا سې مه وا یه ماموتیه. فرښتې به پرې آمین اوکړی.

ماموتې :- نو بیا څله ناست یې پاسه د تلو تیاری کوه زمونږ پښو کښې بېړۍ او لاسو کښې څه هتکړۍ نو ند ی پراتې.

جلاتې :- ستا خو بنه نو- ( دواړه پاسی )

## لسمه ننداره

ملالۍ هسپتال کښې خپل کوټې
ماموتې کورې ته خو څه پته یې او نه لګی

ملالۍ :- ( نا پېژ ندګلو کښې ) یا بچیه یا رورره دغه خوا هغه ماموتې او جلاتې چرته نه وو-

شمروز :- هغوئ پسې خو ځما هم دا دېرم ځل دے چه راځم درپسې خو خدا ئې خبر چه څه شول-

ملالۍ :- نو چرته لاړل چا ته یې سوال جواب هم نه دے پرېښې.

شمروز :- نو رور ے دواړه بنه شهزادګان دی څه وابه مه-

ملالۍ :- هغې جلاتی تنکی مړې به لسولے وی ګټنې ځما بچې خو دا سې نه دے.



جلاتې :- هغه خبر دے مړه -؟ نو خبر دِ شی کښته څه به او کړی-؟

ماموتې :- ( ژړغونې ) نور به څه او کړی خوا پریشن به راله اوکړی نو- هغه دکیده ے اپریشن.

جلاتې :- مړه څه دینګه دینګه دِ جوړ کړل- هغه کرم کړه ته به ل شرے دے-

ماموتې :- اوکه چا ته یې په ټیلی فون سوال جواب اوکړ چه د ماموتی د کیده ے اپریشن پاتې دے نو بیا-؟

جلاتې :- او دا خبره هم دِ زړه اخلی-

ماموتې :- جلاتیه د دے هسپتال نه به کله او ځوهن-

جلاتې :- زمونږ پکښې په خپله زړه سخا شو- خو چرته او تختو

ماموتې :- اد ے کلی ته تلے ده- ویلے پیسے به را ورم- هغه هم را نغله-

جلاتې :- او دلته مونږ سره خرچه په ختمید و ده- خدا ئې خبر چه رخصت به لا کله را کوی-

ماموتې :- خلق رائی او رخصتیګی او زمونږ هدو تپوس نشته وائی صبر اوکه- پرهرونه دِ لا سم نۀ دی ورغلی- زۀ خو ویم په د ے چل را ته چرے چاقوات نیره کئی-

جلاتې :- ځما کیده ه هم بیګا بیا خوکیده ه-

Scanned with CamScanner

شهروز:- نه يو الرخ نه کښينه زه در پسې يو چکر لګوم که پته مې
او لګېده نو ښه په ښه ګنډې خپله څه به کوو.
ملالۍ:- نو ګڼې شم بچې. هله تعدي کوه.

## يو لسمه ننداره

(ماموټې او جلاټې په لاره روان
دي سامان ورسره دے.)

جلاټې:- لا چاق شه مړه اوس نو د خيرې نيه سے.
ماموټې:- لږ کښينه مړه چه د مه شو زه خو دې په منډه منډه مړه
کړم.
جلاټې:- ستا د غمه خو په منډه يم که ته انګټر خبر شو. چه
ماموټې تختيدلے دے نو بيا مو خير نشته.
ماموټې:- اوس پته نه که خير غواړې نو که هر څه کوې زه خو
اوبه شوې يم. نور قدم هم نه شم اخستے. يا دا دے
کيناستم. (کښيني)
جلاټې:- مړه لږ نور نا کام او کړه د غه ځاے وړاندې که
د چائيو يا د ډوډۍ هوټل وو. نو يو دولس آنے راسره
پاتې دي موږ به ډې کړم.
ماموټې:- زه دا دے کيناستم او ته څه کړه څه هوټل نو پسے.



جلاټې:- يره خو ماموټيه يار نو.... (ځان سره) هر تل خوم دلته
يقين نه کيږي نورې بنګلې بنګلې دي. خبره د چا بنګلې
نه به ور اوديږو. آخر مسلماني ده. (ماموټي ته) ماموټيه
چه پاڼسے. زه د دغې بنګلې ور ته بوم قسمت مو خپل دے.
ماموټې:- (د لوے ته) هلکه جلاټيه. مالا به ترې پرهيزا نه
غواړې. لا پالم کوزے نه دے مات کړے.
جلاټې:- (خاندي) نه لا نور آورے. خير هم غواړے
او پاکيزه ئې هم غواړے.
(دوه ته بيږي)
ماموټې:- (د لرے نه) هلکه ځان ساته. کوره دے بنګلو
کښې سپي هم وي.
ډاکټر يوسف:- څوک ئې هلکه.
جلاټې:- خپل يو نا بلد ورخو لرے کړه کنه.
يوسف:- څوک خپل؟ (رو لرے کوي) خبر خو دے.
جلاټې:- نابلده مسافريو. خو په ګيډه نهريو. که مارهٔ
د کړو نو دعا به درته کوو.
يوسف:- هلکه ته! ته هغه ايمرجنسي وارډ کښې د لسم نمبر مريض
سره نه وې.
جلاټې:- (نو ګرا) آئ نه خدا ئے درسره په نيکه مل شه. هغه

هم دا سره دے هغه له به پرهیز نه ... م ... خو نه ..... نه ... نه هغه ډاکټر صیب خو نه سے۔

**یوسف:** دا مریض دِ چرته لا روان کړے دے۔

**جلاتے:** دے هسپتال کښې لګ تنګ شوے وو ویل لږ بے پښے آزادوم۔

**یوسف:** په مریض دِ درے میله لارا او وهله۔ کمبخته لا۔

**جلاتے:** یره ډاکټر صیب په ګپ شپ لا روان وو په لاره هدو پوهه نه شو۔

**یوسف:** تاسو خوځان سره تموله کړه هم راخستے ده۔ تاسو چاجائن کړئ۔

**جلاتے:** چالمسولی نه یوُو۔ ډاکټر صیب۔

**یوسف:** لمسول نه یادوم هسے ویم چه چارج رخصت کړئ۔

**ماموتے:** (لږ لږے نه) صیب دے هسے ساده دے هسپتال کښې لږ تنګ شوی وو۔ نو مونږ ویل یوه شپه به بهر تیره کړو۔

**یوسف:** نه تاسو بیماری کښې هم مزے اخلئ۔ عجیبه خلق ئی۔

**جلاتے:** نو صیب که نه خفه کیږے نو بیا به لاړ شو کنه۔ (ځان سره) مونږ خه خبر وو چه دا ښکله ستا ده۔

**یوسف:** نه اوس به لاړ په دے شپه بیا واپس ځئ۔ دیر



ساده کان را نه ښکاره شوئ۔ صبر او کړئ چه بیټهک درته لرے کړم۔

**جلاتے:** ماموتیه۔ بیزه د نصاب د کوره پتیده د نصاب کره ئے تسپه شوه۔

**ماموتے:** جلاتیه زه خو ویم دا د ډاکټر به نیبادمو کښې فرښته ده۔

**جلاتے:** هسے متل م درته کولو۔ دده په شان د ډاکټران به لا اوس پیدا کیږی۔

**یوسف:** (ورلرے کوی) لاځئ میلمنو۔

**جلاتے:** زا پاسه ماموتیه۔ لاځه اوس به نبه دمه شے۔

## دُولسمه ننداره

{ډاکټر کمال خیل کور کښې خطرناک خوب وینی۔}

**کمال:** (فریاد کوی لکه چه ناجوړه وی) اوں ..... اوں ..... ولې خدایا مړ شوم۔ ولې ټول وجود م مات کړه دے ..... ولې۔ ولې۔ هغه سر م خه شو۔ ولې خدایه ټول نړوتے دے۔ پرلاس م هم نشته۔ دا به خه کیږی .... خلق را نه ولاړ دی۔ ټول دنیا م په نمارشه ده۔

......هن! دا خو خلق نه دے دا خو د انګلستان دی....
سپین سپین کوټونه ئے اچولی دی وهائی درځی خو ځما
په تماشه دی۔ څوک را نزدے کیږی نه۔ د خدائے
د پاره۔ (په چغه) د خدائے د پاره ما هسپتال ته
بوځئ۔ ځما اپریشن اوکړئ۔ زما اپریشن اوکړئ چه
زه جوړ شم۔ ځما داړه واړه بچی دی۔ ځما بنځه۔ ځما
بوډئ مور۔ ځما خپلوان څه شول۔ هیڅوک نشته۔ دا
څه اوشو۔

د انګلترانو۔ ځما ورورنو۔ د خدائے د پاره راشئ
زه هم ستا سو ورور یم زه هم یو د انګلتر یم۔ ځما علاج
اوکړئ۔ هوں.. هوں... شکر دے یو د انګلترخو
ځما طرف ته را روان دے۔ دا څوک دے......هوں
دا خو ډاکټر یوسف دے۔ یوسف! ځما ورور! دا تا ولے
دا سے سترګے بدلے کړے۔ راشه۔ راشه د خدائے
د پاره ځما علاج اوکړه۔

**یوسف**:۔ (رضاندی)

**کمال**:۔ هوګ ـ تا خو اوخندل۔ انصاف داره ته هم دا سے
بدل شوے۔ ته خو داسے نه وے۔ راشه۔ هله راشه ما
هسپتال ته اورسوه۔ ځما اپریشن اوکړه۔



**یوسف**:۔ ستا اپریشن! زه ستا اپریشن اوکړم (رضاندی) کمال! ستا
مثال د یو لړم دے۔ او د لړم علاج د بنی نوع انسان سره
ریانے دے۔

**کمال**:۔ دا ډیره اوږدے یوسف۔ ته هم په ما داګمان کوے
ستا هغه اپریشنو نه هیر شول چه ما او تا به
په یو ځائے کول۔

**یوسف**:۔ هغه تا خپله د ترقی کوله۔ د هغے په عوض کښے
حکومت تا ته غټے غټے تنخواه ګانے درکولے۔ تا چرے
هم مریض ته د انسان په سترګه نه دی کتلی۔

**کمال**:۔ ته رشتیا وائے یوسف! ته رشتیا وائے۔ زه د دولت
درجے او پیشے په نشه داسے مست ووم۔ چه ما چرے
هم انسان ته د انسان په سترګه نه دی کتلی۔ زه په
خپلو کړو سنو ما نه یم۔ زه ملامته یم۔ راشه د خدائے
د پاره راشه۔ ځما ټول دولت ستا شو خو زما علاج
اوکړه۔

**یوسف**:۔ ځما ستا دولت نه دے پکار۔ ستا علاج نشم کولے۔
چه ما به درته نصیحت کولو۔ نو تا به ما پورے خندا
کوله۔ تا به ما پورے پچوزے کولے۔ اوس ګهیږه۔
اوس ژړیږه۔ اوس ستا وخت تیر دے (رضاندی)

کمال:- (په چغه) یوسف. یوسف. یوسف - ځه دوره. یوسف! د
خدائے د پاره راشه - د خدائے د پاره. د خدائے
د پاره.

(پاسی ویخیږی)

هن! دا خوب وُو - دا خوب وُو - شکر دے خدایه چه
دا خوب وُو - نو به خدایه - پما خو د مرګ سخته تیره شوه.

جانے:- (راځی) صیب داخط اردلی د دفتر نه راؤړے دے.

کمال:- راکړه نه.... (لفافه شلوی) داخو مخے هفتے له پیشی ده.

جانے:- بیهر نه به ځی جی.

کمال:- او جانیه پیشی ده.

جانے:- زهٔ به هم درسره لاړ شم جی - ځما د ننه ډیره ډیر
تنګ شوے دے.

کمال:- چه زهٔ را اوګرځم نو بیا به ته لاړ شے.

جانے:- ډیره ښه ده جی.

## دیارلسمه ننداره

(د ډاکټر یوسف کور)

یوسف:- چائے مو اوڅښله.

جلاتے:- او ناپکه خدائے دِ خیرات قبول کړه.



ماموتے:- ښه ما پوهٔ شو ډاکټر صیب.

یوسف:- تاسو سره چه خرچه ختمه شوے ده نو ما ته
به مو ویلی وو کنه.

ماموتے:- ډاکټر صیب مونږ هم د موں په طمع وو - خو راتله
لا غوابه ځے نه دوی خرڅه کړی نو.

جلاتے:- ډاکټر صیب اوس خو ماله چرته نوکری اوګوره ګنی
د ماموتی علاج به را ته ګران شی.

یوسف:- د څهٔ نوکری؟

جلاتے:- هر څه چه دی خو بے خرڅه یو.

یوسف:- نوکری څه کوے سړے خو څه ډیلږی ما ته وایه.

جلاتے:- نه ډاکټر صیب - داسے هم نه ده خو ښه.

یوسف:- نو بیا ځنګه دِ خو ښه ده.

جلاتے:- چرته هم نوکر کړه.

یوسف:- (رضاندی) ښا ښا نوکری کوے.

جلاتے:- ډاکټر صیب ستا نه څه پړده نو دے بے پړدے کیږو.

یوسف:- ښه ګوره ما ته خو هسے هم د یو سړی ضرورت
دے. داځائے دِ خو ښ دے.

جلاتے:- واه ډاکټر صیب د دے ځایه به لا ښکوم ښه وی.

یوسف:- ښه ده زهٔ کیږے بدلوم نو بیا ځو هسپتال ته.

Scanned with CamScanner

**جلانۍ:**۔ ډيره ښه ده۔

**ماموټې:**۔ (ښا ذړه) ډيره ښه ده نو۔

## ځوان لسمه ننداره

(دَ ډاکټر يوسف کور)

**يوسف:**۔ که تا ته دَ خپلې غلطۍ احساس دی او په خپلو کړو ملامته يې نو ځما سره نه هيڅ ګله نشته۔

**کمال:**۔ دَ خپلې غلطۍ احساس خو ستا ښکلې له را دستې يم زهٔ درته ډير شرمنده يم ما به معاف کړې۔

**يوسف:**۔ ته ډير خوش قسمت يې کمال خانَ۔ نن صبا څوک چرته خپله غلطي مني۔ هر سړے وائي زهٔ سم يم۔ خو په دې م پوهه کړه چه تا کښې دا دومره غټ چينج څنګه راغے۔

**کمال:**۔ انسان دَ حالاتو غلام دے۔ يوسفَ دَ ښهرونو مصروف جوند زهٔ هدو وړے ته پريخودم نه۔ چه دا سوچ او کړم چه زهٔ هم يو انسان يم۔ کوم تکليف چه ځما په مريض تيريږي کوم خفګان او ناقلار ے چه د مريض په خپلو تو تيريږي دا په ماهم راتلے شي۔ زهٔ هم ناجوړه کيدے شم۔ ځما په غم کښې ځما خپلوان هم دا سے ناتهکاوه کيدے شي لکه څرنګ چه ځما مريضان دي۔ خو دکرم کړه په پر سکون فضا

کمَا

جلانې۔
منقد ے
**ماموټې:**۔ بالکل۔
**يوسف:**۔ کمال خانَ
ذړهٔ دی۔ کوم
په تادَ غرهو مرد
**کمال:**۔ اوَ يوسفَ۔

Scanned with CamScanner

# کډه په سر



سیّد خالقداد امیدؔ ایم اے

Scanned with CamScanner